# د حضرت حزقی‌ایل نبی کِتاب ـ ماخذ انبیاء

## د خُدائ پاک د طرف نه د حزقی‌ایل دپاره ورومبۍ رویا

١ ١ په دېرشم کال د څلورمې مياشتې په پينځمه ورځ،
کله چې زۀ حزقی‌ایل د جلاوطنو سره د کبار د سيند په غاړه
ولاړ وم، نو ما آسمان کولاو وليدو او خُدائ پاک ما ته
روياګانې وښودلې. ٢ د مياشتې په پينځم تاريخ دا د
يهوياکين بادشاه د جلاوطنۍ پينځم کال وو. ٣ د مالِک
خُدائ کلام په حزقی‌ایل اِمام، د بوزی په زوئ باندې د کبار د
سيند په غاړه د بابل په مُلک کښې نازل شو او د مالِک خُدائ
لاس په هغۀ وو. ٤ کله چې ما بره وکتل، نو ما يو لوئ
طوفان د شمال د خوا نه په راتلو وليدلو چې لويه وريځ ترې
مخکښې وه چې د برېښنا پړقېدل او ګېرچاپېره ترې نه تېزه
رڼا خوره وه. د وريځو په مينځ کښې اور وو او د اور په مينځ
کښې يو د پيتلو په شان خيز ځلېدلو. ٥ او د وريځو د مينځ
نه څلور ژوندی مخلوقات راووتل چې په ليدو کښې د انسان
په شان ښکارېدل، ٦ خو د هغوئ هر يو څلور مخونه او
څلور وزرونه وُو. ٧ د هغوئ پښې نېغې وې، او په پښو
کښې يې لکه د سخی په شان نوکونه وُو او هغه لکه د پالش
شوی پيتلو په شان ځلېدل. ٨ او د هغوئ د څلورو وزرونو
لاندې څلورو طرفونو ته د انسان په شان لاسونه وُو او د هر

يو مخلوق څلور مخونه او څلور وزرونه وُو، ﴿۹﴾ او د هغوئ
وزرونه د يو بل سره لګېدلی وُو. او هر يو نېغ روان شو، نو د
تلو په وخت کښې به تاوېدل راتاوېدل نه. ﴿۱۰﴾ د هر يو څلور
مخونه وُو چې په مخامخ د هر يو شکل د انسان وو، او په ښي
طرف هغوئ د زمری په شکل وو، ګس طرف ته يې د غوائی
شکل وو، او شاته لکه د باز په شان وو. ﴿۱۱﴾ د هر يو مخلوق
وزرې بره طرف ته خورې وې، د هر يو دوه وزرې ګس او
ښی طرف ته د نور مخلوق وزرو سره لګېدلې وې او په نورو
دوو وزرو يې خپل بدن پټ کړے وو. ﴿۱۲﴾ هر يو نېغ مخکښې
لاړو، کومې خوا ته چې به د روح خوښه وه نو هغې خوا ته به
بغېر د راتاوېدلو نه نېغ تلل. ﴿۱۳﴾ دا ژوندے مخلوق داسې
ښکارېدو لکه چې بَل سکارۀ يا د اور مشعلونه د هغوئ دننه
بل شوی وی. دا اور د هغه مخلوق په مينځ کښې وړاندې
وروستو کېدو، او دا ځلېدونکی وُو، او شُغلې به ترې نه
راختلې. ﴿۱۴﴾ هغه مخلوق به لکه د برېښنا د پړق په شان په
منډه وړاندې او وروستو کېدلو. ﴿۱۵﴾ کله چې ما دې ژوندی
مخلوق ته وکتل، نو ما د هغوئ هر يو سره په زمکه باندې يوه
پايه لګېدلې وليدله. ﴿۱۶﴾ د هغه پايو شکل او ښکاره کېدل څۀ
داسې وو، هغه لکه د ايکوامرين کاڼو په شان ځلېدلې، او
څلور واړه پايې يو شان ښکارېدلې، او داسې جوړې شوې
وې چې په هره پايه کښې يوه بله پايه دننه بل خوا ته تاوېدله.
﴿۱۷﴾ کله چې به هغوئ تلل نو دې ژوندی مخلوق به په څلورو
اړخونو کښې چې کوم طرف ته هم مخه کړه نو هغې خوا ته
به بغېر د مخ اړولو نه تللے شُو. ﴿۱۸﴾ د څلور واړو پايو
ريمونه لوړ او يرووونکی وُو، او په هغه څلورو واړو ريمونو
باندې ګېرچاپېره سترګې وې. ﴿۱۹﴾ کله به چې دا مخلوق

ګرځېدل نو دا پایي به هم ورسره ګرځېدلې، او کله به چې دا مخلوق د زمکې نه راپاڅېدل نو دا پایې به هم ورسره اوچتې شوې. ⁽٢٠⁾ چرته به چې روح تللو نو هغوئ به هم هلته تلل، دا پایې به هم ورسره راوچتېدلې، ځکه چې د ژوندی مخلوق روح په هغه پایو کښې وو. ⁽٢١⁾ نو کله چې به دا مخلوق روان شو نو دا پایې به هم رواني شوې، کله به چې دا مخلوق ودرېدو نو پایې به هم ودرېدې، کله به چې دا مخلوق بره الوتلو نو دا پایې به ورسره تلې، ځکه چې د دې ژوندی مخلوق روح په پایو کښې وو. ⁽٢٢⁾ د دې مخلوق د سر دپاسه داسې ګنبد خور شوے وو چې د صفا او روښانه بلور کاڼی په شان ځلېدو او ډېر حېرانونکے وو. ⁽٢٣⁾ د هغه ګنبد د لاندې هغوئ به خپلې وزرې غوړولې او وزرې به یې یو بل پورې غزولې، او هر یو به په خپلو نورو دوو وزرو خپل بدن پټولو. ⁽٢٤⁾ کله چې دا مخلوق روانېدلو، نو ما د هغوئ د وزرونو آواز واورېدو لکه د تېزو اوبو د شور په شان، لکه د قادر خُدائ د آواز په شان، لکه د فوجیانو شور. او کله چې هغوئ ودرېدل نو وزرونه یې ښکته کړل. ⁽٢٥⁾ نو بیا د ګنبد دپاسه د هغوئ په سر یو آواز راغلو. کله چې هغوئ ودرېدل نو وزرونه یې ښکته کړل. ⁽٢٦⁾ د هغوئ د سرونو دپاسه په ګنبد باندې د نیلم کاڼی د تخت په شان یو څیز ښکارېدو، او د هغه تخت دپاسه د انسان په شان یو شکل او صورت ښکارېدو. ⁽٢٧⁾ دا کوم شکل چې ښکارېدو د ملا نه بره لکه ګرم شوې اوسپنې په شان چې د اور نه ډکه وی، او ملا نه لاندې لکه د اور په شان ښکارېدو، او ګېرچاپېره ترې صفا رڼا وه. ⁽٢٨⁾ لکه څنګه چې په باران کښې د بوډۍ ټال په وریځ کښې په مختلفو رنګونو کښې وی دغه شان رڼاګانې د هغۀ نه هم راوچتېدلې. نو دا

منظر د مالِک خُدائ د جلال په شان ښکاره کېدلو. کله چې
ما دا هر څۀ ولیدل، نو زۀ په زمکه پړمخې پرېوتلم او ما یو
آواز واورېدو چې ما ته یې خبرې وکړې.

## حزقی‌ایل ته د پېغمبرئ دعوت

۲ ۱ هغۀ ما ته وفرمائیل چې، "اے بنی آدمه پاڅه په خپلو
پښو ودرېږه، زۀ تا سره خبرې کول غواړم." ۲ کله چې
هغۀ ما ته خبرې کولې، د خُدائ پاک روح په ما کښې راننوتو
او زۀ یې په خپلو پښو ودرولم، نو ما د هغۀ خبرې واورېدلې
چې ما ته یې کولې. ۳ هغۀ ما ته وفرمائیل، "اے بنی آدمه،
زۀ تا بنی اِسرائیلو له لېږم، یو سرکشه قوم له چا چې زما
خلاف سرکشی کړې ده. د اول نه تر نن ورځې پورې دوئ په
خپله او د دوئ پلار نیکۀ زما نافرمانی کړې ده. ۴ کومو
خلقو ته چې زۀ تا استوم هغوئ ضدیان او سخت طبیعته
دی. هغوئ ته ووایه چې مالِک قادر مطلق خُدائ داسې
فرمائی. ۵ کۀ دا سرکشه قوم ستا خبرو ته غوږ نیسی او
کۀ نۀ نیسی خو په دې به پوهه وی چې زمونږ په مینځ کښې
یو پېغمبر موجود دے. ۶ خو تۀ، اے بنی آدمه، د هغوئ نه
او د هغوئ د خبرو نه مۀ یرېږه. کۀ د هغوئ دهمکی تا د ازغو
او یا د لړمانو په شان راګېر هم کړی. مۀ د هغوئ خبرو نه
یرېږه، مۀ د هغوئ د نیغو کتلو نه یرېږه، ځکه چې دا قوم
سرکشه دے. ۷ تۀ زما کلام هغوئ ته ووایه، کۀ هغوئ
ورته غوږ نیسی او کۀ نۀ نیسی، ځکه چې هغوئ بلکل سرکشه
دی. ۸ خو تۀ، اے بنی آدمه، هغه څۀ ته غوږ ونیسه څۀ
چې زۀ تا ته وایم. د دغه سرکشه قوم په شان مۀ جوړېږه، تۀ

دې خپله خولهٔ کولاو کړه او هر هغه څهٔ وخوره څهٔ چې زهٔ
درکوم.“ ۹ نو ما بيا وليدل چې يو لاس زما طرف ته
راغزېدلے دے او د هغهٔ سره يو طومار وو. ۱۰ کوم طومار
چې هغهٔ زما په وړاندې کولاو کړو، د هغې په دواړو خواو
کښې د ماتم، غم او افسوس خبرې ليکلې وې.

۳ ۱ او هغهٔ ما ته وفرمائيل، ”اے بنى آدمه، دا څهٔ چې
ستا په وړاندې دى دا وخوره، دا طومار وخوره، نو بيا لاړ
شه او بنى اِسرائيلو ته يې بيان کړه.“ ۲ نو بيا ما خپله
خولهٔ کولاو کړه او هغهٔ ما له هغه طومار راکړو چې وې
خورم. ۳ نو بيا هغهٔ ما ته وفرمائيل چې، ”اے بنى آدمه، زهٔ
چې کوم طومار تا له درکوم دا وخوره او خپله خېټه پرې
مړه کړه.“ نو بيا ما هغه وخوړو، او هغې زما په خولهٔ کښې
لکه د شاتو په شان خوږ خوند کولو. ۴ نو بيا هغهٔ ما ته
وفرمائيل، ”اے بنى آدمه، اوس بنى اِسرائيلو له ورشه او زما
کلام هغوئ ته واوروه. ۵ زهٔ تا داسې خلقو ته نهٔ استوم
چې د هغوئ ژبه ستا دپاره نا آشنا او سخته وى خو تا زهٔ بنى
اِسرائيلو ته استوم. ۶ زهٔ تا هغه ډېرو خلقو ته نهٔ استوم چې
د چا په ژبه به پوهېدل تا ته ګران وى او د هغې الفاظ به
مختلف وى او تهٔ به پرې نهٔ پوهېږې. خو کهٔ چرې تهٔ ما
هغوئ ته لېږلے وے، نو هغوئ به بيا تا ته غوږ نيولے وے.
۷ خو د بنى اِسرائيلو قوم نهٔ غواړى چې تا ته غوږ ونيسى
ځکه چې هغوئ نهٔ غواړى چې ما ته غوږ ونيسى، ځکه د بنى
اِسرائيلو ټول قوم ضدى او په زړهٔ سخت دے. ۸ خو
ګوره، زهٔ به تا هم د هغوئ په شان ضدى او په زړهٔ سخت
کړم لکه څنګه چې هغوئ دى. ۹ او زهٔ به ستا تندے لکه د

سخت او کلک ګټ په شان کړم، او د هيرې نه به يې هم سخت کړم. تهٔ د هغوئ نه مهٔ يرېږه او مهٔ ترې نه په دهشت کښې پرېوځه کهٔ څهٔ هم چې دا قوم سرکشه دے." ۱۰ او هغهٔ راته وفرمائيل چې، "اے بنی آدمه، ما ته غوږ ونيسه ټول کلام چې زهٔ درته وايم هغه په غور سره واوره او په خپل زړهٔ کښې يې واچوه. ۱۱ نو اوس د خپل قوم خلقو له ورشه څوک چې جلاوطن شوی دی او هغوئ سره خبرې وکړه. هغوئ ته ووايه، مالِک قادر مطلق خُدائ داسې فرمائی، دا چې هغوئ ستا خبرو ته غوږ نيسی او کهٔ نه." ۱۲ نو بيا د خُدائ پاک روح زهٔ اوچت کړم او ما شاته يو دروند آواز واورېدو چې فرمائيل يې، "د مالِک خُدائ ثناء صِفت او جلال دې د هغهٔ په ځائ کښې وی." ۱۳ دا د هغه ژوندی مخلوق د وزرو آوازونه او شور وو چې يو بل سره لګېدل او په خوا کښې يې د هغه پايو آوازونه هم وُو، يو اوچت او دروند شور وو. ۱۴ نو بيا زهٔ روح اوچت کړم او د هغه ځائ نه يې ځان سره بوتلم، زهٔ ورسره په تريخ مزاج او غصې سره لاړم، خو د مالِک خُدائ زورَور لاس په ما باندې وو. ۱۵ نو زهٔ هغه جلاوطنو له راغلم څوک چې په تل ابيب کښې د کبار سيند سره نزدې اوسېدل. زهٔ د هغوئ په مينځ کښې د اوو ورځو دپاره چپ کښېناستم.

## د بنی اِسرائيلو دپاره د مالِک خُدائ حزقی‌ايل محافظ مقررول

۱۶ د هغه اووهٔ ورځو په آخر کښې د مالِک خُدائ کلام په ما نازل شو، ۱۷ او راته يې وفرمائيل چې، "اے بنی آدمه، ما

تهٔ د بنی اِسرائیلو دپاره محافظ مقرر کړې، نو هغه کلام واوره
کوم چې زهٔ تا ته وایم او زما د خوا نه هغوئ ته خبردارے
ورکړه. ١٨ کهٔ چرې زهٔ یو بدکاره انسان له خبردارے
ورکړم چې تهٔ به یقین سره مړ شې، او تهٔ هغه د دې نه خبر نهٔ
کړې او یا ورسره خبرې ونهٔ کړې او یا یې د خپلو غلطو لارو
نه منع نهٔ کړې ترڅو چې د هغهٔ ژوند بچ کړې، نو دغه بدکاره
به د خپلو ګناهونو په وجه مړ شی، خو تهٔ به د هغهٔ د مرګ
ذمه وار یې. ١٩ کهٔ تهٔ یو بدکاره انسان له خبردارے ورکړې
او هغه د خپل شرارت او خرابو لارو نه منع نهٔ شی هغه به د
خپلو ګناهونو په وجه مړ شی، خو تهٔ به خپل ځان بچ کړې.
٢٠ او بیا دا هم کهٔ چرې یو صادق انسان د خپلو ښو لارو
نه واوړی او بد چال چلن شروع کړی، نو زهٔ به هغه په
امتحان کښې واچوم او هغه به مړ شی. ځکه چې تا هغهٔ له
خبردارے نهٔ دے ورکړے نو هغه به د خپلو ګناهونو په وجه
مړ شی او کوم د صداقت کارونه چې هغهٔ کړی دی نو هغه به
ورته پاتې نهٔ شی، او د هغهٔ خون به ستا په غاړه وی. ٢١ خو
کهٔ تهٔ صادق انسان ته خبردارے ورکړې چې ګناه مهٔ کوه او
هغه ستا خبره ومنی او ګناه کول پرېږدی، نو هغه به په یقین
سره ژوندے پاتې شی ځکه چې هغهٔ ستا خبردارے قبول کړو
او تا په دې خپل ژوند بچ کړو.“

## د حزقی‌ایل خاموشه کېدل

٢٢ نو بیا د مالِک خُدائ لاس په ما وو او هغهٔ ما ته
وفرمائیل چې، ”پاڅه او وادۍ ته لاړ شه، او زهٔ به هلته تا سره
خبرې وکړم.“ ٢٣ نو زهٔ بیا پاڅېدم او مېدان ته لاړم. او د
مالِک خُدائ جلال هلته ولاړ وو، هغه شان لکه کوم جلال

چې ما د کبار د سيند سره ليدلے وو نو زۀ په زمکه پړمخې
پريوتلم. ۲۴ خو د مالِک خُدائ روح ما له راغے او زۀ يې په
خپلو پښو ودرولم. هغۀ ما سره خبرې وکړې او وې فرمائيل
چې، ”لاړ شه او خپل ځان دې په خپل کور کښې بند کړه.
۲۵ او اے بنی آدمه، تۀ به په پړو باندې وتړلے شې، تۀ به بند
کړے شې د دې دپاره چې تۀ بهر د خلقو مينځ ته ونۀ وځې.
۲۶ زۀ به ستا ژبه تالو پورې ونښلوم چې تۀ خاموشه پاتې
شې او هغوئ ونۀ رټلے شی ځکه چې هغوئ سرکشه قوم
دے. ۲۷ خو کله چې زۀ تا سره خبرې وکړم، زۀ به ستا
خولۀ کولاو کړم نو تۀ به هغوئ ته دا ووائې چې، مالِک قادر
مطلق خُدائ داسې فرمائی. هر څوک چې اورېدل غواړی
هغوئ دې واوری او چې څوک اورېدل نۀ غواړی نو نۀ دې
اوری، ځکه چې دا يو سرکشه قوم دے.“

## د حزقی‌ايل د يروشلم د محاصرې نقشه جوړول

۴ ۱ ”نو اوس، اے بنی آدمه، يوه کچه ښخته راواخله، او
په خپل مخکښې يې کېږده او پرې د يروشلم د ښار نقشه جوړ
کړه. ۲ نو بيا د ښار محاصره کېدل په کښې جوړ کړه،
ګېرچاپېره ترې نه دېوال جوړ کړه چې يو کس ترې نه نۀ شی
تښتېدلے. د دشمن د فوجيانو کېمپ جوړ کړه او دېوال ته د
خاورو ډېری او د قلعې د ماتولو مشينونه تيار کړه. ۳ بيا د
اوسپنې يو ځادر راواخله، دا ستا او د ښار په مينځ کښې د
اوسپنې دېوال په شان ولګوه او خپل مخ د ښار طرف ته
راوګرځوه. دا به د محاصرې لاندې وی، او تۀ به دا ښار
محاصره کوې. دا به د بنی اِسرائيلو دپاره يوه نښه وی. ۴

نو بیا په ګس اړخ څمله او د بنی اِسرائیلو ګناهونه په خپل
ځان باندې انبار کړه. نو څومره ورځې چې هغوئ ګناه کړې
وی د هم هغه ورځو په اندازه په یو اړخ باندې څمله. ٥ نو
ما بیا ته د هم هغه ورځو په اندازه د سزا تېرولو دپاره مقرر
کړې څومره کالونه چې هغوئ ګناه کړې ده. نو ته به لس کم
څلور سوه ورځو پورې د بنی اِسرائیلو د ګناهونو سزا زغمې.
٦ د دې سزا تېرولو نه وروستو بیا دوباره په ښی اړخ د
یهوداه د ګناهونو د سزا تېرولو دپاره څمله. نو ما ته د
څلوېښتو ورځو دپاره مقرر کړې، د یو کال دپاره مې یوه ورځ
مقرر کړه. ٧ نو بیا خپل مخ د یروشلم د محاصرې طرف
ته راوګرځوه او په بربنډو لاسونو د هغې خلاف پېشګوئې
وکړه. ٨ زۀ به تا په پړو وتړم نو ته به د یو اړخ نه بل اړخ ته
نۀ شې اوړېدلے ترڅو چې تا خپلې د محاصرې ورځې پوره
کړې نۀ وی. ٩ غنم او اوربشې، لوبیا او دال، غوښت او
جمدر واخله. او هغه په چاټۍ کښې واچوه او ځان دپاره ترې
نه روټۍ جوړوه. دا چې ته د لس کم څلورو سوو ورځو دپاره
په یو اړخ پروت یې نو په دې دوران کښې د خوراک دپاره
استعمالوه. ١٠-١١ تا ته په ورځ کښې صرف د یو پاؤ روټۍ
خوړلو او د دوو ګلاسو اوبو څښلو اجازت شته. دا څیزونه
په احتیاط په ناپ او په مقرر وخت سره خوړلے او څښلے
شې. ١٢ ته دا روټۍ لکه د اوربشو د روټۍ په شان پخوه.
کله چې دا روټۍ پخوې نو د خلقو په مخامخ یې د انسان په
اوچو غُلو پخه کړه.“ ١٣ مالِک خُدائ وفرمائيل چې، ”نو په
دې طریقې سره به اِسرائیلیان ناپاکه روټۍ د هغه قومونو په
مینځ کښې وخوری چرته چې زۀ دوئ شړم.“ ١٤ خو ما
ورته وفرمائيل، ”داسې دې نۀ وی، مالِک قادر مطلق خُدایه،

ما کله هم خپل ځان نهٔ دے ناپاکه کړے. زما د ځوانئ نه تر
اوسه پورې ما هيڅ داسې څيز نهٔ دے خوړلے چې هغه
مردار شوے وی او يا ځناورو څيرلے وی. هيڅ قسمه
حرامه غوښه زما د خولې دننه شوې نهٔ ده.“ ١٥ ”ډېر ښهٔ،“
هغهٔ وفرمائيل، ”ښه نو د انسان د غُلو په ځائ خپله روټئ د
غواګانو په سپياکو پخه کړه.“ ١٦ نو بيا هغهٔ ما ته وفرمائيل،
”اے بنی آدمه، زهٔ به په يروشلم روټئ بنده کړم. هغوئ چې
کومه روټئ خوری نو په ناپ تول او پرېشانئ سره به يې
خوری او کومې اوبهٔ چې څښی نو د شمېر په څاڅکو به يې
څښی. ١٧ ځکه چې خوراک او اوبهٔ به په کمېدو وی او
هغوئ به د يو بل د شکل نه يرېږی، او د خپلې ګناه د سزا د
لاندې به د لوږې نه مانده شی.“

## د يروشلم خلاف تُوره

۵ ١ ”اے بنی آدمه، يوه تيره تُوره راواخله او هغه لکه د
نائی د چړې په شان د خپل سر او ږيرې د وېښتو خرئيلو
دپاره استعمال کړه. او بيا هغه وېښتهٔ د يوې تلې په ذريعه په
درېو برخو تقسيم کړه. ٢ نو کله چې ستا د محاصرې
ورځې په ختمېدو شی، د وېښتو درېمه حِصه په ښار کښې
دننه وسوزوه. او بله حِصه يې د ښار نه ګېرچاپېره په تُوره
ووهه او ذره ذره يې کړه. او بله حِصه په هوا کښې وشينده،
ځکه چې زهٔ به تُوره دوئ پسې راوکاږم. ٣ خو د وېښتو يو
څو تارونه دې د څادر په پلو کښې ونغاړه او ځان سره يې
وساته. ٤ بيا د دې نه يو څو وېښتهٔ راواخله او په اور کښې
يې واچوه او وې سوزوه. د هغې نه به اور ټولو بنی اِسرائيلو

ته خور شی. ۵ مالِک قادر مطلق خُدائ داسې فرمائی چې دا یو مثال دے چې په آئنده کښې به د یروشلم سره څۀ کیږی. یروشلم ما د ټولو قومونو په مینځ کښې پېدا کړے دے او ټول مُلکونه ترې نه ګېرچاپېره پراتۀ دی. ۶ خو په خپل شرارت کښې هغۀ زما د قانون او حکمونو نه سرکشی وکړه د هغه مُلکونو نه هم زیات کوم چې د هغۀ نه ګېرچاپېره پراتۀ دی. هغۀ زما قانون رد کړو او زما د حکمونو تابعداری یې ونۀ کړه. ۷ نو په دې وجه مالِک قادر مطلق خُدائ داسې فرمائی چې، تۀ د نورو قومونو په نسبت زیات سرکشه یې او تا زما په تعلیماتو او شریعت عمل ونۀ کړو. خو تا د نورو قومونو د رِواج او اصُولو په مطابق ژوند تېر کړو. ۸ نو په دې وجه مالِک قادر مطلق خُدائ داسې فرمائی چې زۀ په خپله ستا خلاف شوے یم، اے یروشلمه، زۀ به تا له د نورو قومونو په وړاندې سزا درکړم. ۹ څکه زۀ به ستا د هغه ټولو حرام کارو معبودانو په وجه تا سره هغه سلوک وکړم چې ما د دې نه وړاندې کله هم بل چا سره نۀ وی کړے او نۀ به یې بیا چا سره وکړم. ۱۰ نو په دې وجه به په تا کښې مور پلار خپل بچی وخوری او بچی به خپل مور پلار وخوری. زۀ به تاسو له سزا درکړم او څوک چې ژوندی پاتې شی هغوئ به تس نس کړم. ۱۱ مالِک قادر مطلق خُدائ داسې فرمائی چې، زما دې په خپل ذات قسم وی، څکه چې تاسو د خپلو حرامو کارونو او کرکژن تصویرونو په عبادت کولو سره زما مقدس کور پلیت کړو، زۀ به په خپله نۀ په تاسو رحم وکړم، او نۀ به زۀ تاسو ته د رحم په سترګه وګورم او نۀ به تاسو بچ کړم. ۱۲ ستا د خلقو یوه حِصه به په وبا او قحط په تا کښې دننه مړۀ شی، او دویمه حِصه خلق به دې

د ښار د دېوالونو نه بهر په تُوره باندې قتل کړے شى، او
درېمه حِصه به زۀ په هوا کښې خوارۀ کړم او په خپله تُوره
به يې راګېر کړم. ١٣ نو زما غصه به بيا سړه شى او زما
غضب به په آرام شى کله چې زۀ خپل غضب په دوئ نازل
کړم، نو هغوئ به په دې پوهه شى چې ما مالِک خُدائ د خپل
غېرت د وجې داسې وکړل. ١٤ نو د دې نه علاوه به زۀ تا په
کنډراتو بدل کړم او کله چې د نورو قومونو خلق ستا په خوا
کښې تېرېږى نو هغوئ به توبې وباسى. ١٥ تۀ به نورو خلقو
او قومونو ته د مسخرو او پيغورونو، لعنت او يرې يو مثال يې
کله چې زۀ خپله سزا او غضب او قهر او سخته رټنه په تا
نازله کړم. دا ما مالِک خُدائ فرمائيلى دى. ١٦ هرکله چې
زۀ په تاسو د قحط د مرګونى او تباه کوونکى غشى ګزار
وکړم، زۀ به په تا داسې ګزار وکړم چې تا به تباه کړم. زۀ به
په تا بيا بيا قحط راولم او ستا د خوراک ذريعه به بنده کړم.
١٧ زۀ به ستا خلاف قحط او ځنګلى ځناور درولېږم، هغوئ
به تاسو بې‌اولاده پرېږدى. وينه تويول او وباګانې به تاسو ته
راورسيږى، او زۀ به جنګ ستاسو خلاف راولېږم. مالِک
خُدائ په خپله داسې وفرمائيل.“

## په بنى اِسرائيلو کښې د بُت پرستۍ خلاف عدالت

٦ ١ د مالِک خُدائ کلام بيا په ما نازل شو، ٢ ”اے
بنى آدمه، خپل مخ دې د بنى اِسرائيلو د غرونو طرف ته
واړوه او د هغوئ خلاف پېشګوئى وکړه. ٣ او داسې ووايه،
اے د بنى اِسرائيل غرونو، د مالِک قادر مطلق خُدائ کلام
واورئ. مالِک قادر مطلق خُدائ تاسو غرونو او غونډو،

ګړنګونو او درو ته داسې فرمائی، زۀ به اوس ستاسو خلاف
تُوره استعمالوم، او زۀ به ستاسو هغه علاقائی عبادتخانې تباه
کړم چرته چې تاسو د بُتانو عبادت کوئ. ۴ ستاسو
قربانګاه به راوغورزولے شی او ستاسو د خوشبويئ
قربانګاه به ټوټه ټوټه کړے شی. او زۀ به ستاسو خلق
ستاسو د معبودانو په وړاندې حلال کړم. ۵ زۀ به د بنی
اِسرائيلو لاشونه د هغوئ د معبودانو په وړاندې وغورزوم. او
زۀ به ستاسو هډوکی ستاسو د قربانګاه سره خوارۀ وارۀ
کړم. ۶ نو چرته چې تاسو اوسيږئ نو هغه ځائ او ښارونه
به کنډر شی او هغه علاقائی عبادتخانې به تباه شی، ستاسو
قربانګاه به خرابې او تباه شی، ستاسو معبودان به ټوټه ټوټه
او تباه کړے شی، او ستاسو د خوشبويئ قربانګاه به
راوغورزولے شی، او څۀ چې تاسو جوړ کړی دی هغه به
جارُو کړے شی. ۷ ستا خلق به په تا کښې ووژلے شی،
نو تۀ به په دې پوهه شې چې زۀ مالِک خُدائ يم. ۸ خو زۀ
به ځينې خلق بچ کړم، او په تاسو کښې به څۀ خلق د تُورې د
مرګ نه وتښتی او په نورو قومونو او مُلکونو کښې به خوارۀ
شی. ۹ نو کله چې هغوئ په نورو مُلکونو او قومونو کښې
په جلاوطنئ کښې اوسيږی، نو هغوئ به هلته ما راياد کړی،
او په دې به پوهه شی چې هغوئ زۀ په خپلو زناکارو زړونو
سره څومره دردولے يم، کوم چې زما نه اوړيدلی دی، او په
خپلو سترګو سره به يې د هغه معبودانو سره زنا کوله. د هغه
حرام کارونو او د معبودانو د عبادت په وجه کوم چې دوئ
کړی دی هغوئ به د خپل ځان نه نفرت وکړی. ۱۰ نو دوئ
به په دې پوهه شی چې زۀ مالِک خُدائ يم او زما خبردارے
هسې تشې خبرې نه خو په رښتيا سره مې په دوئ عذاب

راوستو.“ ١١ مالِک قادر مطلق خُدائ داسې فرمائی چې، ”د
غم نه خپل لاسونه وپړقوئ او خپلې پښې په زمکه ودربوئ او
د افسوس چغې ووهئ، د بنی اِسرائيلو د هغه ټولو حرامو
کارونو په وجه، نو هغوئ به په جنګ او قحط او وبا سره مړۀ
کړے شی. ١٢ هغه څوک چې لرې دی نو هغوئ به په وبا
سره مړۀ شی، او هغه څوک چې نزدې دی هغوئ به په جنګ
کښې قتل کړے شی، او هغوئ څوک چې بچ پاتې شی نو په
قحط سره به مړۀ شی. زۀ به خپل ټول قهر و غضب په هغوئ
نازل کړم. ١٣ نو هغوئ به په دې پوهه شی چې زۀ مالِک
خُدائ يم. کله چې د هغوئ خلق د دوئ د معبودانو او د دوئ
د قربانګاه سره مړۀ پراته وی، په هره اوچته غونډۍ او
اوچت غر دپاسه او د هرې شنې ونې لاندې او د څېړۍ د ونې
لاندې به د دوئ لاشونه پراتۀ وی په هغه ځايونو کښې چرته
چې هغوئ خپلو ټولو معبودانو ته د خوشبويۍ نذرانې پېش
کولې. ١٤ او زۀ به خپل لاس د هغوئ په خلاف وراوږد کړم
او د هغوئ مُلک به د بيابان نه واخله تر دبله پورې خراب او
خاموشه کړم چرته چې هغوئ اوسيږی. نو بيا به هغوئ په
دې باندې پوهه شی چې زۀ مالِک خُدائ يم.“

## د بنی اِسرائيلو خاتمه

٧ ١ نو د مالِک خُدائ کلام بيا په ما نازل شو، ٢ ”اے
بنی آدمه، مالِک قادر مطلق خُدائ بنی اِسرائيلو ته داسې
فرمائی، تباهی دې په سر راغلی ده، ستا په مُلک کښې به هر
طرف ته تباهی وی. ٣ نو اوس ستاسو آخری وخت
رارسېدلے دے او زۀ به خپل قهر و غضب په تاسو نازل

کړم. زۀ به ستاسو د چال چلن په مطابق ستاسو عدالت وکړم او ستاسو د بدو اعمالو په مطابق به تاسو له پوره سزا درکړم. ﴿۴﴾ نۀ به تۀ زما نه بچ شې او نۀ به زۀ په تا رحم وکړم بلکې ستا د چال چلن او بدو اعمالو سزا به تا له درکړم. نو بيا به تاسو په دې پوهه شئ چې زۀ مالِک خُدائ يم. ﴿۵﴾ مالِک قادر مطلق خُدائ داسې فرمائى چې، د يو افت دپاسه به بل افت په تاسو راځى. ﴿۶﴾ ستاسو اَنجام، ستاسو اَنجام نزدې دے، آخرى وخت مو نزدې دے، وګورئ ستاسو په وړاندې دے. ﴿۷﴾ تاسو ځوک چې په دې مُلک کښې اوسېږئ ستاسو د بښخېدو ورځ رارسېدلې ده. وخت رارسېدلے دے، هغه ورځ رانزدې شوې ده، دلته کښې د غرونو دپاسه صرف چغې سورې دى، او هيڅ قسمه د خوشحالئ آوازونه نشته. ﴿۸﴾ زۀ به زر خپل قهر په تا نازل کړم، زۀ به تا ته ستا د چال چلن او د بدو اعمالو په مطابق سزا درکړم. ﴿۹﴾ نۀ به تۀ زما نه بچ شې او نۀ به زۀ په تا رحم وکړم بلکې ستا د چال چلن او بدو اعمالو سزا به تا له درکړم. نو بيا به تاسو په دې پوهه شئ چې زۀ مالِک خُدائ يم ځوک چې تاسو وهى. ﴿۱۰﴾ ستاسو اَنجام، ستاسو اَنجام نزدې دے. تباهى مو په سر رارسېدلې ده. ظلم انتها ته رسېدلے دے، او خلق بې‌حده مغروره شوى دى. ﴿۱۱﴾ د هغوئ د ظلم په وجه د خلقو شرارت زيات شوے دے، يو کس به ترې نه هم پاتې نۀ شى، نۀ د هغوئ خلق، نۀ دولت، او نۀ د هغوئ اهميت. ﴿۱۲﴾ هغه وخت راغلے دے، هغه ورځ رارسېدلې ده. اخستونکى دې خوشحالى نۀ کوى او نۀ دې خرڅوونکى خفګان کوى، ځکه چې غضب په ټوله ګڼه باندې راتلونکے دے. ﴿۱۳﴾ سوداګر به هغه زمکه دوباره وانۀ خلى

کومه زمکه چې هغوئ خرڅه کړې ده کۀ چرې دوئ ژوندی
هم وی، ځکه چې د مالِک خُدائ فیصله د ټولو دپاره ده او نۀ
بدلېدونکې ده. ځکه د خپلو ګناهونو په وجه به یو کس هم
خپل ژوند بچ نۀ کړے شی. ۱۴ کۀ څۀ هم کۀ هغوئ بیګل
وغږوی او هر څۀ تیار کړی، هیڅوک به جنګ دپاره لاړ نۀ
شی، ځکه چې زما غضب په ګڼو خلقو باندې دے.“

## د بنی اِسرائیلو د ګناه سزا

۱۵ ”د ښار نه بهر جنګونه او په ښار کښې دننه قحط او
وباګانې روانې دی، څوک چې د ښار د دېوالونو نه بهر دی
هغوئ به د دشمن په تُورو باندې مړۀ شی. او هغه څوک چې
د ښار دننه دی د قحط او د وباګانو په وجه به مړۀ شی. ۱۶
څوک چې ژوندی پاتې شی هغوئ ټول به غرونو ته پناه
اخستلو له لاړ شی، او هر یو به لکه د ګوګوشتکو په شان د
خپلې ګناه په وجه زبیرګی کوی. ۱۷ د هغوئ په لاسونو
کښې به دم نۀ وی، او پښې به یې رېږدی. ۱۸ هغوئ به د
ټاټ جامې واغوندی او ټول به یرې اخستی وی. د هغوئ په
مخونو به شرم راخور وی او سرونه به یې خرئیلې وی. ۱۹
هغوئ به خپل سپین زر لارو کوڅو ته وغورزوی، او د هغوئ
سرۀ زر به یو ناپاکه څیز وګڼلے شی. د مالِک خُدائ د
غضب په ورځ به د هغوئ سرۀ زر او سپین زر به هغوئ نۀ
شی بچ کولے. هغوئ به په دې باندې نۀ خپله لوږه ختمولے
شی او نۀ به ورباندې خپله ګېډه مړولے شی. ځکه چې د هم
دې څیزونو په وجه هغوئ تیر وتل. ۲۰ هغوئ په خپلو ښکلو
زیوراتو باندې فخر کولو چې د هغوئ نه به یې خراب بُتان او
مکروه تصویرونه جوړول. نو په دې وجه به زۀ دا څیزونه د

هغوئ دپاره پلیت او ناپاکه وګرځوم. ۲۱ زۀ به دا هر څۀ
غېرو ته د غنیمت په شکل حواله کړم او د زمکې شریرانو
باندې به يې لوټ کړم، او هغوئ به يې پلیت کړی. ۲۲ زۀ به
خپل مخ د دوئ نه واړوم او هغوئ به زما د مقدسو خزانو
بې‌حرمتی وکړی، غلۀ به دې ته ننوځی او ناپاکه به يې کړی.
۲۳ زنځیرونه تیار کړه، ځکه چې ټول مُلک د قتل و غارت
نه ډک دے او ټول ښار د شر و فساد نه ډک دے. ۲۴ زۀ به
د دُنیا د ټولو نه زیات ظالم قومونه راولم چې د دوئ نه د
دوئ کورونه په زور قبضه کړی، او زۀ به د دوئ د زورَورو
کسانو فخر ختم کړم، او د هغوئ د مقدس ځایونو بې‌حرمتی
به وشی. ۲۵ کله چې دهشت راشی، نو هغوئ به د امن او
سکون لټون وکړی، خو هیڅ قسم امن به ورته مِلاو نۀ شی.
۲۶ د یو افت دپاسه به بل افت راشی، او د افواه دپاسه به
بله افواه خوریږی. هغوئ به په دې کوشش کښې وی چې د
نبی رویا واوری، د شریعت تعلیم به د اِمام نه ختم شی، او
هم داسې د مشرانو مشورې به هم ختمې شی. ۲۷ بادشاه به
ماتم کوی، شهزاده به د خفګان جامې اغوستې وی، د مُلک د
خلقو لاسونه به رپیږی. زۀ به د هغوئ سره د دوئ د چال
چلن په مطابق سلوک کوم، او د هغوئ په خپل معیار او
اصُول به د دوئ عدالت وکړم. نو بیا به هغوئ په دې پوهه
شی چې زۀ مالِک خُدائ یم.“

## د خُدائ په کور کښې حرامکاری کول

٨ ۱ د جلاوطنۍ په شپږم کال، د شپږمې میاشتې په
پینځمه ورځ، کله چې زۀ په خپل کور کښې د یهوداه د

مشرانو سره ناست وم چې هلته د مالِک قادر مطلق خُدائ
لاس په ما باندې راغلو. ٢ ما وليدل، او يو شکل مې وليدو
چې د انسان په شان ښکاريدو، د ملا نه لاندې هغه د اور په
شان ښکاريدو او بره هغه لکه د يوې ځليدونکې اوسپنې په
شان ښکاريدو. ٣ هغهٔ يو څيز راوغزولو چې د لاس په
شان ښکاريدو او زهٔ يې د سر وېښتو نه راونيولم. روح زهٔ د
آسمان او زمکې مينځ ته پورته کړم او د خُدائ پاک په رويا
کښې يې زهٔ يروشلم ته بوتلم، د دننه دربار شمال خوا دروازې
ته، چرته چې هغه بُت ولاړ وو کوم چې د خُدائ پاک غيرت
راپارولو. ٤ او د بنی اِسرائيلو د خُدائ پاک جلال زما په
وړاندې هلته راښکاره شو، لکه څنګه چې ما په رويا کښې د
دې نه وړاندې په مېدان کښې ليدلے وو. ٥ نو بيا مالِک
خُدائ ما ته وفرمائيل، ”اے بنی آدمه، د شمال خوا ته
وګوره،“ نو بيا ما وکتل، د شمال خوا ته د قربانګاه د
داخليدو دروازه کښې ما هغه بُت وليدو د چا خلاف چې د
خُدائ پاک غيرت راپاريدلے وو. ٦ او هغهٔ ما ته وفرمائيل
چې، ”اے بنی آدمه، تهٔ هغه څهٔ وينې چې دوئ يې کوی هغه
حرام کارونه چې دوئ يې دلته کوی، نو دا حرام کارونه ما د
خپل مقدس کور نه لرې کوی خو تهٔ به داسې کارونه وګورې
چې د دې نه به زيات خراب وی.“ ٧ هغهٔ زهٔ د دربار
دروازې ته راوستلم. ما وکتل، ما په دېوال کښې يو سورے
وليدو. ٨ هغهٔ ما ته وفرمائيل چې، ”اے بنی آدمه، نو اوس
په دېوال کښې دا سورے غټ کړه.“ نو ما بيا په دېوال کښې
سورے وکړو او هلته مې يوه پټه دروازه وليدله. ٩ او هغهٔ
ما ته وفرمائيل چې، ”دننه لاړ شه او هغه شرارت او حرام
کارونه وګوره کوم چې هغوئ دلته کوی.“ ١٠ نو بيا زهٔ دننه

لاړم او ومې ليدل چې، په دېوالونو باندې د هر قسمه مارانو او چينجو او پليتو ځناورو تصويرونه جوړ شوی وُو. او ما د بنی اِسرائيلو ټول بُتان وليدل چې هغوئ يې عبادت کولو. ۱۱ د بنی اِسرائيل د قوم اويا مشران هلته ولاړ وُو، او د هغوئ په مينځ کښې يازنياه د سافن زوئ هم ولاړ وو. او د هر يو مشر په لاس کښې د خوشبو سوزولو مجمر وو او ترې نه د خوشبو د لوګو لوخړې ختلې. ۱۲ نو بيا مالِک خُدائ ما ته وفرمائيل چې، ”اے بنی آدمه، تا هغه څۀ وليدل کوم چې د اِسرائيلو مشرانو په تيارۀ کوټه کښې هر يو د خپل معبود د زيارت دپاره کول؟ هغوئ دا وائی چې، مالِک خُدائ مونږ نۀ وينی، مالِک خُدائ دا مُلک پرېښے دے.“ ۱۳ هغۀ بيا وفرمائيل چې، ”تۀ به هغوئ د دې نه هم په ډېرو خرابو حرامو کارونو کولو باندې وګورې.“ ۱۴ نو بيا زۀ هغۀ د مالِک خُدائ کور ته د ننوتلو د شمال خوا دروازې ته راوستلم، ما هلته ښځې وليدلې چې ناستې وې او د تموز معبود ژړا او ماتم يې کولو. ۱۵ هغۀ ما ته وفرمائيل چې، ”اے بنی آدمه، تۀ دا وينې؟ نو تۀ به نور داسې حرام کارونه وګورې کوم چې به د دې نه هم ډېر پليت او خراب وی.“ ۱۶ هغۀ بيا زۀ د مالِک خُدائ د کور دننه دربار ته راوستلم، او هلته د مالِک خُدائ د کور د داخلېدلو په لار او د برنډې او د قربان‌ګاه په مينځ کښې پينځويشت کسان وُو. چې شا يې د مالِک خُدائ کور ته وه او د هغوئ مخ د نمرخاتۀ خوا ته وو، هغوئ د مشرق خوا ته نمر ته سجده کوله. ۱۷ هغۀ ما ته وفرمائيل چې، ”اے بنی آدمه تا دا وليدل؟ ولې دا د يهوداه خلقو ته مناسبه ده چې هغوئ دې داسې پليت او حرام کارونه دلته وکړی؟ دا ضروری ده چې دوئ دُنيا هم د شرارت نه ډکه

کړی او په مسلسله توګه زما قهر و غضب راوپاروی؟ هغوئ
ته وګوره چې خپله پوزه چونې او ما ته سپک نظر کوی. ١٨
نو په دې وجه زۀ به په هغوئ باندې خپل غضب نازل کړم،
نۀ به هغوئ زما نه بچ شی او نۀ به زۀ په هغوئ رحم وکړم. کۀ
څۀ هم چې هغوئ زما په غوږ کښې چغې ووهی زۀ به هغوئ
ته غوږ نۀ نیسم.“

## د بُت پرستانو قتلول

٩ ١ نو بیا مالِک خُدائ په اوچت آواز سره وفرمائیل،
”هغه کسان راولئ کوم چې د ښار د سزا ورکولو دپاره مقرر
شوی دی نو هغوئ ته ووایه چې هر یو د خپلو تباه کوونکو
وسلو په لاس راشی.“ ٢ نو بیا شپږ کسان د شمال بره
طرف دروازې نه راښکاره شُو، د هر یو په لاس کښې وژونکې
وسله وه. د هغوئ سره یو کس وو چې د کتان جامې یې وې،
چا سره چې د خط و کتابت سامان په څنګ کښې وو.
هغوئ ټول د مالِک خُدائ د کور دربار ته لاړل او د زېړو د
قربانګاه په خوا کښې ودرېدل. ٣ بیا د بنی اِسرائیلو د
خُدائ پاک جلال د وزرو والا مخلوق دپاسه راوچت شو، په
کوم ځائ کښې چې هغه وو، نو بیا د خُدائ د کور درشل ته
لاړو. نو بیا مالِک خُدائ هغه کس ته آواز وکړو چې د کتان
جامې یې اچولې وې د چا سره چې د خط و کتابت سامان
وو. ٤ او هغۀ ته یې وفرمائیل چې، ”د یروشلم په ټول ښار
کښې وګرځه او د هر هغه چا په تندی باندې نښه ولګوه څوک
چې ویر او ماتم کوی په هغه ټولو حرامو کارونو باندې چې په
دې کښې وشی.“ ٥ نو چې ما غوږ ونیولو، هغۀ هغه نورو

ته وفرمائيل، ”په ښار کښې هغهٔ پسې ځئ او خلق مړهٔ کړئ،
په چا زړهٔ مهٔ سوزوئ او مهٔ په چا رحم کوئ. ۶ بوډاګان،
ځوانان، پېغلې، ښځې، او ماشومان، حلال کړئ، خو هغوئ
ته لاس مهٔ وروړئ د چا په تندی باندې چې نښه لګېدلې وی.
زما د مقدس ځائ نه شروع وکړئ.“ نو بيا هغوئ دا کار د
هغه مشرانو نه شروع کړو چې د خُدائ د کور په مخکښې
ولاړ وُو. ۷ نو بيا هغهٔ هغوئ ته وفرمائيل، ”زما کور پليت
او زما دربار د مړو د لاشونو نه ډک کړئ. ځئ لاړ شئ.“ نو
هغوئ بهر لاړل او په ټول ښار کښې يې په مرګ شروع وکړه.
۸ نو کله چې هغوئ خلق وژل او زهٔ يواځې پاتې شوم، نو
زهٔ پړمخې پرېوتم او چغې مې کړې، ”اے مالِک قادر مطلق
خُدايه، په يروشلم باندې د خپل غضب په نازلېدو سره ولې تهٔ
د بنی اِسرائيلو دا بچ پاتې شوی خلق به هم تباه کوې؟“ ۹
نو بيا هغهٔ ما ته وفرمائيل چې، ”د اِسرائيل او د يهوداه د
خلقو ګناهونه ډېر بې‌حده غټ دی، مُلک د قتل و غارت نه
ډک دے او ښار د بې‌اِنصافۍ نه ډک دے. هغوئ وائی، مالِک
خُدائ دا مُلک پرېښے دے، مالِک خُدائ دا نهٔ وينی. ۱۰ نو
زهٔ به هغوئ ته د رحم په سترګه نهٔ ګورم او نهٔ به هغوئ بچ
کړم، خو زهٔ به هم د دوئ په سرونو هغه څهٔ راولم څهٔ چې
هغوئ کړی دی.“ ۱۱ بيا هغه سړی چې د کتان جامې يې
اچولې وې او د خط و کتابت سامان ورسره وو هغهٔ دا خبر
راوړو، او وې وئيل، ”ما هغه څهٔ وکړل څنګه چې تا حکم
کړے وو.“

## د مالِک خُدائ جلال د يروشلم نه تلل

١٠ ﴿١﴾ کله چې ما بره وکتل، د وزرو والا د مخلوق د سر
دپاسه په آسمان کښې ما نیلم کاڼے ولیدو چې لکه د تخت په
شان ښکارېدو. ﴿٢﴾ مالِک خُدائ هغه سړی ته چا چې د
کتان جامې اچولې وې وفرمائيل، ”د وزرو والا مخلوق د پايو
د لاندې په مينځ کښې تېر شه. خپل لاسونه د سکروټو نه ډک
کړه او په ښار يې وشينده.“ او چې ما وليدل هغه هم هغه
شان دننه لاړو. ﴿٣﴾ اوس د وزرو والا مخلوق د خُدائ د کور
د جنوبی دروازې سره ولاړ وو کله چې هغه سړے دننه لاړو،
نو وريځې دننه دربار ډک کړو. ﴿٤﴾ نو بيا د مالِک خُدائ
جلال د وزرو والا مخلوق دپاسه راوچت شو او د خُدائ د
کور درشل ته لاړو. وريځو د خُدائ کور ډک کړو، او د هغهٔ
دربار د مالِک خُدائ د جلال د شغلو نه ډک وو. ﴿٥﴾ د وزرو
والا مخلوق د وزرو آواز د لرې پورې اورېدلے شو تر بهرنی
درباره پورې، هغه داسې ښکارېدو لکه د قادر خُدائ د آواز په
شان کله چې هغه خبرې کوی. ﴿٦﴾ کله چې مالِک خُدائ
هغه سړی له حُکم وکړو چا چې د کتان جامې اغوستې وې،
”د وزرو والا مخلوق د لاندې لاړ شه او د پايو د مينځ نه اور
راواخله،“ هغه سړے لاندې ورغلو او د يوې پايې په خوا
کښې ودرېدو. ﴿٧﴾ نو بيا د وزرو والا په مخلوق کښې يو خپل
لاس هغه اور ته وراوږد کړو کوم چې د هغوئ په مينځ کښې
بلېدلو. هغهٔ د هغه اور نه لږ راوچت کړو او د هغه سړی په
لاس کښې يې واچولو چې د کتان جامې يې اغوستې وې، نو
بيا هغه سړی اور واخستو او بهر لاړو. ﴿٨﴾ نو ما بيا وکتل
چې هر يو د څلورو وزرو والا مخلوق د وزرونو لاندې يو څيز
ليدل کېدو چې د انسان د لاس په شان ښکارېدو. ﴿٩﴾ ما
وکتل چې، د هر يو څلور وزرو والا مخلوق سره په خوا کښې

يوه پايه وه، او هغه پايې لکه د ايکوامرين کاڼو په شان ځلېدلې. ﴿١٠﴾ څلور واړه پايې يو شان ښکارېدې او يو رنګ جوړې شوې وې، او په هره يوه پايه کښې يوه بله پايه چورلېدله. ﴿١١﴾ د وزرو والا مخلوق په څلورو واړو طرفونو حرکت کولے شو، چې هر اړخ ته به يې مخ وو نو بغېر د تاوېدو نه به تلے شول. هغوئ به بغېر د تاوېدو را تاوېدو نه هغه اړخ ته تلل کوم خوا به يې چې مخ ؤو. ﴿١٢﴾ د هغوئ ټول بدن، د هغوئ د شاګانو په شمول، د هغوئ لاسونه او د هغوئ وزرونه په مکمل توګه د سترګو نه ډک ؤو، لکه څنګه چې د هغوئ څلور پايې وې. ﴿١٣﴾ ما واورېدل چې پايو ته يې د "چورلېدونکو پايو" نامه ورکړه. ﴿١٤﴾ د هر يو وزرو والا مخلوق څلور مخونه ؤو، اول مخ لکه د غوائې په شان وو، او دويم مخ يې د انسان په شان وو، درېم مخ يې لکه د ازمرى په شان وو، او څلورم مخ لکه د باز په شان وو. ﴿١٥﴾ نو بيا دا وزرو والا مخلوق مخ په بره اوچت شو. دا هغه ژوندے مخلوق وو کوم چې ما د کبار د سيند په غاړه ليدلے وو. ﴿١٦﴾ کله چې به دې مخلوق حرکت کولو نو د هغوئ په خوا کښې پايو به هم ورسره حرکت کولو او کله چې به دې مخلوق خپلې وزرې خورې کړې چې د زمکې نه والوځى، نو پايو د هغوئ خوا نۀ پرېښودله. ﴿١٧﴾ هرکله چې به د وزرو والا مخلوق په آرام ودرېدل، نو پايې به هم ورسره ودرېدې، او کله چې به د وزرو والا مخلوق والوتلو نو پايې به هم ورسره والوتلې، ځکه چې د وزرو والا مخلوق روح په هغې کښې وو. ﴿١٨﴾ نو بيا د مالِک خُدائ جلال د خُدائ د کور درشل نه لاړو او د وزرو والا مخلوق دپاسه ودرېدو. ﴿١٩﴾ نو کله چې ما وکتل نو هغه مخلوق خپل وزرونه خوارۀ کړل او د زمکې نه

اوچت شول، نو کله چې دوئ لاړل، هغه پايې د هغوئ سره
لاړې. هغوئ د خُدائ د کور په درشل کښې نمرخاتهٔ طرف ته
ودرېدل، او د بنی اِسرائيلو د مالِک خُدائ جلال د هغوئ د
سر دپاسه وو. ۲۰ دا هغه ژوندے مخلوق وو کوم چې ما د
بنی اِسرائيلو د خُدائ پاک د تخت د لاندې د کبار د سيند په
غاړه ليدلے وو، نو زهٔ په دې پوهه شوم چې دا هم هغه شان
ژوندے مخلوق دے. ۲۱ د هر يو څلور مخونه او څلور
وزرونه وُو، او داسې يو څيز يې د وزرو لاندې وو چې په
ليدلو کښې لکه د انسان د لاسونو په شان ښکارېدو. ۲۲ د
هغوئ مخونه بلکل هم هغه شان ښکارېدل کوم چې ما د کبار
د سيند په غاړه ليدلی وُو. هر يو په تلو کښې نېغ تلو.

## د بنی اِسرائيلو د مشرانو سزا

**۱۱** ۱ نو بيا زهٔ د خُدائ روح اوچت کړم او د مالِک
خُدائ د کور دروازې ته يې راوستلم کومه چې مشرق طرف
ته وه. هلته د دروازې په درشل کښې پينځويشت سړی وُو، او
ما په هغوئ کښې يازنياه د عزور زوئ او فلطياه د بناياه
زوئ، د خلقو مشران وليدل. ۲ هغهٔ ما ته وفرمائيل چې،
”اے بنی آدمه، دا هغه کسان دی څوک چې بدې منصوبې
جوړوی او خلقو ته په ښار کښې د شرارت مشورې ورکوی.
۳ هغوئ وائی چې، آيا دا ښهٔ وخت نهٔ دے چې کورونه
جوړ کړُو؟ دا ښار لکه د اوسپنې د ديګ په شان دے او مونږ
په کښې لکه د غوښې په شان محفوظ يُو. ۴ نو په دې وجه
اے بنی آدمه، د هغوئ خلاف په اوچت آواز سره پيشګوئې
وکړه.“ ۵ نو بيا د مالِک خُدائ روح په ما نازل شو او هغهٔ

ما ته وفرمائيل چې داسې ووايه، ”مالِک خُدائ فرمائی، اے د
بنی اِسرائيلو قومه، ستاسو په سوچونو کښې چې څۀ دی زۀ
په هغې پوهېږم. ٦ تاسو په دې ښار کښې ډېر خلق وژلی
دی او د دې لارې کوڅې مو په مړو ډکې کړې دی. ٧ نو په
دې وجه مالِک قادر مطلق خُدائ داسې فرمائی چې، تاسو
چې د مړو کوم لاشونه په دې ښار کښې وغورزول هغوئ هم
هغه غوښه ده چې په دې دېګ کښې محفوظه ده، خو زۀ به
تاسو د دې نه وباسم. ٨ تاسو د تُورې نه يرېږئ، او هم دا
تُوره به زۀ په تاسو باندې ستاسو خلاف نازله کړم، دا د
مالِک قادر مطلق خُدائ فرمان دے. ٩ زۀ به تاسو د ښار
نه وشړم او پردو خلقو ته به مو حواله کړم او تاسو له به سزا
درکړم. ١٠ تاسو به په تُوره باندې ووژلے شئ، او زۀ به د
اِسرائيل په مُلک کښې دننه په تاسو خپله فيصله واوروم. نو
بيا به تاسو پوهه شئ چې زۀ مالِک خُدائ يم. ١١ دا ښار به
ستاسو دپاره يو د اوسپنې دېګ نۀ وی، او نۀ به تاسو په دې
کښې د غوښې په شان يئ، زۀ به د اِسرائيل په مُلک کښې دننه
تاسو له سزا درکړم. ١٢ نو تاسو به په دې پوهه شئ چې زۀ
مالِک خُدائ يم، نۀ تاسو زما د شريعت پيروی وکړه او نۀ مو
زما په اصُولو او شريعت عمل وکړو خو د دې په ځائ د
خوا او شا مُلکونو رِواجونو پسې لاړئ.“ ١٣ نو کله چې ما
پېشګوئي کوله نو فلطياه د بناياه زوئ ناګهانه مړ شو. نو بيا
زۀ پړمخې پرېوتلم او په زوره مې چغې کړې، ”اے مالِک
قادر مطلق خُدايه، ولې تاسو په اِسرائيل کښې په پوره توګه
ژوندی پاتې شوی خلق تباه کوئ؟“

## د جلاوطنو بنی اِسرائیلو سره د مالِک خُدائ وعده

۱۴ د مالِک خُدائ کلام په ما نازل شو، ۱۵ ”اے بنی آدمه،
کوم خلق چې تر اوسه په یروشلم کښې پاتې شوی دی ستا او
ستا د خپلوانو او د اِسرائیل قوم په حقله چې په جلاوطنۍ
کښې دی وریسې خبرې کوی. هغوئ دا وائی چې څوک چې
جلاوطن شوی دی نو هغوئ د مالِک خُدائ نه لرې شوی
دی، ځکه اوس هغۀ د هغوئ زمکه مونږ له په میراث کښې
راکړې ده. ۱۶ نو په دې وجه ووایه چې، مالِک قادر مطلق
خُدائ داسې فرمائی چې، کۀ څۀ هم چې ما هغوئ نورو لرې
قومونو ته ولیږل او په نورو مُلکونو کښې مې تس نس کړل،
خو اوس د لږ وخت دپاره زۀ د هغوئ دپاره په هغه مُلکونو
کښې مقدس پناه ګاه یم کومو ته چې تللی دی. ۱۷ نو بیا
داسې ووایه چې، مالِک قادر مطلق خُدائ داسې فرمائی، زۀ
به تاسو د ټولو مُلکونو نه راغونډ کړم او د هغه مُلکونو نه به
تاسو واپس راولم کومو ته چې ما خوارۀ کړی وئ او زۀ به
بیا تاسو له د اِسرائیل مُلک درکړم. ۱۸ کله چې دوئ دې ته
واپس راشی نو د دې نه به هغه ټول بُتان او حرام تصویرونه
لرې کړی. ۱۹ زۀ به هغوئ ته یو زړۀ ورکړم او نوے روح به
په کښې واچوم، زۀ به د هغوئ نه د کاڼی په شان سخت
زړونه اخوا کړم او نرم زړونه به ورکړم. ۲۰ نو بیا به هغوئ
زما د اصُولو پیروی کوی او په احتیاط سره به زما په
شریعت عمل کوی. نو بیا به هغوئ زما خلق وی او زۀ به د
هغوئ خُدائ پاک یم. ۲۱ خو د هغه چا چې زړونه پلیتو
تصویرونو او حرام کاره معبودانو ته وقف شوی وی، زۀ به د
هغوئ په سر هغه څۀ راولم کوم چې دوئ کړی دی. دا د

مالِک قادر مطلق خُدائ فرمان دے.“

## د مالِک خُدائ د جلال د یروشلم نه تلل

۲۲ نو بیا د وزرو والا مخلوق، چې په خوا کښې یې پایې وې
خپل وزرونه خوارۀ کړل، او د بنی اِسرائیلو د خُدائ پاک
جلال د هغوئ دپاسه وو. ۲۳ نو د مالِک خُدائ جلال د ښار
نه روان شو او د دې نمرخاتۀ طرف ته په غر ودرېدو. ۲۴ نو
بیا د خُدائ پاک روح زۀ په رویا کښې اوچت کړم او واپس
یې په بابل کښې جلاوطنو ته بوتلم. بیا کومه رویا چې ما
لیدلې وه ما نه بره لاړه، ۲۵ او ما هغه جلاوطنو خلقو ته هر
هغه څۀ ووئیل چې مالِک خُدائ ما ته ښودلی وُو.

## د جلاوطنۍ نښې

۱۲ ۱ بیا د مالِک خُدائ کلام په ما نازل شو، ۲ ”اے
بنی آدمه، تۀ د سرکشه قوم په مینځ کښې اوسېږې. هغوئ د
کتلو دپاره سترګې لری خو نۀ وینی او د اورېدو دپاره غوږونه
لری خو اوری نه، ځکه چې هغوئ سرکشه خلق دی. ۳ نو
په دې وجه اے بنی آدمه، خپل سامان داسې راغونډ کړه لکه
چې تۀ په جلاوطنۍ روان یې. د ورځې په رڼا کښې د هغوئ په
وړاندې روان شه او بل ځائ ته لاړ شه. شاید چې هغوئ په
دې پوهه شی چې هغوئ به هم یوه ورځ جلاوطن شی، اګر
چې هغوئ سرکشه قوم دے. ۴ د ورځې په رڼا کښې د
هغوئ په وړاندې خپل مال حال داسې راوباسه لکه چې د
جلاوطنۍ دپاره دې راغونډ کړے وی. بیا په ماښام کښې د
هغوئ په وړاندې داسې روان شه لکه چې څوک جلاوطن

کړے شوے وی. ۵ د هغوئ په وړاندې دېوال سورے کړه
او خپل مال حال په هغه سورى کښې بهر کړه. ۶ د هغوئ
په وړاندې خپل مال حال اوږو ته اوچت کړه او هغه په تيارۀ
کښې بهر يوسه. خپل مخ داسې پټ کړه چې وطن درته نۀ
ښکارى، ما ځکه په تا دا هر څۀ وکړل چې تا د بنى اِسرائيلو
قوم دپاره يو خبردارے کړم.“ ۷ نو څنګه چې ما ته حکم
شوے وو هم هغه شان ما وکړل. په ورځ کښې ما خپل
سامان تړلے لکه د جلاوطنۍ دپاره راوويستلو. نو په ماښام
کښې ما په خپلو لاسونو په دېوال کښې سورے وکړو. ما
خپل سامان په توره تيارۀ کښې بهر کړو، په خپلو اوږو مې د
هغوئ د سترګو د وړاندې اوچت کړو. ۸ نو په سحر کښې
د مالِک خُدائ کلام په ما نازل شو، ۹ ”اے بنى آدمه، ولې
د بنى اِسرائيلو دې سرکشه قوم ستا نه تپوس ونۀ کړو چې، تۀ
څۀ کوې؟ ۱۰ نو هغوئ ته ووايه چې، زۀ مالِک قادر مطلق
خُدائ داسې فرمايم چې دا پيغام د يروشلم د شهزاده او د
هغه ټولو خلقو دپاره دے څوک چې په کښې اوسيږى. ۱۱
هغوئ ته ووايه چې، زۀ ستاسو دپاره نمونه يم. څنګه عمل
چې ما وکړو نو هم هغه شان به د يروشلم د خلقو سره وشى،
هغوئ به جلاوطن او قيديان کړے شى. ۱۲ د هغوئ په مينځ
کښې شهزاده به هم په تيارۀ کښې خپل سامان په خپله اوږه
اوچت کړى او لاړ به شى، او هغه به دېوال سورے کړى چې
په هغې ووځى. هغه به خپل مخ پټ کړى چې هغه وطن ورته
نۀ ښکارى د کوم نه چې هغه روان دے. ۱۳ نو زۀ به خپل
جال هغۀ ته خور کړم، او هغه به زما په جال کښې راګېر
شى، زۀ به هغه بابل ته د کلدانيانو مُلک ته راولم، خو هغه به
يې ونۀ وينى، او هلته به هغه مړ شى. ۱۴ زۀ به د هغۀ نه

ګېرچاپېره د هغۀ ټول نوکران او فوجيان خوارۀ وارۀ کړم او
هغوئ پسې به تُوره راوکاږم. ۱۵ نو هغوئ به په دې پوهه
شی چې زۀ مالِک خُدائ يم، کله چې زۀ دوئ په نورو قومونو
او مُلکونو کښې خوارۀ وارۀ کړم. ۱۶ خو زۀ به د هغوئ نه
څۀ کسان د تُورې، قحط او د ويا د مرګ نه بچ کړم، نو چې
کومو قومونو ته دوئ ځی نو دوئ به د خپلو ټولو بدو اعمالو
اقرار وکړی. نو بيا به هغوئ په دې پوهه شی چې زۀ مالِک
خُدائ يم.“

## يو بله نښه، د حزقیایل نبی يرېدل

۱۷ د مالِک خُدائ کلام په ما نازل شو، ۱۸ ”اے بنی آدمه،
کله چې خوراک کوې نو رېږده، او کله چې اوبۀ څښې نو د
يرې نه لړزېږه. ۱۹ خلقو ته ووايه، مالِک قادر مطلق خُدائ
داسې فرمائی د هغه خلقو په حقله څوک چې په يروشلم کښې
او د اِسرائيل په مُلک کښې اوسيږی، هغوئ به خپل خوراک
په رېږدېدو سره کوی او اوبۀ به په مايوسۍ سره څښی، ځکه
چې د دوئ د زمکې نه به هر څۀ چې په کښې دی لوټ شی د
هغوئ ټولو د قتل و غارت زياتی په وجه څوک چې په کښې
اوسيږی. ۲۰ د خلقو آباد ښارونه به برباد او زمکې به
ويجاړې شی. نو بيا به تاسو په دې پوهه شئ چې زۀ مالِک
خُدائ يم.“

## د مالِک خُدائ خبره به زر پوره شی

۲۱ د مالِک خُدائ کلام په ما بيا نازل شو، ۲۲ ”اے بنی
آدمه، دا کوم متل دے چې تاسو يې د بنی اِسرائيلو په زمکه

باندې کوئ يعنې، ورځې روانې دی او هره يوه پېشګوئې نۀ
پوره کيږی؟ ۲۳ هغوئ ته ووايه، مالِک قادر مطلق خُدائ
داسې فرمائی چې، زۀ دا متل ختموم، او دوئ به هيڅکله بيا
په اِسرائيل کښې دا ونۀ وائی. هغوئ ته ووايه، هغه ورځې
رانزدې دی چې هره يوه پېشګوئې به پوره شی. ۲۴ ځکه چې
په اِسرائيل کښې به نور نۀ د دروغو روياګانې او نۀ به د
چاپلوسئ پال ليدلے شی. ۲۵ ځکه چې زۀ مالِک خُدائ يم
او زۀ چې څۀ ووايم هغه به پوره شی، او هغه به نور ايسار نۀ
شی، اے سرکشه بنی اِسرائيله، بېشکه زۀ به ستاسو په ژوند
کښې خپله خبره وکړم او هغه به پوره هم کړم. ما، مالِک
قادر مطلق خُدائ داسې وفرمائيل.“ ۲۶ نو بيا د مالِک
خُدائ کلام په ما نازل شو، ۲۷ ”اے بنی آدمه، د بنی
اِسرائيلو خلق داسې وائی چې، حزقی‌ايل د ډېر لرې وخت په
حقله خبرې کوی. د هغۀ رويا به ډېر وخت اخلی او زر به
پوره نۀ شی. ۲۸ نو په دې وجه تۀ هغوئ ته ووايه چې، مالِک
قادر مطلق خُدائ داسې فرمائی، نور وخت به نۀ لګی، زۀ به
اوس هغه هر څۀ پوره کړم کوم چې ما وفرمائيل. ما، مالِک
قادر مطلق خُدائ وفرمائيل.“

## د دروغژنو نبيانو مذمت

۱۳ ۱ د مالِک خُدائ کلام په ما نازل شو، ۲ ”اے
بنی آدمه، د اِسرائيلو د هغه دروغژنو نبيانو خلاف پېشګوئې
وکړه څوک چې اوس پېشګوئې کوی. نو هغوئ ته دا ووايه
څوک چې د خپلو خيالونو د پېشګويئ دعوۍ کوی او داسې
وائی چې تاسو د مالِک خُدائ کلام واورئ. ۳ مالِک قادر

مطلق خُدائ داسې فرمائى چې، افسوس دې وى په هغه کم
عقلو نبيانو باندې چا چې څۀ کتلى نۀ وى او د خپل تصور په
ټال کښې ځانګى. ۴ اے بنى اِسرائيلو، ستاسو نبيان داسې
دى لکه چې ګيدړان په کنړاتو کښې ګرځى. ۵ تاسو د
دېوال چاؤدونو ته ورنۀ غلئ او نۀ مو د دې مرمت وکړو چې
د بنى اِسرائيلو قوم د مالِک خُدائ په ورځ په جنګ کښې قائم
پاتې شى. ۶ د هغوئ روياګانې دوکه ده او د هغوئ پالونه
نيول دروغ دى. هغوئ وائى چې، مالِک خُدائ دا فرمائى، خو
په حقيقت کښې مالِک خُدائ دوئ نۀ دى رالېږلى، بيا هم
هغوئ په دې اُميد دى چې د هغوئ خبرې به پوره شى. ۷
آيا تاسو د دروغو روياګانې ليدلې نۀ دى او غلط پال مو
نيولے نۀ دے او بيا هم وايئ چې، دا د مالِک خُدائ فرمان
دے، حالانکه ما څۀ نۀ وى فرمائيلى؟ ۸ نو په دې وجه
مالِک قادر مطلق خُدائ داسې فرمائى چې، ستاسو د
دروغژنو خبرو او روياګانو په وجه، زۀ ستاسو خلاف يم.
۹ زما لاس به د هغه نبيانو په خلاف وى څوک چې د
دروغو روياګانې ګورى او د دروغو پالونه نيسى. هغوئ به
زما د خلقو په ټولګى کښې شريک نۀ شى او نۀ به د بنى
اِسرائيلو د قوم په فهرستونو کښې درج شى، او نۀ به هغوئ د
اِسرائيل په مُلک کښې داخل شى. نو بيا به تاسو په دې پوهه
شئ چې زۀ مالِک قادر مطلق خُدائ يم. ۱۰ ځکه چې هغوئ
زما خلق ګمراهۍ خوا ته بوتلل، او وائى چې امن دے خو په
حقيقت کښې امن نۀ وى. دا د هغه چا په شان دے لکه
څوک چې کچه دېوال ووهى او بيا هغه نبيان ورته چونه
ورکړى. ۱۱ نو په دې وجه هغه نبيانو ته ووايه څوک چې دا
دېوالونه چونه کوى چې دا به راغورزيږى. زۀ به تيز باران او

غټه ږلۍ راولېږم، او تېز باد به په دې رانازل کړم. ۱۲ کله چې دېوال راوغورزيږى، ولې خلق به ستاسو نه دا تپوس ونۀ کړى چې هغه سپينه چونه څۀ شوه چې تاسو دېوال ته ورکړې وه؟ ۱۳ نو په دې وجه مالِک قادر مطلق خُدائ داسې فرمائى، په خپل قهر سره به زۀ يو وحشتناک طوفان راولېږم، او په خپل قهر سره به ږلۍ او د باران طوفان راولېږم. ۱۴ زۀ به هغه دېوال راوغورزوم کوم چې تاسو چونه کړے دے او هغه به زۀ د زمکې سره هوار کړم او د هغۀ بنياد به ښکاره کړم. کله چې هغه راغورزيږى نو تاسو به هم په کښې تباه شئ، نو بيا به تاسو په دې پوهه شئ چې زۀ مالِک خُدائ يم. ۱۵ نو زۀ به خپل غضب په دېوال او په هغوئ سوړ کړم چا چې دېوال چونه کړے وو. نو زۀ به تاسو ته وايم چې، دېوال او هغه کسان دواړه فنا شو چا چې چونه کړے وو. ۱۶ د اِسرائيل نبيانو ته چا چې د يروشلم په حقله پېشګوئې وکړه او د هغې په حقله يې د امن روياګانې ليدلې حال دا چې په رښتيا به امن نۀ وو، ما، مالِک خُدائ وفرمائيل.“

## د دروغژنو پېغمبرانو ملامتول

۱۷ ”اوس اے بنى آدمه، خپل مخ دې د دې ښځو په خلاف راواړوه څوک چې د خپلې خېټې نه نبوت کوى. د هغوئ خلاف نبوت وکړه. ۱۸ او هغوئ ته ووايه چې مالِک قادر مطلق خُدائ داسې فرمائى چې، افسوس دې وى په هغه ښځو څوک چې په خپلو لاسونو سره د جادو او کوډو تعويذونه ګنډى او په خپل مړوند کښې يې راځوړندوى او د کوډو څادر جوړوى او چې خلق په خپل جال کښې ګرفتار کړى. آيا

تاسو به زما د خلقو دپاره جال خور کړئ او خپل ژوند به بچ کړئ څهٔ؟ ﴿١٩﴾ تاسو زما د خلقو په مینځ کښې د لړو اوربشو او د یو څو ټوکړو روټۍ دپاره زما بې‌حرمتی وکړه. تاسو زما غوره شوی خلقو ته دروغ ووئیل او هغوئ هم په تاسو باور وکړو او دغه شان تاسو هغوئ ووژل څوک چې د وژولو نهٔ وو او هغوئ مو ژوندی پرېښودل څوک چې د ژوندی پرېښودلو نهٔ وو. ﴿٢٠﴾ نو په دې وجه مالِک قادر مطلق خُدائ داسې فرمائی چې، زهٔ ستاسو د جادو منتر خلاف یم په کومو چې تاسو خلق لکه د مرغۍ راګېروئ او هغه به زهٔ ستاسو د متو نه خلاص کړم، او زهٔ به هغه خلق آزاد کړم کوم چې تاسو لکه د مرغۍ په شان راګېر کړی دی. ﴿٢١﴾ زهٔ به ستاسو د جادو نقابونه وشلوم او خپلو خلقو له به ستاسو د لاسه خلاصون ورکړم، او هغوئ به نور ستاسو د جادو په اثر کښې نهٔ راځی. نو بیا به تاسو په دې پوهه شئ چې زهٔ مالِک خُدائ یم. ﴿٢٢﴾ تاسو د خپلو دروغو په وجه صادقان بې‌زړهٔ کړل اګر چې ما هغوئ ته هیڅ قسم تکلیف نهٔ دے ورکړے، او تاسو ګناهګارانو ته ډاډ ورکوئ چې د خپلو بدو لارو نه راونهٔ ګرځی او د هغوئ ژوند بچ نهٔ شی، ﴿٢٣﴾ نو په دې وجه تاسو به نور نهٔ د دروغو رویا وګورئ او نهٔ به فالګری وکړئ. زهٔ به خپل خلق ستاسو د لاسه بچ کړم. او بیا به تاسو پوهه شئ چې زهٔ مالِک خُدائ یم.“

## د بُت پرستانو مذمت

**١۴**
﴿١﴾ نو بیا د اِسرائیل ځینې مشران ما له راغلل او زما په وړاندې کښېناستل. ﴿٢﴾ نو د مالِک خُدائ کلام په ما نازل

شو، ③ "اے بنی آدمه، دې مشرانو په خپل زړهٔ کښې بُتانو
له ځائ ورکړے دے او هغوئ هغه د خپل ځان په وړاندې د
ګناه او تیندک خوړلو سبب ګرځولے دے. نو بیا ولې زهٔ
دوئ ته غوږ ونیسم څهٔ؟ ④ نو په دې وجه هغوئ سره خبره
وکړه او هغوئ ته ووایه چې، مالِک قادر مطلق خُدائ داسې
فرمائی چې کله چې یو بنی اِسرائیلی خپل زړهٔ کښې بُتانو له
ځائ ورکړے وی او د خپل ځان د وړاندې یې د ګناه او
تیندک خوړلو سبب ګرځولے وی او بیا یو نبی ته د مشورې
دپاره ورشی، نو بیا به زهٔ مالِک خُدائ هغهٔ له په خپله داسې
جواب ورکړم چې د هغوئ د ډیرې بُت پرستئ لائق وی. ⑤
زهٔ به دا د دې دپاره وکړم چې د خپلو خلقو بنی اِسرائیلو په
زړونو دوباره قبضه وکړم، ټولو چا چې زهٔ د خپلو بُتانو په
وجه پرېښودے یم. ⑥ نو په دې وجه د بنی اِسرائیلو قوم ته
ووایه چې، مالِک قادر مطلق خُدائ داسې فرمائی چې، توبه
وکړئ، او د خپلو بُتانو نه راوګرځئ او د خپلو ټولو حرامو
کارونو نه منع شئ. ⑦ هرکله کهٔ یو بنی اِسرائیلے او یا غیر
مُلکی په اِسرائیل کښې اوسیږی او خپل ځان یې زما نه جدا
کړے وی او بُتانو له یې په خپل زړهٔ کښې ځائ ورکړے وی
او د خپل ځان د وړاندې یې د ګناه او تیندک خوړلو سبب
ګرځولے وی او بیا یو نبی له د مشورې دپاره ورشی او زما
په حقله ترې تپوس وکړی، نو زهٔ مالِک خُدائ به په خپله
هغوئ له جواب ورکړم. ⑧ زهٔ به د داسې کس مخالفت
کوم او نورو خلقو ته به یې د خندا مثال جوړ کړم. او زهٔ به
هغه د خپل قومیت نه ویاسم. نو بیا به تاسو په دې پوهه شئ
چې زهٔ مالِک خُدائ یم. ⑨ او کهٔ هغه نبی په پیشګویۍ
ورکولو کښې دوکه شی او دروغ ووائی نو ما مالِک خُدائ

هغه نبی له دوکه ورکړه، او زهٔ به خپل لاس د هغهٔ خلاف
وراوږد کړم او هغه به د خپلو خلقو بنی اِسرائیلو نه نیست و
نابود کړم. ۱۰ هغوئ دواړو ته به د خپلې ګناه سزا مِلاو
شی، پیغمبر ته او هم هغه چا ته چې پیغمبر ته د هدایت
حاصلولو دپاره راځی. ۱۱ نو بیا به د بنی اِسرائیلو خلق زما
نه نور نهٔ بې‌لارې کیږی، او نهٔ به هغوئ نور خپل ځانونه په
ډیرو ګناهونو کولو باندې پلیتوی. هغوئ به زما خلق وی، او
زهٔ به د هغوئ خُدائ یم، مالِک قادر مطلق خُدائ فرمائی.“

## د خُدائ عدالت رښتینے دے

۱۲ د مالِک خُدائ کلام په ما نازل شو چې، ۱۳ ”اے بنی
آدمه، کهٔ چرې یو مُلک زما خلاف ګناه او بې‌وفائی وکړی او
زهٔ خپل لاس د هغوئ خلاف اوچت کړم او د هغوئ رزق بند
کړم او په هغوئ باندې قحط نازل کړم او د هغه مُلک سړی
او ځناور مړهٔ کړم، ۱۴ کهٔ چرې نوح، دانیال، او ایُوب درې
واړه هم هلته اوسیدل، نو هغوئ به په خپل صداقت صرف
خپل ځانونه بچ کړی وُو، مالِک قادر مطلق خُدائ داسې
فرمائی. ۱۵ او یا کهٔ چرې زهٔ هغه مُلک ته ځنګلی ځناور
ورولیږم چې د هغې خلق ووژنی او مُلک بلکل وران ویجاړ
کړی، نو بیا به د هغه ځناورو په وجه هیڅ څوک هم د هغه
مُلک نه نهٔ شی تیریدلے، ۱۶ زما دې په خپل ذات قسم وی،
قادر مطلق مالِک خُدائ فرمائی، کهٔ چرې دا درې واړه
کسان هم هلته اوسیدل نو هغوئ به خپل زامن او لوڼه هم نهٔ
شُو بچ کولے. یواځې هغوئ به بچ شی خو ټول مُلک به وران
ویجاړ شی. ۱۷ او کهٔ چرې زهٔ په هغه مُلک جنګ راولم، او
ووایم چې پریږده چې تُوره د ټول مُلک نه تیره شی او زهٔ په

کښې انسانان او د دوئ څناور مړۀ کړم، ۱۸ زما دې په
خپل ذات قسم وى، قادر مطلق مالِک خُدائ فرمائى، کۀ
چرې دا درې واړه کسان په دې کښې اوسېدل، بيا هم دوئ
خپل زامن او لوڼه نۀ شُو بچ کولے. خو صرف دوئ به بچ
شوى وُو. ۱۹ او يا فرض کړئ کۀ چرې زۀ په دغه مُلک وبا
رانازله کړم او خپل غضب پرې د وينې تويدو په ذريعه نازل
کړم چې د دې سړى او څناور مړۀ کړى، ۲۰ زما دې په
خپل ذات قسم وى، مالِک قادر مطلق خُدائ فرمائى، کۀ
چرې نوح، دانيال او ايُوب هم په دې کښې اوسېدل، هغوئ
خپل زامن او لوڼه نۀ شول بچ کولے. بلکې هغوئ به په خپل
صداقت سره صرف خپل ځانونه بچ کړى وُو. ۲۱ نو په دې
وجه مالِک قادر مطلق خُدائ داسې فرمائى چې، دا به د
يروشلم دپاره څومره خراب وخت وى کله چې زۀ خپل دا
څلور سخت يروونکى عذابونه د هغوئ خلاف ورولېږم، جنګ
او قحط او وحشى څناور او وباګانې چې د دې سړى او
څناور مړۀ کړى. ۲۲ خو بيا هم به څۀ کسان ژوندى پاتې
شى خو هغوئ به تاسو سره په جلاوطنۍ کښې يوځائ شى.
کله چې تاسو په خپله د هغوئ بد عملونه وګورئ، نو بيا به
تاسو په خپله ووايئ چې کوم افتونه ما په يروشلم نازل کړى
وُو هغه ضرورى وُو. ۲۳ تاسو به په خپله مطمئن شئ کله
چې تاسو د هغوئ چال چلن او د هغوئ کردار وګورئ، نو
تاسو به په دې پوهه شئ چې ما بې د کومې وجې په هغوئ
باندې تکليف او افت نۀ دے نازل کړے. ما، مالِک قادر
مطلق خُدائ وفرمائيل.“

## یروشلم بېکاره د انګور بوټے دے

۱۵ ۱ د مالِک خُدائ کلام په ما نازل شو چې، ۲
”اے بنی آدمه، د انګور د بوټی څانګه د ځنګل د نورو ونو
څانګو نه په کوم لحاظ سره ښۀ ده؟ ۳ آیا د دې لرګے د
کوم شی د جوړولو دپاره استعمالولے شی؟ ولې هغوئ د دې
نه موږی جوړوی چې ځیزونه پرې راځوړند کړی؟ ۴ او
کله چې هغه په اور کښې د سوزولو دپاره وغورزولے شی او
اور د دې دواړه سرونه وسوزوی او مینځ یې په سکرو بدل
شی، آیا دا بیا د څۀ شی دپاره په کار راځی؟ ۵ د سوزېدو
نه مخکښې چې دا د هیڅ کار نۀ وو، نو بیا به دا څومره
بېکاره وی کله چې دا په اور کښې وسوزېږی او سکارۀ
شی؟ ۶ نو په دې وجه مالِک قادر مطلق خُدائ داسې
فرمائی چې، لکه څنګه چې ما د انګور بوټی د ځنګل په بوټو
کښې ورکړو چې د خشاک دپاره استعمال شی نو هم دغه
شان سلوک به زۀ د هغوئ سره وکړم څوک چې په یروشلم
کښې اوسیږی. ۷ زۀ به خپل مخ د هغوئ خلاف کړم، اګر
کۀ هغوئ د اور نه بهر راوتل خو اور به بیا هم هغوئ
وسوزوی. نو کله چې زۀ خپل مخ د هغوئ خلاف کړم، نو
تاسو به پوهه شئ چې زۀ مالِک خُدائ یم. ۸ زۀ به هغه
زمکه ورانه ویجاړه کړم ځکه چې هغوئ زما سره بېوفائی
کړې ده، دا د مالِک خُدائ فرمان دے.“

## د یروشلم بېوفائی

۱۶ ۱ نو د مالِک خُدائ کلام په ما نازل شو، ۲ ”اے

بنی آدمه، یروشلم د خپل حرام کار په حقله خبر کړه. ۳ او
ورته ووایه، مالِک خُدائ یروشلم ته داسې فرمائی، ستاسو
نسل او پېدایښت د کنعان د مُلک دے، ستاسو پلار اموری
وو او ستاسو مور حِتی وه. ۴ په هغه ورځ کله چې تۀ پېدا
شوې، نو هیچا ستا نوم پرې نۀ کړو او نۀ چا په اوبو ولمبولې
چې پاک دې کړی، او نۀ په تا چا مالګه ومږله او نۀ تۀ چا په
اوړنی کښې ونغښتې. ۵ نو چا هم تا ته د رحم په سترګه
ونۀ کتل او په تا باندې چا زړۀ هم ونۀ سوزولو چې دا کارونه
درته وکړی. ستا د پېدا کېدو د ورځې نه هغوئ تا نه نفرت
کولو او تۀ یې په یو مېدان کښې وروغورزولې. ۶ نو زۀ په
دغه ځائ تېر شوم او ومې لیدلې چې په خپلو وینو کښې دې
لتې وهلې، نو کله چې تۀ په وینو کښې ککړ پروت وې نو ما
درته وفرمائیل چې ژوندئ اوسه. ۷ ما تۀ لکه د بوټی په
شان لویه کړې. تۀ لویه شوې او لوړه دنګه شوې او یوه پېغله
درنه جوړه شوه، ستا سینې راوشوې، او ستا د سر وېښتۀ
رالوئ شُو خو تۀ لا تر اوسه بربنډه او لغړه وې. ۸ لږ
وروستو زۀ په تا تېرېدم، نو کله چې ما تا ته وکتل نو ومې
لیدلې چې تۀ د مینې کولو قابله شوې، ما د خپلو جامو یو
حِصه په تا وغوړوله او ستا شرم مې پټ کړو. ما قسم
وخوړلو او تا سره مې لوظ وکړو، مالِک قادر مطلق خُدائ
وفرمائیل، او تۀ زما شوې. ۹ تۀ ما په اوبو ولمبولې او ستا
نه مې وینه صفا کړه او ستا په بدن مې تېل ولګول. ۱۰ ما تا
ته د ګُلکاری جامې درواغوستلې او د څرمنې پېزار مې درته
په پښو کړو. ما درته ښکلې د کتان او د رېښمو قیمتی جامې
درواغوستلې. ۱۱ ما تۀ په کالو سنګار کړې، ما ستا په لاس
کښې بنګړی او په غاړه کښې مې درته امیل واچولو. ۱۲ او

ما په پوزه کښې درته نتکۍ او په غوږونو کښې مې والۍ درته
واچولې او ښائسته تاج مې در په سر کړو. ۱۳ نو تۀ په
سپينو او سرو زرو سنګار شوې، تا د قيمتى کتان او ګُلکارۍ
جامې واغوستې. ستا خوراک ښۀ اوړۀ، شات او د زيتُونو
تيل وُو. تۀ ډيره ښکلې شوې او ستا نه مَلِکه جوړه شوه. ۱۴
او ستا د ښُکلا مشهورتيا په نورو قومونو کښې ډنډوره شوه،
ستا ښائست کامِل وو ځکه چې ما د خپل شان او شوکت نه
تا له دا درکړې وُو، قادر مطلق خُدائ داسې فرمائى. ۱۵ خو
تا په خپله ښُکلا او شُهرت باندې بهروسه وکړه او خپل
شُهرت دې د کنجرتوب دپاره استعمال کړو. ستا د کنجرتوب
نه څوک هم په لار بچ نۀ شُو او خپل حسن دې باد کړو. ۱۶
تا خپلې جامې واخستې او په خپلو جامو دې زيارت رنګينه
کړو، هلته دې کنجرتوب شروع کړو. نۀ داسې کارونه
مخکښې شوى وُو او نۀ به وروستو وشى. ۱۷ تا خپل ځان
سره قيمتى کالى هم واخستل کوم چې ما تا له درکړى وُو،
کوم چې ما د سرو او سپينو زرو نه جوړ کړى وُو، او تا د
هغوئ نه ځانله نارينه بُتان جوړ کړل او د هغوئ سره په زنا
کولو مصروفه شوې. ۱۸ او تا په هغوئ باندې خپلې د کار
جامې وغوړولې او تا هغوئ ته زما د تيلو او خوشبويۍ نذرانې
پيش کړې. ۱۹ کوم خوراک چې ما تاسو ته د خوړلو دپاره
درکړے وو، لکه ښۀ اوړۀ، د زيتُونو تيل او شات ما تاسو ته
د خوړلو دپاره درکړل، خو تاسو هغه بُتانو ته د خوشبويۍ د
نذرانو په شکل وړاندې کړل. دا د مالِک قادر مطلق خُدائ
وينا ده. ۲۰ او تاسو خپل زامن او لوڼه بوتلل کوم چې تاسو
زما دپاره پيدا کړى وُو او هغوئ مو د خوراک په توګه بُتانو
ته قربانى کړل. ولې ستا خپله زناکارى کافى نۀ وه څۀ؟ ۲۱

تا زما بچی حلال کړل او بُتانو ته دې قربانی کړل. ۲۲ ستا
په ټولو حرامو کارونو او ستا په زناکارۍ کښې تا ته خپل د
ځوانۍ عمر ياد نۀ وو، کله چې تۀ برېنډه او لغړه وې او په
خپلو وينو کښې دې لتې وهلې.“

## د يروشلم د کنجرتوب ژوند

۲۳ ”افسوس، افسوس دې وی په تاسو، مالِک قادر مطلق
خُدائ فرمائی. د دې باوجود ستاسو د خپلو نورو ټولو
شرارتونو سره، ۲۴ تا په هر يو چوک کښې د ځان دپاره
زيارتونه او بُت‌خانې جوړې کړې. ۲۵ تا د سړک په هر يو
ګوټ کښې بُت‌خانې جوړې کړې او خپله بې‌حرمتی دې وکړه
او په لاره هر يو تېرېدونکی ته دې پښې ورتېرې کړې او هغوئ
سره دې کنجرتوب وکړو. ۲۶ تۀ د خپلو شهوت پرستو
ګاونډيانو مِصريانو سره په زناکارۍ کښې آخته شوې، او تا
د ډېرې زنا کولو په وجه زما قهر او غضب راوپارولو. ۲۷
نو بيا ما خپل لاس ستا خلاف دراوږد کړو او ستا ملکيت مې
کم کړو، او ما تۀ خپلو حرصناکو دشمنانو ته حواله کړې،
يعنې د فلستيه لوڼو ته چا ته چې ستا د بې‌حيا کارونو نه حيا
ورتله. ۲۸ تۀ د اسوريانو سره هم په زناکارۍ کښې مصروفه
شوې، ځکه چې ستا شوق نۀ پوره کېدو، بلکې د دې نه
وروستو هم تۀ يخه نۀ شوې. ۲۹ نو بيا تا خپله زناکاری د
بابليانو مُلک پورې اوږده کړه، چې د سوداګرو مُلک دے،
خو هغوئ هم ستا شوق پوره نۀ کړو. ۳۰ مالِک قادر مطلق
خُدائ فرمائی چې تۀ د زړۀ نه څومره مجبوره يې چې تا لکه
د بې‌حيا کنجرې په شان کارونه وکړل. ۳۱ کله چې تا خپلې
بُت‌خانې د کوڅې په هر ګوټ کښې جوړې کړې او په هر

چوک کښې دې د خپل ځان دپاره زيارتونه جوړ کړل، تهٔ د
عام کنجرې په شان نهٔ وې ځکه چې تا پېسې اخستل بد ګڼل.
۳۲ تهٔ هغه زناکاره ښځه يې چې د خپل خاوند په ځائ پردو
سړو سره بدکاری کوې. ۳۳ هره يوه کنجره پېسې اخلی،
خو تهٔ خپلو عاشقانو له تحفې ورکوې، هغوئ له خرچه
ورکوې چې تا له د هرې خوا نه د ناروا کارونو دپاره راشی.
۳۴ نو تهٔ په خپلې زناکارئ کښې د نورو نه بدله يې. ستا د
شوق دپاره هيڅ څوک تا پسې نهٔ ګرځی. تهٔ بلکل د نورو نه
بدله يې، ځکه چې تهٔ خرچه ورکوې خو تهٔ په خپله څهٔ نهٔ
اخلې. ۳۵ نو بيا تهٔ اے زناکارې، د مالِک خُدائ کلام ته
غوږ ونيسه. ۳۶ مالِک قادر مطلق خُدائ داسې فرمائی چې،
ځکه چې تا خپل مال دولت په خپلو عاشقانو خرچ کړو او
خپله حيا دې د بدکارئ په وخت کښې څرګنده کړه، ستا د
ټولو خرابو بُتانو په وجه، ځکه چې تا هغوئ ته د خپلو بچو
وينه پېش کړه، ۳۷ نو په دې وجه به زهٔ ستا ټول عاشقان يو
ځائ ته راغونډ کړم، د چا نه چې تا خوندونه اخستل، د چا
سره چې تا مينه کوله او هغوئ د چا نه چې تا نفرت کولو.
زهٔ به ستا ټول دشمنان د هر ځائ نه راغونډ کړم او د هغوئ
په وړاندې به دې برېنډه کړم تر هغې چې هغوئ ټول تا په
مکمل توګه لغړه وګوری. ۳۸ زهٔ به تا ته د هغه ښځو سزا
درکړم چا چې زنا کړې ده او چا چې وينه تويه کړې ده، زهٔ
به تا نه په خپل غيرت او قهر او غضب کښې د قتل کولو بدله
واخلم. ۳۹ نو بيا به زهٔ تا خپلو عاشقانو ته حواله کړم، او
هغوئ به ستا بُتخانې ورانې کړی او ستا زيارتونه به تباه
کړی. او هغوئ به ستا نه جامې او قيمتی کالی کوز کړی او
برېنډه او لغړه به دې پرېږدی. ۴۰ هغوئ به ستا خلاف

جلوس راوکاړی څوک چې به تا سنګسار کړی او تا به په
خپلو تُورو سره ټوټه ټوټه کړی. ٤١ هغوئ به ستا کورونه
وسوزوی او د ډېرو ښځو په وړاندې به تا له سزا درکړی. زۀ
به ستا کنجرتوب بند کړم. او تۀ به نور خپلو عاشقانو له
پېسې نۀ ورکوې. ٤٢ نو بیا به زما غصه سړه شی او زما د
غېرت قهر به سوړ شی، او زۀ به په آرام شم او نور به تا ته نۀ
غصه کېږم. ٤٣ ځکه چې تا ته د خپلې ځوانۍ ورځې يادې
نۀ دی خو زۀ تا په دې څيزونو سره غصه کړم. تا چې کوم
بد عملونه کړی دی زۀ به د هغې ټولو بدله ستا نه واخلم،
مالِک قادر مطلق خُدائ فرمائی. ته د خپلې ټولې حرام کارۍ
سره په شهوت پرستۍ کښې د حد نه تېره شوې.“

## يروشلم لکه د سدوم او سامريه په شان دے

٤٤ ”هر څوک چې متلونه وائی نو دا متل به ستا په حقله
وائی چې، څنګه يې مور وی هغسې يې لور وی. ٤٥ تۀ د
خپلې مور رښتينې لور يې، چا چې د خپل خاوند نه او د
خپلو ماشومانو نه نفرت وکړو، او تۀ د خپلې خور رښتينې
خور يې، چا چې د خپلو خاوندانو او ماشومانو نه کرکه
کوله، ستا مور حِتی وه او ستا پلار اموری وو. ٤٦ ستا
مشره خور سامريه وه، څوک چې ستا شمال خوا ته خپلو
لوريانو سره اوسېږی، او ستا کشره خور څوک چې په
جنوب کښې د خپلو لوريانو سره اوسېږی، هغه سدوم دے.
٤٧ دا نۀ چې تۀ صرف د هغوئ په نقش قدم باندې روانه يې
او د هغوئ د حرامو کارونو پيروی دې وکړه بلکې په خپلو
ټولو کردارونو کښې تۀ ډېره زر د هغوئ نه بدتره شوې. ٤٨
مالِک قادر مطلق خُدائ فرمائی چې، زما دې په خپل ذات

قسم وی، تر دې چې ستا خور سدوم او د هغې لوريانو کله
هم داسې بد کارونه نهٔ وُو کړی کوم چې تا او ستا لوريانو
وکړل. ۴۹ نو د ستا د خور سدوم ګناه وه چې، هغې او د
هغې لوڼو کبر کولو، او هغوئ خېټه ورې وې او د آرام ژوند
يې تېرولو، خو د غريبو او ضرورتمندو سره يې امداد نهٔ
کولو. ۵۰ هغوئ کبرژن وُو او حرام کارونه يې زما په
وړاندې وکړل. نو په دې وجه ما هغوئ لرې کړل لکه څنګه
چې تاسو وليدل. ۵۱ سامريې ستا د ګناه په نيمه حِصه هم
ګناه نهٔ ده کړې، تا د هغوئ نه ډېر زيات حرام کارونه کړی
دی، او کوم حرام کارونه چې تا کړی دی تا خپلې خوېندې د
هغوئ په نسبت ويخښلې. ۵۲ نو تهٔ اوس په شرم وشرمېږه،
ستا ګناهونه دومره خراب دی چې تا خپلې خوېندې ويخښلې
او هغه دې صادقه وګرځولې.“

## د سدوم او سامريه بيا ودانول

۵۳ ”خو زهٔ به د سدوم او د هغې د لوريانو ژوندون دوباره
بحال کړم او د سامريه او د هغې د لوريانو ژوندون به هم
بحال کړم او ستا حالت به هم ورسره ښهٔ کړم. ۵۴ نو تهٔ به
په خپل شرم رسوا شې او په خپلو کړو به وشرمېږې. سدوم
او سامريه به خوشحاله شی چې هغوئ ستا په شان ګناهګار
نهٔ دی. ۵۵ او ستا خوېندې، سدوم او د هغې لوڼه او
سامريه او د هغې لوڼه، او تهٔ او ستا لوڼه، به بيا دوباره په
هغه حالت شئ لکه څنګه چې تول د اول نه وئ. ۵۶ د خپلې
مغرورتيا په ورځو کښې تا خپلې خور سدوم پورې خندا
کوله. ۵۷ خو اوس ستا بدعملونه ټولې دُنيا ته ښکاره شول.
اوس تهٔ په خپله په شرمونو کښې پټه شوې او ادوم او د

هغوئ ګاونډیان او فلستیان ستا نه نفرت کوی. ۵۸ تهٔ به د
خپلې عیاشئ او حرام کارونو سزا وزغمې، مالِک خُدائ
فرمائی."

## ابدی لوظ

۵۹ مالِک قادر مطلق خُدائ داسې فرمائی چې، "زهٔ به تا
سره هغه شان سلوک وکړم د کوم چې تهٔ حقدار يې، ځکه
چې د لوظ په ماتولو سره تا د قسم خوړلو سپکاوے وکړو.
۶۰ خو ما ته لا تر اوسه پورې هغه لوظ ياد دے کوم چې ما
تا سره ستا د ځوانئ په ورځو کښې کړے وو، او زهٔ به تا
سره ابدی لوظ وکړم. ۶۱ نو تهٔ به خپل هغه بد عملونه رایاد
کړې کوم چې تا کړی دی او په هغې به شرمنده شې کله چې
تهٔ خپلې مشرې او کشرې خوېندې سره مِلاو شې. زهٔ به تا ته
هغوئ لکه د لوڼو په شان درکړم خو په دې بنیاد نهٔ چې تا په
لوظ عمل کړے دے. ۶۲ نو زهٔ به خپل لوظ تا سره تازه
کړم، نو تهٔ به په دې پوهه شې چې زهٔ مالِک خُدائ يم. ۶۳
کله چې زهٔ ستا ټول کارونه تا ته معاف کړم کوم چې تا کړی
دی، نو تا ته به دا ګناهونه ياد وی او په هغې به دومره
شرمېږې چې بيا به يې نوم په خولهٔ نهٔ اخلې، مالِک قادر
مطلق خُدائ داسې فرمائی."

## د باز او د انګورو د بوټی مثال

۱۷ ۱ د مالِک خُدائ کلام په ما نازل شو، ۲ "اے
بنی آدمه، بنی اِسرائيل قوم ته يو مثال پېش کړه او يو متل
ورته ووايه. ۳ هغوئ ته ووايه، مالِک قادر مطلق خُدائ

داسې فرمائی چې، د طاقتورو وزرو او د اوږدو او رنګينه بڼو والا غټ باز لبنان ته راغلو. هغۀ د دِيار لوړه څوکه راونيوله.
۴ هغۀ ځان سره د دې د سر نه کچه څانګه راپرې کړه او
د سوداګرو مُلک ته يې يوړه، کومه چې هغۀ هلته د سوداګرو
په ښار کښې وکَرله. ۵ هغۀ ستا د مُلک نه دا بوټے
راواخستو او په زرخيزه زمکه کښې يې وکَرلو. هغۀ دا لکه د
خاروِلی په شان د روانو اوبو په غاړه وکَرلو. ۶ نو هغه
راوټوکيدو او په زمکه لکه د انګور د بوټی په شان خور شو. د
دې څانګې د هغۀ طرف ته اوږدې شوې، خو جرړې يې لاندې
په زمکه کښې پاتې شوې. نو دا لکه د انګورو د ونې په شان
شوه او نوې څانګې يې پيدا کړې او په پاڼو پټه شوه. ۷ خو
يو بل غټ باز وو چې طاقتور وزرونه يې وُو او په بڼو پټ وُو.
هغه د انګور بوټے هغه ځائ نه چرته چې کَرلے شوے وو
خپلې جرړې او څانګې د اوبو دپاره هغۀ ته وراوږدې کړې.
۸ هغه په ښۀ خاوره کښې د ډېرو اوبو په خوا کښې کَرلے
شوے وو چې څانګې وکړی، ميوه ونيسی او يو شاندار بوټے
ترې جوړ شی. ۹ هغوئ ته ووايه، مالِک قادر مطلق خُدائ
داسې فرمائی چې، ولې دا بوټے به کامياب شی څۀ؟ ولې دا
به د جرړو نه راونۀ باسی څۀ؟ او ولې هغه به د ميوو نه خالی
نۀ کړی څۀ؟ د هغۀ ټولې څانګې به وچې شی. د دې د
راويستلو دپاره د طاقتور لاس او ډېرو کسانو ضرورت نشته
چې د جرړو نه يې راوباسی. ۱۰ کۀ څۀ هم چې دا بل ځائ
وکرلے شی، ولې دا به کامياب شی څۀ؟ ولې دا به بلکل اوچ
نۀ شی کله چې د مشرق بادونه دا ووهی؟ دا به په هغه پټی
کښې اوچ نۀ شی چرته چې را لوئ شوے وو؟“

## د دې مثال وضاحت

١١ بيا د مالِک خُدائ کلام په ما نازل شو، ١٢ ”دې سرکشه قوم ته ووايه چې، تاسو په دې نۀ پوهېږئ چې د دې مثال څۀ مطلب دے؟ هغوئ ته ووايه چې، د بابل بادشاه يروشلم ته لاړو او د هغې بادشاه او سپين روبى يې بوتلل، او د خپل ځان سره يې بابل ته راوستل. ١٣ بيا هغۀ د شاهى خاندان نه يو کس خوښ کړو، او د هغۀ سره يې لوظ وکړو او د وفادارئ قسم يې ترې نه واخستلو. هغۀ د ځان سره د مُلک مشران هم بوتلى وُو، ١٤ نو چې د هغوئ بادشاهت کمزورے شى چې بيا د سر اوچتولو قابل نۀ شى. نو دغه شان اِسرائيل به په خپلې وفادارئ ژوندى پاتې شى. ١٥ خو د يهوداه بادشاه د هغۀ په خلاف بغاوت وکړو چې هغۀ خپل قاصدان مِصر ته ولېږل او هلته نه يې آسونه او لوئ لښکر راوستو. ولې هغه به کامياب شى؟ ولې څوک چې داسې کارونه وکړى بچ به شى؟ ولې هغه به د لوظ په ماتولو د تکليف نه خلاص شى؟ ١٦ مالِک قادر مطلق خُدائ فرمائى چې، زما دې په خپل ذات قسم وى، هغه به د بابل په مُلک کښې مړ شى، د هغه بادشاه په مُلک کښې چا چې هغه په تخت کښېنولے وو، د چا قسم ته چې هغۀ سپک وکتل او چې د چا لوظ يې مات کړو. ١٧ فِرعون به د خپلو تکړه سپاهيانو او غټو لښکرو سره په جنګ کښې د هغۀ مدد ونۀ کړى، کله چې دشمن د ښار محاصره وکړى او د حملې دپاره د خاورو غونډئ جوړې کړى د دې دپاره چې ډېر خلق تباه کړى. ١٨ هغۀ د لوظ په ماتولو سره د قسم سپکاوے وکړو، ځکه چې هغۀ د لوظ دپاره خپل لاس ورکړو او اوس

يې دا ټول کارونه وکړل نو هغه به بچ نۀ شی. ۱۹ نو په دې وجه مالِک قادر مطلق خُدائ داسې فرمائی چې، زما دې په خپل ذات قسم وی، چې هغۀ زما لوظ مات کړو او زما قسم ته يې سپک وکتل نو زۀ به د خپل هغه قسم نقصان د هغۀ په سر راولم. ۲۰ زۀ به د هغۀ دپاره خپل جال خور کړم، او هغه به زما په دام کښې راګېر شی. زۀ به هغه بابل ته راولم او خپل قضاوت به هلته په هغۀ باندې وکړم ځکه چې هغه ما سره بې‌وفائی وکړه. ۲۱ د هغۀ د ټولو نه تکړه فوجيان به په تُوره مړۀ شی. او بچ پاتې شوی به په هوا کښې خوارۀ شی. نو بيا به تۀ په دې پوهه شې چې ما مالِک خُدائ دا فرمائيلی دی.“

## د خُدائ پاک د اُميد وعده

۲۲ مالِک قادر مطلق خُدائ داسې فرمائی چې، ”زۀ به په خپله د دِيار د لوړې څوکې نه يوه څانګه راواخلم او هغه به وکرم، زۀ به يوه نازکه څانګه د يو لوَړ دِيار د څوکې نه راپرې کړم او هغه به په يو لوړ او اوچت غر وکرم. ۲۳ زۀ به يې د اِسرائيل په اوچتو غرونو وکرم، هغه به څانګې وکړی او مېوه به ونيسی او هغه به يو شاندار دِيار شی. هر قسمه مرغۍ به په کښې جالې جوړې کړی، او هغوئ به د دې د څانګو سورې کښې پناه اخلی. ۲۴ په زمکه کښې ټولې ونې به په دې پوهه شی چې زۀ مالِک خُدائ لوړه ونه لاندې کوم او ټيټه ونه زۀ لوړه کړم. زۀ شنه ونه اوچوم او اوچه ونه زۀ تازه او شنه کوم. ما مالِک خُدائ داسې وفرمائيل او زۀ به داسې وکړم.“

# هر څوک د خپلې ګناه ذمه وار دے

۱۸ ۱ د مالِک خُدائ کلام په ما نازل شو، ۲ ”ستاسو
خلقو د اِسرائيل د مُلک په حقله د دې متل د وئيلو نه څهٔ
مطلب دے چې وائى، تراوهٔ انګور يې پلار وخوړل، او
غاښونه يې د بچو په برېښ شُو؟ ۳ زما دې په خپل ذات
قسم وى مالِک قادر مطلق خُدائ فرمائى چې، تاسو به په
اِسرائيل کښې نور دا متل ونهٔ کړئ. ۴ ځکه چې هر ژوندے
ځان زما دے، پلار او د هغهٔ زوئ دواړه يو شان زما دى.
څوک چې ګناه وکړى هم هغه به مړ کيږى. ۵ کهٔ يو صادق
سړے هغه څهٔ کوى څهٔ چې صحيح وى او د اِنصاف په
مطابق وى. ۶ نهٔ هغه د غرونو دپاسه په بُتخانو کښې
خوراک کوى او نهٔ د بنى اِسرائيلو د قوم د بُتانو عبادت کوى
او نهٔ هغهٔ د خپل ګاونډى د ښځې سره زنا کوى، او نهٔ د
ماهوارۍ په دوران کښې د ښځې سره کوروالے کوى. ۷
هغه په هيچا باندې ظلم نهٔ کوى، او په امانت کښې خيانت نهٔ
کوى او هغه پوره واپس کوى. هغه غلا نهٔ کوى، خو خپل
خوراک په غريبانانو تقسيموى او بربنډو له جامې ورکوى.
۸ هغه قرض د سود دپاره نهٔ ورکوى او ناروا ګټه هم نهٔ
کوى، بدو کارونو نه ځان ساتى او د دوو کسانو په لانجه
کښې د صحيح اِنصاف فيصله کوى. ۹ هغه زما د قانون
پيروى کوى او په وفادارۍ سره زما قانون منى، هم دا کس
صادق دے هغه به په يقين سره ژوندے پاتې شى، مالِک قادر
مطلق خُدائ فرمائى. ۱۰ نو بيا فرض کړئ چې د دهٔ يو
ظالم زوئ دے چې هغه قتل و غارت او نور داسې خراب
کارونه هم کوى، ۱۱ پلار يې داسې کارونه نهٔ وُو کړى چې

زوئ يې کوي. هغه د غرونو دپاسه په بُت‌خانو کښې هم
خوراک کوي او د خپل ګاونډي د ښځې سره زنا هم کوي.
(۱۲) هغه په غريبانانو او ضرورتمندو ظلم کوي او غلاګانې
کوي. او هغه چې ضمانت واخلي بيا يې نۀ واپس کوي، او
هغه د بُتانو عبادت کوي او حرامکاري کوي. (۱۳) هغه په
سود پيسې ورکوي او ډېره زياته ګټه اخلي. آيا داسې کس به
ژوندے پاتې شي څۀ؟ نه هغه به پاتې نۀ شي. ځکه چې هغۀ دا
ټول حرام کارونه وکړل، په يقين سره هغه به مړ شي او د هغۀ
خون به د هغۀ د خپلې غاړې وي. (۱۴) خو فرض کړئ چې د
دې زوئ يې يو زوئ وي څوک چې د خپل پلار ټول ګناهونه
ويني، کۀ څۀ هم چې هغه دا ويني خو بيا هم هغه د خپل پلار
غوندې کارونه نۀ کوي. (۱۵) هغه په غرونو د بُت‌خانو خوراک
نۀ خوري، او نۀ د بني اِسرائيل د قوم د بُتانو عبادت کوي، او
نۀ هغه د خپل ګاونډي د ښځې سره زنا کوي. (۱۶) هغه نۀ په
چا ظلم کوي، او په امانت کښې خيانت نۀ کوي، هغه غلا نۀ
کوي خو خپل خوراک په غريبانانو تقسيموي او بربنډو له
جامې ورکوي. (۱۷) هغه خپل لاس په بدو کارونو نۀ پليتوي
او سود نۀ اخلي او په ګټه پيسې نۀ ورکوي، هغه زما په
شريعت عمل کوي او زما د تعليماتو پيروي کوي. داسې
سړے به د خپل پلار د ګناه په وجه مړ نۀ شي، يقيناً به هغه
ژوندے پاتې شي. (۱۸) بلکې د هغۀ پلار به ضرور د خپلو
ګناهونو دپاره مړ شي، ځکه چې هغۀ ظلم کولو، د خپلو
ورونړو نه يې غلا کوله او هغه کارونه يې کول کوم چې د هغۀ
د قوم په مينځ کښې غلط وُو. (۱۹) خو بيا تاسو تپوس کوئ
چې زوئ يې ولې د خپل پلار په جرم کښې شريک نۀ دے؟
ځکه چې زوئ يې هغه څۀ کړي دي څۀ چې صحيح دي او د

اِنصاف په مطابق دی او زما په حکمونو په وفادارۍ سره عمل کوی، هغه به یقیناً ژوندے پاتې شی. ۲۰ کوم کس چې ګناه وکړی هم هغه کس به مړ شی. زوئ به د پلار په ګناه نۀ شی نیولے، او نۀ به پلار د زوئ په ګناه کښې نیولے شی. د صادق انسان صداقت به هغۀ ته په نېکۍ کښې حساب شی، او بدعمله ته به د بدعملۍ سزا مِلاو شی. ۲۱ خو کۀ یو بدعمله کس د خپلو ټولو ګناهونو نه مخ واړوی کوم چې هغۀ کړی دی او زما په ټول قانون عمل وکړی او هغه کارونه کوی څۀ چې د اِنصاف او صحیح وی، نو په یقین سره به هغه ژوندے پاتې شی، هغه به مړ نۀ شی. ۲۲ هغه ګناهونه چې د هغۀ نه شوی دی یو به هم د هغوئ خلاف نۀ حسابوم. د هغه ښۀ کارونو په وجه کوم چې هغوئ کړی دی، هغوئ به ژوندی پاتې شی. ۲۳ مالِک قادر مطلق خُدائ فرمائی چې، ولې تاسو دا سوچ کوئ چې زۀ د شریرانو په هلاکت خوشحالیږم؟ بلکل نه، زۀ غواړم چې هغه د خپلو خرابو لارو نه واوړی او ژوندے پاتې شی. ۲۴ خو کۀ چرې یو صادق انسان د خپلو نېکو کارونو نه واوړی او ګناه وکړی او حرام کارونه وکړی کوم چې یو بدعمله کس کوی ولې هغه به ژوندے پاتې شی؟ یو صادق کار به یې هم حساب نۀ شی کوم چې هغۀ کړی دی. د هغه بې‌ایمانۍ په وجه کومه چې هغۀ کړې ده او کوم ګناهونه یې چې کړی دی د هغې په بدله کښې به هغه مړ شی. ۲۵ خو بیا تاسو وایئ چې، د مالِک خُدائ کارونه د اِنصاف نۀ دی، اے د بنی اِسرائیل قومه، ما ته غوږ شئ، آیا تاسو دا خیال کوئ چې زما کارونه بې‌اِنصافه دی؟ خو دا ستاسو عملونه دی چې بې‌اِنصافه دی. ۲۶ کۀ چرې یو صادق انسان خپل صداقت پرېږدی او ګناهونه شروع

کړی، هغه به د دې په وجه مړ شی. د هغه ګناهونو په وجه کوم چې هغهٔ وکړل. ۲۷ خو کهٔ چرې يو بدعمله انسان د خپلو ګناهونو نه واوړی کوم چې هغهٔ کړی دی او هغه څهٔ کوی چې صحيح او د اِنصاف په مطابق دی، هغه به خپل ژوند بچ کړی. ۲۸ کهٔ هغه په خپلو ګناهونو غور وکړی او هغه پرېږدی کوم چې هغهٔ کړی دی، نو يقيناً به هغه ژوندے پاتې شی او مړ به نهٔ شی. ۲۹ خو د بنی اِسرائيلو قوم وائی چې د مالِک خُدائ کارونه د اِنصاف نهٔ دی. اے د بنی اِسرائيل قومه، ولې زما کارونه بې‌اِنصافه دی؟ ولې ستاسو کارونه بې‌اِنصافه نهٔ دی؟ ۳۰ نو په دې وجه، اے د بنی اِسرائيلو قومه، زهٔ به ستاسو د هر يو کس د اعمالو په مطابق ستاسو عدالت وکړم، مالِک قادر مطلق خُدائ فرمائی. توبه وباسئ. د خپلو ټولو ګناهونو نه واوړئ، نو بيا به ګناه ستا د هلاکت سبب نهٔ وی. ۳۱ خپلو ټولو ګناهونو ته شا کړئ کوم چې تاسو کړی دی، او په خپل ځان کښې نوے زړهٔ او نوے روح پيدا کړئ. تاسو ولې مړ کېدل غواړئ، اے د بنی اِسرائيل قومه؟ ۳۲ زهٔ د هيچا په هلاکت نهٔ خوشحالېږم، مالِک قادر مطلق خُدائ فرمائی. توبه وباسئ او ژوندی پاتې شئ.“

## د اِسرائيل د شهزادګانو په حقله مرثيه

۱۹ ۱ د اِسرائيل د شهزادګانو په حقله دا مرثيه ووايه، ۲ ستا مور د زمرو په مينځ کښې څهٔ تکړه زمرۍ وه، هغه د ځوانانو زمرو په مينځ کښې پرته وه او خپل بچی يې لوئ کړل. ۳ هغې خپل يو بچے لوئ کړو، او د هغهٔ نه يو تکړه

زمرے جوړ شو. هغهٔ د ښکار کولو طریقه زده کړه، او
انسانان یې خوړل. ۴ مُلکونو د هغهٔ په حقله واورېدل، او
هغه یې په کنده کښې ګېر کړو. هغوئ هغه پېزوانی د مِصر
مُلک ته بوتلو. ۵ خو کله چې هغې خپل اُمید نامکمله
ولیدلو، د هغې طمع ختمه شوه، هغې خپل بل بچے
راواخستو او د هغهٔ نه یې یو تکړه زمرے جوړ کړو. ۶ هغه
د نورو زمرو په مینځ کښې ډاڼه ګرځېدو راګرځېدو، ځکه چې
هغهٔ نه یو تکړه زمرے جوړ شوے وو. هغهٔ د ښکار کولو
طریقه زده کړه، او انسانان به یې هم خوړل. ۷ هغهٔ د
هغوئ قلعې ماتې کړې او د هغوئ ښارونه یې تباه کړل. هغه
مُلک او ټول هغه کسان چې په کښې اوسېدل د هغهٔ د
غړمبېدو نه یرېدل. ۸ نو بیا د هغهٔ نه ګېرچاپېره مُلکونو نه
قومونه د هغهٔ خلاف راغلل. هغوئ خپل جال د هغهٔ دپاره
خور کړو، او هغه د هغوئ په کنده کښې راګېر شو. ۹
هغوئ هغه پېزوانی کړے راښکلو او په پنجره کښې یې بند
کړو او هغه یې د بابل بادشاه له راوستو. هغوئ هغه په
قېدخانه کښې واچولو، ترڅو چې نور د اِسرائیل په غرونو د
هغهٔ غړمبېدل وانهٔ ورېدلے شی. ۱۰ ستاسو مور ستاسو د
انګورو باغ کښې لکه د انګور د بوټی په شان وه چې د اوبو په
سر کَرلے شوې وه. د ډېرو اوبو په وجه هغه مېوه داره او د
څانګو نه ډکه شوه. ۱۱ د هغې څانګې مضبوطې وې، او د
بادشاهانو د امساګانو جوړولو دپاره جوګه وې. دا د نورو
ګڼو بوټو نه ډېره زیاته اوچته شوه، او د خپل ګڼوالی او
اوچتوالی په وجه د هر چا په نظر راتله. ۱۲ خو په غصه
کښې دا د جړړو نه راوویستلے شوه او په زمکه وغورزولے
شوه. د مشرق هواګانو دا مړاوې کړه، دا د مېوو نه خالی

شوه، د دې مضبوطې څانګې وچې شوې، او اور هغه
وسوزولې. ۱۳ نو اوس دا په بيابان کښې په اوچه او ترږې
زمکه کښې وکرلے شوه. ۱۴ اور د دې د يو خاص څانګې
نه خور شو، او د دې مېوه يې وسوزوله. يوه مضبوطه څانګه
په کښې پاتې نۀ شوه چې د بادشاه د امسا جوړولو جوګه
وى. دا د غم يوه مرثيه ده، او د مرثيه په توګه استعمال شوې
ده.

## سرکشه بنى اِسرائيل

۲۰ ۱ د اوؤم کال، د پينځمې مياشتې په لسمه ورځ، د
اِسرائيل يو څو مشران راغلل او زما په وړاندې کښېناستل او
د خپل ځان په حقله يې زما نه د مالِک خُدائ د پېغام تپوس
وکړو. ۲ نو د مالِک خُدائ کلام په ما نازل شو چې، ۳
”اے بنى آدمه، د اِسرائيل د مشرانو سره خبرې وکړه او ورته
ووايه چې، مالِک قادر مطلق خُدائ داسې فرمائى، آيا تاسو
راغلى يئ چې زما نه معلومات حاصل کړئ؟ زما دې په خپل
ذات قسم وى، زۀ به تاسو ته معلومات درنۀ کړم. قادر مطلق
مالِک خُدائ فرمائى. ۴ اے بنى آدمه، ولې تۀ غواړې چې د
هغوئ عدالت وکړې؟ نو کۀ تۀ داسې کوې نو بيا هغوئ ته د
هغوئ د پلار نيکۀ حرام کارونه وروښايه. ۵ او هغوئ ته
ووايه چې، مالِک قادر مطلق خُدائ داسې فرمائى، په کومه
ورځ چې ما بنى اِسرائيل غوره کړل، ما د يعقوب د اولاد سره
قسم وکړو او خپل ځان مې هغوئ ته په مِصر کښې ښکاره
کړو. په قسم سره ما هغوئ ته وفرمائيل، زۀ ستاسو مالِک
خُدائ پاک يم. ۶ په هغه ورځ ما هغوئ سره قسم وکړو

چې زۀ به هغوئ د مِصر نه هغې زمکې ته راولم کومه چې ما
هغوئ دپاره خوښه کړې ده، هغه زرخيزه مُلک ته کوم چې د
ټولو مُلکونو نه ډېر ښکلے دے. ۷ او ما هغوئ ته ووئيل
چې، تاسو ټول هغه پليت بُتان د خپلې مخې نه اخوا کړئ
کوم چې تاسو د خپلو سترګو د وړاندې اېښى دى، او خپل
ځانونه د مِصر په بُتانو مۀ پليتوئ. زۀ ستاسو مالِک خُدائ
يم. ۸ خو هغوئ زما خلاف سرکشى وکړه او ما ته يې غوږ
ونۀ نيولو، او يو هم د خپلو بُتانو نه لاس وانۀ خستو په کومو
چې د هغوئ توجو وه، او نۀ هغوئ د مِصر بُتان پرېښودل. بيا
ما ووئيل، زۀ به خپل غضب په هغوئ نازل کړم او زۀ به
خپله غصه د هغوئ خلاف په مِصر کښې سړه کړم. ۹ خو
بيا، د دې په وجه ما د خپل نوم د خاطره هغه څۀ وکړل څۀ
چې به هغوئ د هغه قومونو د وړاندې د سپکوالى نه وساتى د
چا په مينځ کښې چې دوئ اوسېدل او د چا په وړاندې چې ما
خپل ځان بنى اِسرائيلو ته د مِصر نه په راويستلو ښکاره
کړو. ۱۰ نو په دې وجه هغوئ ما د مِصر نه راوويستل او
بيابان ته مې راوستل. ۱۱ ما هغوئ له خپل حُکمونه ورکړل
او خپل قانون مې هغوئ ته وښودلو، هر څوک چې په دې
عمل کوى نو هغوئ به ژوندى پاتې شى. ۱۲ ما ورته د سبت
ورځ هم ورکړه چې دا زمونږ دواړو په مينځ کښې د لوظ نښه
وى، نو چې هغوئ په دې پوهه شى چې ما مالِک خُدائ دوئ
مقدس کړى دى. ۱۳ خو د بنى اِسرائيلو خلقو په صحرا
کښې هم زما خلاف سرکشى وکړه. هغوئ زما په حکمونو
عمل ونۀ کړو او زما شريعت يې رد کړو، او دا چې چا هم په
دې عمل وکړو هغه به په دې ژوندى پاتې شى. خو هغوئ په
ښکاره توګه زما د سبت بې‌عزتى وکړه. نو ما وفرمائيل چې

زهٔ به خپل قهر او غضب په دوئ نازل کړم او هغوئ به په
صحرا کښې تباه کړم. ۱۴ بلکې د خپل نوم دپاره ما هغه څهٔ
وکړل څهٔ چې به هغه د هغه قومونو د سترګو د وړاندې د
سپکوالی نه وساتی چا چې زهٔ ولیدلم چې ما هغوئ بهر
راوویستل. ۱۵ خو بیا په صحرا کښې ما دوئ سره قسم
وکړو چې زهٔ به هغوئ هغه مُلک ته رانهٔ ولم کوم چې ما دوئ
له ورکړے دے هغه مُلک چې زرخیزه دے، چې د ټولو
مُلکونو نه ډیر ښکلے دے، ۱۶ په دې وجه چې هغوئ زما
شریعت رد کړو او زما د حکمونو پیروی یې ونهٔ کړه او زما
د سبت سپکاوے یې وکړو. ځکه چې د هغوئ زړونه خپلو
بُتانو ته وقف شوی وُو. ۱۷ خو بیا هم ما دوئ ته د رحم په
سترګه وکتل او تباه مې نهٔ کړل او نهٔ مې هلته په صحرا کښې
ختم کړل. ۱۸ ما د هغوئ بچو ته په صحرا کښې وفرمائیل
چې، د خپل پلار نیکهٔ د رِواج پیروی مهٔ کوئ او مهٔ د هغوئ
په قانون عمل کوئ او مهٔ د هغوئ په بُتانو خپل ځان پلیتوئ.
۱۹ زهٔ مالِک ستاسو خُدائ پاک یم. زما د حکمونو
پیروی وکړئ او په غور سره زما په قانون عمل وکړئ. ۲۰
زما د سبت ورځ مقدسه وساتئ، ځکه چې دا به زمونږ دواړو
په مینځ کښې د لوظ نښه وی. نو تاسو به په دې پوهه شئ چې
زهٔ مالِک ستاسو خُدائ پاک یم. ۲۱ خو د هغوئ اولاد زما
خلاف سرکشی وکړه، او هغوئ زما د سبت سپکاوے وکړو.
هغوئ زما د حکمونو پیروی ونهٔ کړه، او زما د قانون په
ساتلو یې غور ونهٔ کړو. چا چې د دې تابعداری وکړه نو په
دې به ژوندی پاتې شی. بیا ما وفرمائیل چې، زهٔ به په هغوئ
خپل قهر نازل کړم او خپله غصه به په هغوئ په صحرا کښې
سره کړم. ۲۲ خو ما خپل لاس ترې ونیولو، بلکې د خپل

نوم د خاطره ما هغه ځۀ وکړل ځۀ چې به هغه د هغه قومونو
د سترګو د وړاندې د سپکوالی نه وساتی چا چې زۀ وليدلم
چې ما هغوئ بهر راوويستل. ۲۳ خو ما هم په صحرا کښې
دوئ سره قسم وخوړلو چې زۀ به هغوئ په نورو قومونو او
مُلکونو کښې خوارۀ کړم، ۲۴ ځکه چې هغوئ زما قانون ونۀ
منلو بلکې د منلو په ځائ يې رد کړو او زما د سبت
بې‌حرمتی يې وکړه، او د هغوئ سترګې د هغوئ د پلار نيکۀ
بُتانو ته وې. ۲۵ ما هغوئ فضول قانون او اصُولو ته حواله
کړل کوم چې د ژوند طرف ته نۀ وُو روان. ۲۶ ما هغوئ
پرېښودل چې خپل ځانونه بُتانو ته په نذرانې پېش کولو سره
پليت کړی تر دې چې خپل مشران زامن هم ورته قربان
کړی، نو په دې کار سره به زۀ هغوئ حق حېران کړم تر دې
چې هغوئ به په دې پوهه شی چې زۀ مالِک خُدائ يم. ۲۷ نو
په دې وجه اے بنی آدمه، د بنی اِسرائيلو سره خبرې وکړه او
هغوئ ته ووايه چې مالِک قادر مطلق خُدائ داسې فرمائی
چې، هم داسې ستاسو پلار نيکۀ هم کُفر وکړو او ما سره يې
غداری وکړه. ۲۸ کله چې هغوئ ما هغه مُلک ته راوستل
کوم چې ما د هغوئ سره د ورکولو وعده کړې وه نو هرکله
چې به هغوئ اوچتې غونډۍ يا شنې ونې وليدلې، نو بيا به
هلته هغوئ خپلې قربانۍ پېش کولې، هغوئ داسې قربانۍ بُتانو
ته کولې چې زۀ يې په قهر کړم، او هغوئ هلته خپلې د
خوشبويانو قربانۍ او د خښلو نذرانې پېش کړې. ۲۹ ما بيا
هغوئ ته وفرمائيل، نو دا کوم اوچت ځائ دے چرته چې
تاسو ځئ؟ تر نن ورځې پورې ورته بامه يعنې اوچت ځائ
وائی. ۳۰ په دې وجه د بنی اِسرائيلو قوم ته ووايه، مالِک
قادر مطلق خُدائ داسې فرمائی چې ولې تاسو خپل ځانونه

پلیتوئ لکه څنګه چې ستاسو پلار نیکۀ کړې وُو او د هغه ناپاکه بُتانو سره په زنا کولو خپل ځانونه ګمراه کوئ؟ ۳۱ کله چې تاسو خپلې نذرانې پېش کړئ او خپل زامن په اور قربانی کړئ او تاسو خپل ځانونه تر نن ورځې پورې په خپلو ټولو بُتانو پلیتوئ، نو ولې زۀ تاسو، اے د بنی اِسرائیلو قومه، پرېږدم چې زما په حقله معلومات وکړئ؟ زما دې په خپل ذات قسم وی، قادر مطلق خُدائ فرمائی، زۀ به تاسو پرې نۀ ږدم چې زما معلومات وکړئ. ۳۲ تاسو وایئ چې مونږ غواړو چې د دُنیا د هغه نورو قومونو په شان ژوند تېر کړُو، څوک چې د لرګو او د کاڼو د بُتانو عبادت کوی. خو ستاسو په ذهن کښې چې څۀ دی هغه به کله هم پوره نۀ شی.“

## د مالِک خُدائ سزا او معافی

۳۳ ”زما دې په خپل ذات قسم وی مالِک قادر مطلق خُدائ فرمائی، زۀ به په مضبوطو لاسونو سره په تاسو حکومت وکړم او خپل لاس به دراوږد کړم او خپل غضب به په تاسو نازل کړم. ۳۴ زۀ به په خپل زورَور او غزېدلی لاس او راپارېدلی غضب سره تاسو د هغه مُلکونو نه واپس راولم کومو ته چې تاسو خوارۀ وارۀ شوی وئ. ۳۵ زۀ به تاسو د قومونو بیابان ته راولم او هلته به زۀ تاسو سره مخامخ شم او ستاسو عدالت به وکړم. ۳۶ لکه څنګه چې ما ستاسو د پلار نیکۀ د مِصر په بیابان کښې عدالت کړے وو، نو هم هغه شان به زۀ ستاسو عدالت وکړم، مالِک قادر مطلق خُدائ فرمائی. ۳۷ چې زۀ به ستاسو سره حساب کوم چې تاسو خپل لوظ پوره کړے دے کۀ نه. ۳۸ زۀ به تاسو د هغه خلقو نه راچاڼ کړم څوک چې زما خلاف ګناه او سرکشی کوی. اګر کۀ زۀ

به هغوئ د هغه مُلک نه راویاسم چرته چې هغوئ اوسیږی خو هغوئ به د بنی اِسرائیلو په مُلک کښې داخل نۀ شی. بیا به تاسو پوهه شئ چې زۀ مالِک خُدائ یم. ۳۹ تر څو پورې چې ستاسو خبره ده اے د بنی اِسرائیلو قومه، مالِک قادر مطلق خُدائ داسې فرمائی، تاسو ټول لاړ شئ او د خپلو بُتانو عبادت وکړئ، خو د دې نه وروستو به تاسو په یقین سره ما ته غوږ ونیسئ او په خپلو نذرانو او د بُتانو په وجه به نور زما د مقدس نوم سپکاوے نۀ کوئ. ۴۰ زما په مقدس غر، د بنی اِسرائیلو په اوچت غر، مالِک قادر مطلق خُدائ فرمائی، هلته په هغه مُلک کښې د بنی اِسرائیلو ټول قوم به زما عبادت وکړی، او هلته به زۀ هغوئ قبول کړم. او هلته به زۀ ستاسو نه نذرانې او غوره تحفې او ستاسو ټولې مقدسې قربانۍ وغواړمه. ۴۱ زۀ چې کله تاسو د هغه مُلکونو نه واپس راولم او د هغه مُلکونو نه مو راغونډ کړم کومو ته چې تاسو خوارۀ وارۀ شوې وئ، نو زۀ به تاسو د ښکلې خوشبو په شان قبول کړم، او زۀ به خپل ځان ستاسو په مینځ کښې او د نورو قومونو په نظر کښې مقدس ثرګند کړم. ۴۲ نو تاسو به پوهه شئ چې زۀ مالِک خُدائ یم کله چې زۀ تاسو د بنی اِسرائیلو مُلک ته واپس راولم، هغه مُلک ته چې ما په اوچتو لاسونو ستاسو پلار نیکۀ ته د ورکولو قسم کړے وو. ۴۳ نو هلته به تاسو ته خپل ټول چال چلن او عملونه دریاد شی د کومو په کولو چې تاسو خپل ځان پلیت کړے دے، او د خپل ځان نه به نفرت کوئ د هغه اعمالو په وجه کوم چې تاسو کړی دی. ۴۴ تاسو به په دې پوهه شئ چې زۀ مالِک خُدائ یم، اے د بنی اِسرائیلو قومه، کله چې زۀ تاسو سره د خپل نوم د خاطره نرم سلوک وکړم او ستاسو د خرابو

کارونو او ستاسو د غلطو اعمالو په مطابق سلوک ونهٔ کړم،
مالِک قادر مطلق خُدائ دا فرمائی.“

## د جنوب خلاف پیشگوئي

۴۵ نو بیا د مالِک خُدائ کلام په ما نازل شو چې، ۴۶ ”اے
بنی آدمه، د جنوب خوا ته وګوره، د جنوب خلاف تبلیغ
وکړه او د جنوبی مُلک د ځنګلو په خلاف پیشګوئي وکړه.
۴۷ جنوبی ځنګل ته ووایه، د مالِک خُدائ کلام واورئ،
مالِک قادر مطلق خُدائ داسې فرمائی، زهٔ اوس په تاسو
باندې اور لګوم، او دا به ستا ټولې شنې او وچې ونې
وسوزوی. دا د اور لمبې به مړې نهٔ شی، او د جنوب نه د
شمال پورې ټول مخونه به د دې په لمبو وسوزی. ۴۸ هر یو
به یې وګوری چې ما مالِک خُدائ دا اور لګولے دے، دا به
مړ نهٔ شی.“ ۴۹ بیا ما وفرمائیل چې، ”اے مالِکه قادر مطلق
خُدایه، هغوئ زما په حقله وائی چې، ولې هغه هسې متلونه نهٔ
وائی؟“

## د مالِک خُدائ د عدالت تُوره

۲۱ ۱ د مالِک خُدائ کلام په ما نازل شو، ۲ ”اے
بنی آدمه، د یروشلم په خلاف خپل مخ راواړوه او د هغوئ د
مقدسو ځایونو خلاف بیان وکړه. او د بنی اِسرائیلو د مُلک
خلاف پیشګوئي وکړه. ۳ او هغوئ ته ووایه چې مالِک
خُدائ فرمائی، زهٔ ستاسو خلاف یم. زهٔ به خپله تُوره د کاش
نه راوباسم او ستاسو نه به صادقان او بدعمله دواړه ختم
کړم. ۴ ځکه زهٔ صادقان او ګناهګاران دواړه وژنم، زما

تُوره به د کاش نه د جنوب نه د شمال پورېِ د هر چا خلاف
راوويستلے شى. ۵ بيا به ټول خلق په دې باندې پوهه شى
چې ما مالِک خُدائ خپله تُوره د کاش نه راويستې ده. دا به
بيا واپس نۀ شى. ۶ نو په دې وجه اے بنى آدمه، زيرګى
کوه، په مات زړۀ او سختو دردونو سره د هغوئ په وړاندې
سوال زارى وکړه. ۷ او کله چې هغوئ تا نه تپوس وکړى
چې تۀ ولې زيرګى کوې؟ نو هغوئ ته ووايه چې د هغه خبر
په وجه چې راتلونکے دے. هر يو سخت زړۀ به نرم شى او
هر يو لاس به شل شى، هر يو روح به ودرېږى او هره يوه
ګوډه به د يرې نه په ريږدان شى. دا راتلونکى دى، دا به په
يقين سره وشى، مالِک قادر مطلق خُدائ فرمائى.“ ۸ د
مالِک خُدائ کلام په ما نازل شو، ۹ ”اے بنى آدمه،
پېشګوئې وکړه او خلقو ته ووايه، مالِک خُدائ داسې فرمائى
چې، يوه تُوره تيره شوې او پالش شوې ده. ۱۰ دا د قتل و
غارت دپاره تيره شوې ده، داسې پالش شوه چې د برېښنا په
شان ځليږى. نو آيا اوس به خوشحاله شې څۀ؟ هغوئ څوک
چې ستاسو نه ډېر زيات زورَور وُو د دې تُورې لاندې راغلل.
۱۱ ما تُوره چا له ورکړې ده چې تيره يې کړى. اوس دا تيره
ده، چمکداره ده او تياره ده چې قاتل ترېنه کار واخلى. ۱۲
اے بنى آدمه، وير او ژړا وکړه، ځکه دا زما د خلقو خلاف
ده، دا د بنى اِسرائيلو د ټولو شهزادګانو خلاف ده. هغوئ زما
خلقو سره يوځائ د تُورې خولې ته وغورزولے شول. نو په
دې وجه خپلې سينې ووهئ. ۱۳ دا به هغوئ ټول په آزمېښت
کښې واچوى، نو دوئ سره به د خلاصون لار نۀ وى؟“ مالِک
قادر مطلق خُدائ فرمائى. ۱۴ ”نو بيا اے بنى آدمه، نبوت
وکړه او خپل لاسونه وپړقوه او زما تُوره به دوه ځله بلکې

درې ځله ووهى. دا تُوره د تباهئ دپاره ده او دا تُوره د لوئ
قتل و غارت دپاره ده چې د هرې خوا نه به هغوئ راګېر
کړى. ۱۵ تر دې چې هغوئ د يرې نه خپل زړونه بائيلى او
راوغورزيږى، ما د هغوئ په ټولو دروازو کښې تُوره د دوئ د
وژلو دپاره مقرر کړې ده. افسوس، هغه داسې جوړه شوې ده
چې لکه د برېښنا په شان پړقيږى، او دا د قتلولو دپاره
راخستلے شوې ده. ۱۶ اے تُورې، ښى طرف او بيا ګس
طرف ته، او هرې خوا چې ستا مخ تاويږى وځيره. ۱۷ زۀ
به هم خپل لاسونه وپړقوم او زما غضب به سوړ شى. ما
مالِک خُدائ داسې وفرمائيل.“

## د بابل بادشاه تُوره

۱۸ د مالِک خُدائ کلام په ما نازل شو، ۱۹ ”اے بنى آدمه،
د بابل بادشاه د تُورې دپاره دوه لارې په ګوته کړه چې په
هغې لاړه شى، چې دواړه د يو ښار نه شروع شى. هلته کښې
نښه جوړه کړئ چرته چې ښار ته خپلو کښې لارې جدا
کيږى. ۲۰ د تُورې دپاره يوه لاره په ګوته کړئ چې د
عمونيانو د ربه ښار خلاف راشى او بله د يهوداه او د يروشلم
پوخ ښار خلاف راشى. ۲۱ ځکه چې د بابل بادشاه به په هغه
ځائ کښې چرته چې نښه شوې ده چې لارې جدا کيږى
ودريږى چرته چې لارې دوه شوې دى، نو په دې وخت کښې
به د خپل قسمت فال وګورى، هغه به په غشو سره ځان دپاره
فال معلوم کړى، او د خپلو بُتانو سره به مشوره وکړى، هغه
به د ځاروو اينه معائنه کړى چې هغه کوم طرف ته لاړ شى.
۲۲ نو د هغۀ په ښى لاس کښې به فال د يروشلم دپاره راشى،
چرته چې به هغه د ديوالونو غورزولو مشين ولګوى، هغه به د

قتل و غارت حکم ورکړی، او د جنګ آوازونه به وکړی، او د دروازو خلاف به د ماتولو مشینری ولګوی، حصارونه به جوړ کړی او د محاصره کولو دپاره به د خاورو ډیری جوړ کړی. ۲۳ دا به د هغوئ دپاره د دروغو فال ښکاری چا چې هغهٔ سره د امن قَسم کړې دے، خو هغه به هغوئ ته خپله ګناه وریاده کړی او هغوئ به ونیولے شی. ۲۴ نو په دې وجه قادر مطلق خُدائ داسې فرمائی، ځکه چې تاسو بیا بیا خپل قصوورونه ما ته رایادوئ او تر دې چې هغه په ښکاره توګه سر ته رسوئ او په هر کار کولو کښې ستاسو ګناهونه لیدلے کیږی نو په داسې کولو به تاسو ونیولے شئ. ۲۵ اے د بنی اِسرائیلو بېدینه او بدکاره شهزاده، ستا وخت پوره شوے دے، او د چا ورځې چې راغلې دی، د چا د سزا وخت چې پوره شوے دے. ۲۶ مالِک قادر مطلق خُدائ داسې فرمائی چې، خپل پټکے ښکته کړه او خپل تاج اخوا کړه. هر څهٔ به داسې نهٔ وی څنګه چې مخکښې وُو، عاجز به اوچت کړے شی او اوچت به عاجز کړے شی. ۲۷ کنډر، کنډر، زهٔ به ښار کنډر کړم. دا به بیا په خپل حال نهٔ شی ترڅو چې هغه رانهٔ شی د چا چې دا حق دے چې فیصله پرې وکړی. چا ته به چې زهٔ دا مُلک ورکړم.“

## د خُدائ پاک تیره شوې تُوره

۲۸ ”او تهٔ اے بنی آدمه، نبوت وکړه او ووایه چې، مالِک قادر مطلق خُدائ د عمونیانو او د هغوئ د ګستاخئ کولو په حقله فرمائی چې، تُوره د حلالېدو دپاره راوویستلے شوه، هغه د قتلولو دپاره پالش کړے شوه او لکه د برېښنا ځلیږی.
۲۹ هغوئ ستاسو په حقله غلطې رویاګانې بیانوی او ستاسو

په حقله د دروغو پېشګوئي کوی، دا به د بدکارو په غاړو پرته
وی څوک چې به قتل کړے شی، د چا ورځې چې راغلې دی،
د چا د سزا وخت چې پوره شوے دے. ٣٠ تُوره په خپل
کاش کښې واپس واچوه. په کوم ځائ کښې چې تهٔ پېدا
شوے يې، ستا د پلار نيکهٔ په مُلک کښې، زهٔ به ستا عدالت
وکړم. ٣١ زهٔ به خپل غضب په تاسو نازل کړم او د خپلې
غصې اور له به ستاسو خلاف پوکے ورکړم، زهٔ به تاسو
قاتلانو او هغه کسانو ته حواله کړم چې په تباهۍ کښې ماهر
وی. ٣٢ تهٔ به د اور دپاره خشاک يې، ستا وينه به ستا په
مُلک کښې تويه شی، تهٔ به نور ياد نهٔ کړے شې، ځکه چې ما
مالِک خُدائ داسې وفرمائيل.“

## د يروشلم ګناهونه

٢٢ ١ د مالِک خُدائ کلام په ما نازل شو، ٢ ”اے
بنی آدمه، ولې تهٔ به د هغهٔ عدالت وکړې؟ ولې تهٔ به د دې
خونی ښار عدالت وکړې؟ نو بيا هغوئ ته د هغوئ ټول حرام
کارونه مخامخ کړه. ٣ او ورته ووايه چې، مالِک قادر
مطلق خُدائ داسې فرمائی چې، اے ښاريې څوک چې په
خپل مينځ کښې د وينې تويولو په وجه په خپل ځان مرګ
نازلوی او د بُتانو جوړولو په وجه خپل ځان پليتوی. ٤
کومه وينه چې تا تويه کړه د هغې په وجه تهٔ ګناه ګار شوې
او د هغه بُتانو په وجه تهٔ پليت شوې کوم چې تا جوړ کړل. تا
خپل ژوند لنډ کړو، او تا خپل عمر ختم کړو. نو په دې وجه
زهٔ به تا نورو قومونو ته د خندا مثال کړمه او په ټولو مُلکونو
کښې به دې د مسخرو کړم. ٥ څوک کهٔ نزدې دی او کهٔ

لرې وی، اے بدنامې او د فساد نه ډکې ښارېې، په تا پورې به
خندا کوی. ۶ وګوره، د بنی اِسرائیلو هر یو مشر څوک
چې په تا کښې اوسیږی خپل ټول زور طاقت د وینې تویدو
دپاره استعمالوی. ۷ په تا کښې هغوئ د خپل پلار او مور
سپکاوے وکړو، په تا کښې هغوئ په مسافرو ظلم وکړو او په
کونډو او یتیمانو یې زور زبردستی وکړه. ۸ تاسو زما د
مقدسو څیزونو سپکوالے وکړو او زما د سبت بې‌حرمتی مو
وکړه. ۹ په تا کښې تهمت لګوونکی خلق دی چې وینی
تویوی، په تا کښې هغوئ دی چې د غرونو دپاسه عبادتخانو
کښې خوراک کوی او غلط کارونه کوی. ۱۰ په تا کښې
هغوئ دی چې د خپل پلار د کټ بې‌حرمتی کوی، په تا کښې
هغوئ دی چې د ښځو سره په ماهوارۍ کښې څملی، کله چې
هغوئ په شرعی توګه پاکې نۀ وی. ۱۱ په تا کښې داسې
سړی دی چې د خپل ګاونډی د ښځې سره زنا کوی، د خپلې
اِنږور سره زنا کوی، او د خپلې خور سره د خپل پلار د لور
سره زنا کوی. ۱۲ په تا کښې خلق په پیسو مرګونه کوی،
تاسو سود کوئ او ډېره زیاته ګټه اخلئ، او د خپلو ګاونډیانو
نه ناجائزه ګټه کوئ. تاسو زۀ هېر کړے یم، مالِک قادر
مطلق خُدائ فرمائی. ۱۳ زۀ به په یقین سره خپل لاسونه
ستاسو خلاف وپړقوم په هغه ناجائزو ګټو چې تاسو کړی دی
او په هغه وینه چې تاسو په خپل مینځ کښې تویه کړې ده.
۱۴ ولې تاسو به په هغه ورځ دومره زړَور یئ یا ستاسو په
مټو کښې به دومره زور وی کله چې زۀ تاسو سره دا معامله
کوم؟ ما مالِک خُدائ وفرمائیل او زۀ به داسې وکړم. ۱۵ زۀ
به تاسو د نورو قومونو او مُلکونو په مینځ کښې خوارۀ وارۀ
کړم، او زۀ به تاسو د پلیتۍ نه پاک کړم. ۱۶ کله چې تۀ د

نورو قومونو په وړاندې خپل ځان وشرموې نو تهٔ به بيا په دې
پوهه شې چې زهٔ مالِک خُدائ يم.“

## د مالِک خُدائ د صفا کولو بټۍ

۱۷ بيا د مالِک خُدائ کلام په ما نازل شو چې، ۱۸ ”اے
بنی آدمه، د بنی اِسرائيلو قوم زما دپاره د هغه ګند په شان
شو، چې د تانبې، ټيم، اوسپنې او سيکې د ګرمولو نه وروستو
په بټۍ کښې پاتې شی. دوئ لکه د سپينو زرو د پاتې شوی
ګند په شان دی. ۱۹ نو په دې وجه مالِک قادر مطلق خُدائ
داسې فرمائی، ځکه چې تاسو ټولو نه پاتې شوے ګند جوړ
شوے دے، نو زهٔ به تاسو يروشلم ته راټول کړم. ۲۰ لکه
څنګه چې خلق سپين زر، تانبه، اوسپنه، سيکه او ټيمان
راټولوی او په بټۍ کښې يې په تېز اور ويلی کوی، نو هم داسې
به زهٔ تاسو خپل قهر او غضب کښې راټول کړم او په ښار
کښې دننه به مو واچوم او ويلی به مو کړم. ۲۱ زهٔ به تاسو
راټول کړم او زهٔ به خپل يروونکے غضب په تاسو نازل کړم،
او تاسو به په هغې کښې دننه ويلی شئ. ۲۲ لکه څنګه چې
سپين زر په بټۍ کښې ويلی کيږی، نو دغه شان به تاسو په
هغې کښې دننه ويلی شئ، او تاسو به پوهه شئ چې ما، مالِک
خُدائ په تاسو خپل قهر او غضب نازل کړے دے.“

## د بنی اِسرائيلو د مشرانو ګناهونه

۲۳ بيا د مالِک خُدائ کلام په ما نازل شو، ۲۴ ”اے بنی
آدمه، دې مُلک ته ووايه چې، تهٔ هغه مُلک يې چې لا پاک
شوے نهٔ يې، په تا د غضب په ورځو کښې باران ونهٔ شو.

۲۵ د هغهٔ سازش کوونکی شهزادګان د هغه غرمبېدونکو زمرو په شان دی چې خپل ښکار په مينځ شلوی، هغوئ انسانان خوری، هغوئ مال دولت او قيمتی څيزونه چور کوی او د دې ډېرې ښځې کونډې کوی. ۲۶ د هغهٔ اِمامان زما شريعت ماتوی او زما د مقدسو څيزونو بې‌حرمتی کوی، هغوئ د مقدسو څيزونو او د عامو څيزونو په مينځ کښې فرق نهٔ کوی، او هغوئ د پاکو او پليتو په مينځ کښې د فرق کولو تعليم نهٔ ورکوی، او هغوئ زما د سبت په ساتلو باندې خپلې سترګې پټوی، نو زهٔ د هغوئ په مينځ کښې سپک شوے يم.
۲۷ د هغهٔ سرکاری آفسران لکه د ليوانو په شان خپل ښکار شلوی، هغوئ وينه تويوی او خلق وژنی چې بې‌اِنصافه ګټه وکړی. ۲۸ د هغې نبيان په غلطو روياګانو او دروغژنو پېشګويو سره د هغوئ دا کارونه صفا کوی. هغوئ وائی چې، دا مالِک قادر مطلق خُدائ فرمائی، خو په حقيقت کښې مالِک خُدائ دا نهٔ وی فرمائيلی. ۲۹ د هغه مُلک خلق زياتے کوی او غلا کوی، هغوئ په غريبانانو او محتاجو خلقو ظلم کوی، او د مسافرو سره بد سلوک کوی او د هغوئ حق نه اِنکار کوی. ۳۰ ما د هغوئ په مينځ کښې د يو داسې کس لټون کولو چې د دېوال مرمت وکړی او په وران شوی ځائ لکه د دېوال په شان ودرېږی د هغه مُلک دپاره ودرېږی چې زهٔ يې تباه نهٔ کړم، خو ما څوک هم پيدا نهٔ کړو.
۳۱ نو زهٔ به په هغوئ خپل غضب رانازل کړم او هغوئ به په خپل سخت قهر کښې وسوزوم، او هر هغه څهٔ به د هغوئ په خپل سر راولم څهٔ چې هغوئ کړی دی. مالِک قادر مطلق خُدائ فرمائی.“

# دوه زناکارې خوېندې

۲۳ ۱ د مالِک خُدائ کلام په ما نازل شو، ۲ "اے
بنى آدمه، دوه ښځې وې چې د يوې مور لوڼه وې. ۳ هغوئ
په مِصر کښې کنجرې جوړې شوې، او په پېغلتوب کښې يې
پردو سړو ته د خپلو سينو سره د لوبو کولو اجازت ورکړو.
۴ د مشرې نامه اوحوله وه، او د هغې د خور نامه
اوحوليبه وه. هغوئ زما وې او زامن او لوڼه يې راوړل. د
اوحوله نه سامريه مطلب دے، او اوحوليبه نه يروشلم مطلب
دے. ۵ اوحوله په کنجرتوب کښې آخته شوه کله چې هغه
لا زما وه، او هغه د شوق نه خپلو عاشقانو د اسورى جنګيالو
پسې وه. ۶ سرکارى آفسران او کمانډران ټول ښکلى
ځوانان وُو او شاندراې جامې يې اچولې وې او په آسونو
سوارۀ وُو. ۷ هغې خپل ځان د اسوريانو ټولو آفسرانو ته
لکه د کنجرې په شان پېش کړو او خپل ځان يې د هغه هر چا
ټولو بُتانو سره پليت کړو چا پسې چې د هغې شوق وو. ۸
هغې هغه کنجرتوب پرې نۀ ښودو چې په مِصر کښې يې
شروع کړے وو، کله چې د هغې د پېغلتوب په دوران کښې
سړى د هغې سره ځملاستل او د هغې سينو سره يې لوبې
وکړې او خپل شوق يې په هغې پوره کړو. ۹ نو په دې وجه
ما هغه خپلو عاشقانو ته حواله کړه، اسوريانو ته چا سره
چې د هغې شوق دے. ۱۰ هغوئ هغه بربنډه کړه، د هغې نه
يې زامن او لوڼه واخستل او هغه يې په تُوره ووژله. او هغه د
نورو ښځو په مينځ کښې د عبرت مثال شوه، او سزا په هغې
نازله شوه. ۱۱ د هغې خور اوحوليبه دا وليدل خو اوس هغه
په شهوت پرستۍ او کنجرتوب کښې د خپلې خور نه ډېره

زیاته تېزه وه. ۱۲ اسوری مشرانو او آفسرانو او د ښائسته
جامو جنګیالو ته او په آسونو سوارو آفسرانو ته، زیاته په
شوق کښې وه چې ښکلی ځوانان وُو. ۱۳ نو ما ولیدل چې
هغې هم خپل ځان پلیت کړو، او هغوئ دواړه په یوه لاره
باندې لاړې. ۱۴ خو هغې خپل کنجرتوب مخکښې جاری
وساتلو. هغې د سړو تصویرونه په دېوال ولیدل، د بابلیانو
تصویرونه چې په سور رنګ نقش شوی وُو. ۱۵ هغوئ
ملابندونه تړلی وُو او په سرونو یې غټ پټکی تړلی وُو، هغوئ
ټولو د بابلیانو د جنګی ګاډو د آفسرانو په شان لباس
اغوستے وو. ۱۶ څنګه چې هغې هغوئ ولیدل، نو هغوئ ته
یې ډېر شوق وشو او ورپسې یې بابل ته قاصدان ورولېږل.
۱۷ بیا بابلیان راغلل د هغې سره بستره کښې یو ځائ شول،
او په خپل شهوت سره یې هغه پلیته کړه. وروستو د دې نه
چې هغه د دوئ په وجه پلیته شوه، هغه د هغوئ نه بېزاره
شوه او د هغوئ نه واوړېدله. ۱۸ کله چې هغې په ښکاره
توګه خپل کنجرتوب شروع کړو او خپل ځان یې ټولو ته لغړ
کړو، زۀ د هغې نه بېزاره شوم او خپل مخ مې ترې نه واړولو
لکه څنګه چې ما د هغې د خور نه اړولے وو. ۱۹ خو هغه د
پخوا نه هم ډېره زیاته کنجره شوه لکه څنګه چې هغه په مِصر
کښې د خپلې ځوانۍ په عمر کښې کنجره وه. ۲۰ هغې هلته
د خپلو عاشقانو سره شهوت بازی وکړه، د چا شرمګاه چې
د خرونو په شان غټ وو او د چا انزال چې د آسونو په شان
وُو. ۲۱ نو تۀ د خپلې ځوانۍ د هغه مستۍ بیا خواهشمنده
یې، لکه څنګه چې ستا په پېغلتوب کښې پردو سړو په مِصر
کښې ستا د سینو سره لوبې وکړې.“

## د اوحوليبه سره د مالِک خُدائ عدالت

۲۲ نو په دې وجه، اے اوحوليبه، مالِک قادر مطلق خُدائ
داسې فرمائى، ”زۀ به ستا عاشقان ستا خلاف راپاڅوم، د چا
نه چې تۀ اوړېدلې يې او نفرت ترې کوې، او زۀ به هغوئ ستا
خلاف د هرې خوا نه راولم. ۲۳ بابليان او ټول د فقود او د
شوع او د کوع خلق او هغوئ سره به ټول اسوريان، ښکلې
ځوانان سړى، ټول آفسران او حاکمان، د جنګى ګاډو
آفسران او د اوچت مقام خلق ټول په آسونو سوارۀ ستا
خلاف راولم. ۲۴ هغوئ به ستا خلاف د وسلو، جنګى ګاډو
او ريړو او د ډېرو خلقو او لوئ لښکر سره راشى. هغوئ به
ستا خلاف هرې خوا ته مورچه شى او د لويو او وړو ډالونو
او جنګى ټوپۍ په سر به په تا حمله وکړى. او زۀ به تا هغوئ
ته د سزا دپاره حواله کړم. او هغوئ به د خپل قانون په
مطابق تاسو له سزا درکړى. ۲۵ زۀ به ستاسو خلاف خپله
غصه نازله کړم، او هغوئ به تاسو سره د غصې سلوک
وکړى. هغوئ به ستاسو پوزې او غوږونه پرې کړى، او په
تاسو کښې چې څوک پاتې شى په تُوره به مړۀ کړے شى.
هغوئ به ستاسو زامن او لوڼه بوځى، او تاسو نه چې څوک
پاتې شى هغوئ به په اور کښې وسوزولے شى. ۲۶ هغوئ به
ستاسو نه جامې وباسى او قيمتى کالى به درنه واخلى. ۲۷
نو زۀ به ستا هغه فحاشى او کنجرتوب ختم کړم کوم چې تا
په مصر کښې شروع کړے وو. تۀ به نور دې څيزونو ته د
خواهش نظر نۀ کوې او نۀ به مِصر يادوې. ۲۸ نو ځکه
مالِک قادر مطلق خُدائ داسې فرمائى چې، زۀ تاسو هغه
خلقو ته حواله کوم چې تاسو ترې نفرت کوئ، هغوئ ته چا

نه چې تاسو په بېزارۍ سره مخ اړولے وو. ۲۹ هغوئ به تاسو سره د نفرت سلوک وکړی او هر هغه څیز به درنه یوسی کوم دپاره چې تاسو محنت کړے دے. تاسو به برېنډ او لغړ پرېږدی، او ستا د زناکارۍ شرم به څرګند شی. ستا فحاشۍ او زناکاری ۳۰ دا هر څهٔ په تا باندې راوستل، ځکه چې تهٔ نورو قومونو پسې بې‌قراره وې او خپل ځان دې د هغوئ په بُتانو پلیت کړو. ۳۱ تهٔ د خپلې خور په لار لاړې، نو زهٔ به د هغې پیاله ستا په لاس کښې کېږدم. ۳۲ مالِک قادر مطلق خُدائ داسې فرمائی چې، تهٔ به د خپلې خور پیالۍ وڅښې، یوه لویه او ژوره پیالۍ، دا به تا د خلقو د ټوقو او مسخرو کړی، ځکه چې دا پیاله ډکه ده. ۳۳ تهٔ به په خفګان او نشه اخته شې، د تباهۍ او د دهشت پیالۍ، یعنې ستا د خور سامرېې پیالۍ. ۳۴ تهٔ به دا وڅښې او تشه به یې کړې، او په ماتو شوو ټوکړو به یې شخوند ووهې او خپله سینه به د غم نه ووهې. ما مالِک قادر مطلق خُدائ دا وفرمائیل. ۳۵ نو په دې وجه مالِک قادر مطلق خُدائ داسې فرمائی چې، د کله نه چې تا زهٔ هېر کړے یم او وروستو خپل شا ته دې غورزولے یم، په دې وجه تهٔ به خامخا د خپلې شهوت پرستۍ او زناکارۍ سزا وزغمې.“

## په دواړو خوېندو د مالِک خُدائ عدالت

۳۶ مالِک خُدائ ما ته وفرمائیل، ”اے بنی آدمه، ولې تهٔ به د اوحوله او اوحولیبه عدالت وکړې؟ نو هغوئ تهٔ د هغوئ حرام کارونه مخامخ کړه. ۳۷ ځکه چې هغوئ زنا وکړه او د هغوئ لاسونه په وینو سرهٔ دی. هغوئ خپلو بُتانو سره زنا وکړه، تر دې چې هغوئ خپل زامن هم بُتانو ته د خوراک

دپاره قربانی کړل، کوم چې هغوئ زما دپاره پېدا کړی وُو.
۳۸ هغوئ ما سره هم دا وکړل چې، په هم هغه وخت کښې
هغوئ زما مقدس کور پلیت کړو او زما د سبت بې‌حرمتی یې
وکړه. ۳۹ په هغه ورځ چې هغوئ خپل ماشومان خپلو بُتانو
ته قربانی کړل، نو په هغه ورځ هغوئ زما مقدس کور ته ننوتل
او د دې بې‌حرمتی یې وکړه. دا هغه څۀ دی چې هغوئ زما
کور کښې وکړل. ۴۰ تر دې چې هغوئ د سړو دپاره
قاصدان لېږلی وُو څوک چې د لرې ځائ نه راغلل، او کله
چې هغوئ راورسېدل تا خپل ځان د هغوئ دپاره پاک کړو او
خپلې سترګې دې تورې کړې او لا دا چې ځان دې په سرو
زرو سنګار کړو. ۴۱ بیا تۀ په شانداره صوفې کښېناستلې
چې مېز یې په مخکښې پروت وو په کوم چې تا هغه خوشبو
او تېل ایښی وُو چې زما وُو. ۴۲ د ګڼو خلقو شور د هغې
سره نزدې وو، تر دې چې مست او عیاش خلق یې د صحرا
نه راوستل او هغوئ دغه دواړو خوېندو ته په متو کښې
بنګړی واچول او ښکلی تاجونه یې ورته په سر کړل. ۴۳ نو
ما بیا د هغه چا په حقله ووئیل څوک چې د زناکارئ په وجه
ستړې شوې وه، اوس پرېږده چې هغوئ دا لکه د یو کنجرئ
په شان استعمال کړی، ځکه چې هغه هم داسې ده. ۴۴ او
هغوئ د هغې سره زنا وکړه. لکه څنګه چې سړے د زناکارې
سره څملی، نو هغوئ د هغه بې‌حیا ښځو اوحوله او اوحولیبه
سره څملاستل. ۴۵ خو صادقان به هغوئ ته د هغو ښځو
سزا ورکړی څوک چې زنا او قتل کوی، ځکه چې هغوئ
زناکارې دی او لاسونه یې په وینو سرۀ دی.“ ۴۶ مالِک قادر
مطلق خُدائ داسې فرمائی چې، ”د هغوئ خلاف لوئ لښکر
راوله او هغوئ یرې او لوټ مار ته حواله کړه. ۴۷ د هغوئ

دشمنان به هغوئ سنګسار کړی او په تُوره به يې ووژنی،
هغوئ به د دوئ زامن او لوڼه مړهٔ کړی او د هغوئ کورونه به
وسوزوی. ۴۸ نو زهٔ به په دې مُلک کښې شهوت پرستی
ختمه کړم، او ټولو ښځو ته به تنبيه مِلاو شی او هغوئ به نور
ستا په نقش قدم نهٔ ځی. ۴۹ تاسو به د خپلې شهوت پرستۍ
دپاره سزا وزغمئ او د خپلې بُت پرستۍ د ګناهونو سزا به
برداشت کړئ. نو بيا به تاسو په دې پوهه شئ چې زهٔ مالِک
قادر مطلق خُدائ يم.“

## د پخلی دېګ

۲۴ ۱ د جلاوطنۍ په نهم کال، د لسمې مياشتې په لسمه
ورځ، د مالِک خُدائ کلام په ما نازل شو، ۲ ”اے بنی
آدمه، د نن ورځې تاريخ وليکه، ځکه چې هم دا نن په دې
تاريخ به د بابل بادشاه يروشلم محاصره کوی. ۳ يو مثال
دې سرکشه قوم ته ووايه او هغوئ ته ووايه چې، مالِک قادر
مطلق خُدائ داسې فرمائی چې، د پخلی دېګ په اور کېږدئ
او اوبهٔ په کښې واچوئ. ۴ او په هغې کښې د غوښې بوټۍ
واچوئ، ټولې ښې بوټۍ لکه پتون او اوږی غوښه په کښې
واچوئ. او د هم داسې ښو هډوکو نه يې ډک کړئ، ۵ د
رمې نه د خاص خاروے غوښه په کښې واچوئ، او د دېګ
لاندې خشاک کېږدئ. او اوبهٔ ووېشوئ، او هډوکی هم د
غوښې سره پاخهٔ کړئ. ۶ نو مالِک قادر مطلق خُدائ
داسې فرمائی چې، افسوس دې وی د قاتلانو په ښار، لکه د
هغه دېګ په شان چې زنګ وهلے وی د چا ګندګی چې نهٔ
اخوا کيږی، دېګ په يو شان سره خالی کړئ او خوښه نا

خوښه مۀ کوئ. ۷ کومه وينه چې يروشلم تويه کړه نو هغه
په ميدان کښې په يو کولاو ګټ تويه شوه، داسې نۀ وو شوے
چې ګنې په زمکه تويه شوه او دوړې پټه کړه. ۸ نو په دې
وجه به زۀ خپله غصه راوپاروم او د هغوئ نه به بدله واخلم
او د هغۀ وينه به په کولاو کاڼی تويه کړم چې دا هم ښکاره
وی. ۹ نو ځکه مالِک قادر مطلق خُدائ داسې فرمائی چې،
افسوس دې وی د وينو تويولو په ښاريې يروشلم باندې. زۀ به
هم ورته د اور بلولو دپاره لرګی ډېرے کړم. ۱۰ نو خشاک
راجمع کړئ، او اور بل کړئ. غوښه ښه پخه کړئ او
مصالحه ورباندې واچوئ او د هډوکو سره يې سکارۀ کړئ.
۱۱ بيا هغه د تانبې خالی دېګ په سکارو باندې کېږده چې دا
ګرم شی او تانبه يې تکه سره شی او ناپاکی په کښې ويلې شی
او د هغې زنګ وسوزېږی. ۱۲ خو دا ټول کارونه بېفائدې
وُو، تر دې چې د دې ډېر زيات زنګ په اور هم اخوا نۀ شو.
۱۳ نو اوس تا په خپلو بېحيا کارونو خپل ځان پليت کړے
دے. ځکه ما کوشش وکړو چې تا د خپلو پليتو عملونو نه
پاک کړم، خو تۀ پاک نۀ شوې، تۀ به تر هغې پاک نۀ شې
ترڅو چې زۀ خپله مکمله غصه په تا نازله کړم. ۱۴ ما
مالِک خُدائ وفرمائيل. زما دپاره هغه وخت رارسېدلے دے
چې خپله کاروائی وکړم. زۀ به وروستو نۀ شم، زۀ به رحم نۀ
کوم، او نۀ به پښېمانه شم. ستاسو د چال چلن او عملونو په
مطابق به ستاسو عدالت وکړم، مالِک خُدائ داسې فرمائی.“

## د حضرت حزقی‌ايل د ښځې مرګ

۱۵ د مالِک خُدائ کلام په ما نازل شو چې، ۱۶ ”اے بنی
آدمه، په يو ګزار سره به زۀ ستا د سترګو تور، ستا ښځه

ختمه کړم. خو تهٔ مهٔ د غم سندرې وايه مهٔ ژړا کوه او مهٔ
اوښکې تويوه. ۱۷ چغې سورې مهٔ وهه، د مړى دپاره
غمرازى مهٔ کوه، خپل پټکے په سر وتړه او خپلې څپلۍ دې
په پښو کښې واچوه، د خپل مخ لاندې برخه مهٔ پټوه او د
مړى خېرات مهٔ خوره.“ ۱۸ نو ما په سحر کښې خلقو ته
وفرمائيل، او بيا په ماښام کښې زما ښځه مړه شوه. او په بل
سحر ما هغه شان وکړل لکه څنګه چې ما ته حکم شوے وو.
۱۹ نو بيا خلقو زما نه تپوس وکړو چې، ”ولې تهٔ به مونږ ته
دا ووائې چې ستا د دې کارونو زمونږ دپاره څهٔ مطلب
دے؟“ ۲۰ نو ما هغوئ ته ووئيل، ”د مالِک خُدائ کلام په ما
نازل شو چې، ۲۱ د بنى اِسرائيلو قوم ته دا ووايه چې، مالِک
قادر مطلق خُدائ داسې فرمائى چې زهٔ اوس د خپلې مقدسې
قربانګاه بېحرمتى کوم، هغه مضبوط مقام چې تاسو پرې
فخر کوئ ورانوم، ستاسو د سترګو تور يعنې ستاسو ښځې،
او ستاسو د زړهٔ اُميد تباه کوم. او کوم زامن او لوڼه چې
تاسو پرېښودل هغوئ ټول به په تُوره قتل کړے شى. ۲۲ او
تاسو به هغه کار وکړئ کوم چې ما وکړو. تاسو به د خپل
مخ لاندې حِصه نهٔ پټوئ او نهٔ به د مړى خېرات خورئ. ۲۳
تاسو به په خپل سر باندې پټکے ساتئ او پېزار به په پښو
کوئ. تاسو به غم او ژړا نهٔ کوئ، او تاسو به په خپله ګناه
کښې ضائع شئ او تاسو به په خپلو ټولو ګناهونو ماتم کوئ.
۲۴ ستاسو دپاره حزقىايل يو نمونه دے، تاسو به هم هغه
څهٔ کوئ څهٔ چې هغهٔ وکړل. کله چې داسې وشى نو بيا به
تاسو په دې پوهه شئ چې زهٔ مالِک قادر مطلق خُدائ يم.
۲۵ او تهٔ اے بنى آدمه، په کومه ورځ چې زهٔ د هغوئ
مضبوط قلعه، د هغوئ خوشحالى او فخر، د هغوئ د سترګو
تور يعنې د هغوئ ښځې، د هغوئ د زړهٔ خواهشونه، او د

هغوئ زامن او لوڼه ترې نه واخلم ۲۶ نو په هم هغه ورځ به
د يروشليم نه يو بچ شوے سړے تا له راشي او هغه به تا له
خبر راوړی. ۲۷ نو هم په هغه وخت کښې به ستا خوله
کولاو شی، او ته به د هغهٔ سره خبرې وکړې او نور به ته
خاموشه پاتې نهٔ شې. نو ته به د هغوئ دپاره نمونه يې، او
هغوئ به په دې باندې پوهه شی چې زهٔ مالِک خُدائ يم.“

## د عمون خِلاف پېشګوئي

۲۵ ۱ د مالِک خُدائ کلام په ما نازل شو چې، ۲
”اے بنی آدمه خپل مخ دې د عمونيانو په خلاف راوګرځوه او
د هغوئ خلاف پېشګوئي وکړه. ۳ عمونيانو ته ووايه چې، د
مالِک قادر مطلق خُدائ کلام واورئ. مالِک قادر مطلق
خُدائ داسې فرمائی، کله چې زما د عبادتخانې بې‌عزتی کېدله
او د بنی اِسرائيلو زمکه شاړه کېدله او د يهوداه خلق
جلاوطن کېدل نو تاسو خوشحالی وکړه، ۴ نو زهٔ په دې
وجه تاسو د مشرق خلقو ته د ميراث په توګه حواله کوم.
هغوئ به ستاسو په مينځ کښې خپل کېمپونه جوړ کړی او
خيمې به ودروی، هغوئ به ستاسو مېوې وخوری او ستاسو
پئ به وڅښی. ۵ زهٔ به د ربه ښار نه د اوښانو د څرن ځائ
جوړ کړم او د عمون نه به د ګډو شپول جوړ کړم. نو بيا به
تاسو په دې پوهه شئ چې زهٔ مالِک خُدائ يم. ۶ نو مالِک
قادر مطلق خُدائ داسې فرمائی، ځکه چې تاسو د بنی
اِسرائيلو خلاف خپل لاسونه وپړقول او خپلو پښو سره مو
زمکه ودربوله، او تاسو د بنی اِسرائيلو د مُلک په تباهۍ
خوشحالی وکړه، ۷ نو په دې وجه به زهٔ خپل لاس ستاسو

خلاف دروغزوم او تاسو به نورو قومونو ته د غنيمت په توګه حواله کړم. زۀ به ستاسو قوم ختم کړم او تاسو به خانه بدوش کړم او تاسو به تباه کړم. نو تاسو به په دې پوهه شئ چې زۀ مالِک خُدائ يم.“

## د موآبيانو او د سعير په حقله پېشګوئي

٨ ”مالِک قادر مطلق خُدائ داسې فرمائى، نو ځکه چې موآب او سعير وائى وګوره، د يهوداه قوم لکه د نورو ټولو قومونو په شان شو، ٩ نو په دې وجه، زۀ به د موآب سرحدى ښارونه حملې دپاره پرېږدم چې په هغې کښې د بيت‌يسيموت، بعل معون او قِريَتائم ښکلى ښارونه شامل دى. ١٠ زۀ به د مشرق په خلقو موآب او عمونيان قبضه کړم، نو بيا به نور عمونيان د دُنيا په مُلکونو کښې نۀ يادېږى، ١١ زۀ به په موآبيانو د سزا حکم وکړم. نو بيا به هغوئ په دې پوهه شى چې زۀ مالِک قادر مطلق خُدائ يم.“

## د ادوم خِلاف پېشګوئي

١٢ ”مالِک قادر مطلق خُدائ داسې فرمائى، ځکه چې ادوم د يهوداه د قوم نه په بدله اخستو سره سخت مجرم وګرځولے شو. ١٣ نو په دې وجه، مالِک قادر مطلق خُدائ داسې فرمائى چې، زۀ به خپل لاس د ادوم خلاف وغزوم او د هغۀ خلق او ځناور به ووژنم. زۀ به دا د تيمان نه واخله تر ددان پورې وران ويجاړ کړم او هغوئ به په تُوره قتل کړم. ١٤ زۀ به د خپلو خلقو بنى اِسرائيلو په لاس خپله بدله د ادوميانو نه واخلم، او هغوئ به ورسره زما د قهر و غضب په مطابق رفتار وکړى، هغوئ به زما په بدله اخستو پوهه شى،

مالِک قادر مطلق خُدائ داسې فرمائی."

## د فلستی خِلاف پېشګوئي

١٥ "مالِک قادر مطلق خُدائ داسې فرمائی چې، فلستيانو د
يهوداه نه بې‌رحمه بدله واخسته، او هغوئ د خپل زړۀ پخوانئ
کينه او دشمنی ورسره ښکاره کړه. ١٦ نو په دې وجه،
مالِک قادر مطلق خُدائ داسې فرمائی چې، زۀ به د فلستيانو
خلاف خپل لاس ورغزوم، او زۀ به چرېتيان ختم کړم او
څوک چې د سمندر په غاړه اوسيږی هغوئ به تباه کړم. ١٧
او زۀ به د هغوئ نه سخته بدله واخلم او په خپل غضب کښې
به ورله سزا ورکړم. نو بيا به هغوئ په دې پوهه شی چې زۀ
مالِک قادر مطلق خُدائ يم، کله چې زۀ د هغوئ نه بدله
واخلم."

## د صور خِلاف پېشګوئي

٢٦ ١ د جلاوطنئ په يوولسم کال، د مياشتې په ړومبئ
ورځ کښې د مالِک خُدائ کلام په ما نازل شو، ٢ "اے بنی
آدمه، ځکه چې صور د يروشلم په حقله داسې وئيلی دی چې،
آو، د دې قومونو دروازه ماته شوې ده، او د هغوئ دروازې
بلکل زما دپاره کولاو دی، نو اوس هغه تباه پرته ده نو زۀ به
آباده شم. ٣ نو په دې وجه مالِک قادر مطلق خُدائ فرمائی
چې، اے صوره زۀ ستا خلاف يم، زۀ به ستا خلاف ډېر
قومونه راوچت کړم لکه څنګه چې سمندر خپلې چپې
راوچتوی. ٤ هغوئ به د صور ديوالونه تباه کړی او د هغۀ
برجونه به راګزار کړی او زۀ به د هغوئ ملبه داسې جارُو

کړم چې لکه د صفا ګټ په شان پاتې شی. ۵ دا به لکه په
سمندر کښې د ماهيګرو د جال د خورولو ځائ په شان وی،
ځکه چې ما مالِک قادر مطلق خُدائ دا وفرمائيل چې، نور
قومونه به هغه په آسانۍ سره لوټ کولے شی. ۶ او په هغه
اصلی زمکه باندې به د هغې اوسېدونکی په تُورو قتل شی. نو
بيا به هغوئ په دې پوهه شی چې زهٔ مالِک خُدائ يم. ۷ نو
ځکه مالِک قادر مطلق خُدائ داسې فرمائی، زهٔ به د شمال د
خوا نه د بابل بادشاه نبوکدنضر د بادشاهانو بادشاه، د آسونو
او جنګی ګاډو، د سوارو او د لوئ لښکر سره د هغوئ خلاف
راولم. ۸ او په هغه اصلی زمکه به د هغې اوسېدونکی په
تُورو قتل شی، هغه به ستا خلاف د خاورو ډېرے جوړ کړی،
او ستاسو دېوالونو ته به لارې جوړې کړی او خپل ډالونه به
ستا خلاف راوچت کړی. ۹ هغه به ستا دېوالونه په مشين
سره راګزار کړی او په خپلې وسلې سره به ستا برجونه
راونړوی. ۱۰ د هغوئ آسونه به دومره زيات وی چې په
خپلو دوړو کښې به تا پټ کړی. او د جنګی آسونو د شور نه
به ستا دېوالونه په لړزان شی، د هغې بګۍ او جنګی ګاډۍ چې
کله ستا د ښار دروازې ته درننوځی دا به د هغه ښار په شان
وی د چا دېوالونه چې د مخکښې نه وران شوی وی. ۱۱
ستا لارې کوڅې به د خپلو آسونو د پښو د نوکو لاندې کړی،
او هغه به ستا خلق په تُوره قتل کړی، او ستا مضبوطې
ستنې به په زمکه لاندې راوغورزيږی. ۱۲ هغوئ به ستا مال
دولت لوټ کړی او ستا د تجارت سامان به لوټ کړی،
هغوئ به ستا دېوالونه مات کړی او ستا ښکلې کورونه به
راوغورزوی او ستا کانړی، لرګی او ملبه به په سمندر کښې
وغورزوی. ۱۳ زهٔ به ستا د سندرو آواز ختم کړم او ستا د

رباب آواز به نور نۀ اورېدلے کيږى. ۱۴ زۀ به تا بربنډ ګټ
کړم، او تۀ به هغه ځائ وګرځې چرته چې خلق د ماهيانو
جال خوروى. تۀ به بيا آباد نۀ شې ځکه چې مالِک خُدائ
فرمائيلى دى، مالِک قادر مطلق خُدائ داسې فرمائى. ۱۵ دا
هغه څۀ دى چې مالِک قادر مطلق خُدائ يې صور ته فرمائى،
آيا د سمندر ساحلى ځايونه به ستا د راغورزېدو د آواز په
وجه د يرې نه ونۀ لړزيږى کله چې زخميان چغې سورې وهى
او په تا کښې خلق حلاليږى؟ ۱۶ نو بيا به د ساحل ټول
شهزادګان د خپلو تختونو نه راکوز شى او خپله چُوغه به
وباسى او خپلې د ګُلکارۍ جامې به يوې خوا ته کېږدى.
هغوئ به د غم لباس واچوى په زمکه به کښېنى او د يرې نه
به ريږدى، او ستا په تباهۍ به خفه کيږى. ۱۷ نو بيا به هغوئ
ستا په حقله د غم په مرثيو کښې داسې وائى، تۀ څنګه تباه
شوې، د سمندرونو خلق به ستاسو مُلک قبضه کړى، اے
مشهورې ښارې، يو وخت داسې وو چې تا په سمندر
بادشاهى کوله او په ټوله دُنيا مو يره خوره کړې وه. ۱۸ نو
اوس ساحلى علاقه ستا د راغورزېدلو په ورځ لړزيږى، په
سمندر کښې جزيرې ستا په راغورزېدلو په لړزان شوې دى.
۱۹ مالِک قادر مطلق خُدائ داسې فرمائى چې، کله چې زۀ
ستا ښار په کنډرو بدل کړم، لکه د هغه ښار په شان چې په
کښې کله څوک نۀ وى آباد شوى، او کله چې زۀ د سمندر د
تل نه اوبۀ په تا راوخېژوم او په هغه ډېرو اوبو کښې غرق
شې، ۲۰ نو بيا به زۀ تا د هغه چا سره لاندې کندې ته بوځم،
هغه خلقو له څوک چې ډېر وړاندې تېر شوى دى. او زۀ به تا
په لاندې زمکه کښې اوسوم، لکه د پخوانو تباه شوو سره به
اوسيږې، د هغوئ سره څوک چې لاندې کندې ته روان وى،

نو تهٔ به بیا هیڅکله راواپس نهٔ شې او نهٔ به د ژوندو په دُنیا کښې خپل ځائ ته ورسېږې. ۲۱ زهٔ به تاسو په دردناک مرګ ووژنم او تهٔ به نور په دُنیا کښې نهٔ يې. ستا لټون به کولے شی خو تهٔ به هیڅکله نهٔ پېدا کېږې. مالِک قادر مطلق داسې فرمائی.“

## د صور د غم مرثیه

۲۷ ۱ د مالِک خُدائ کلام په ما نازل شو چې، ۲ ”اے بنی آدمه، د صور په حقله د غم مرثیه ووایه. ۳ صور ته ووایه، چې تهٔ د سمندر په غاړه پروت يې او د سمندر د غاړې ډېرو خلقو سره تجارت کوې، مالِک قادر مطلق خُدائ فرمائی چې، اے صوره تا د خپل ځان په حقله وئیل چې زما د ښائست جواب نشته. ۴ ستا حدونه د سمندر مینځ پورې رسېدلی دی. ستا جوړونکو ستا ښائست لاجوابه جوړ کړے دے. ۵ تهٔ لکه د سمندر د هغه کشتئ په شان وې چې د حرمون د غرهٔ د نختر لرګی نه جوړه شوې وې او هغوئ د دِیار لرګی د لبنان نه راوړل چې ستا دپاره یوه ستن ترې جوړه کړی. ۶ هغوئ د څېړی لرګی د بسن نه راوړل او ستا د چلولو چپو يې ترې جوړ کړل، هغوئ ستا فرش د قبرص د نخترو نه جوړ کړو په دې باندې يې د هاتی د غاښونو کار وکړو. ۷ ستا بادبان د مِصر د ګُلکارئ د کتان نه جوړ وو، او دا ستا په سر باندې لکه د جنډې په شان رپېدو، ستا شامیانه د کاسنی او آسمانی رنګی کپړې وه چې د اِلیسه د ساحلی علاقې نه راوړلے شوې وه. ۸ د صیدا او ارود کسان ستا چپو وهونکی وُو. اے صوره، ستا

هوښيار کسان ستا ماڼکيان وُو. ۹ د جبل د علاقې نه په
کار پوهه او هوښيار کسان په کشتۍ کښې وُو چې ستا
چاؤدونه بند کړی. د سمندر ټولې کشتۍ او د دې ماڼکيان
راغلل چې ستا د مال تجارت وکړی. ۱۰ د فارس، لِديه او
ليبيا فوجيان ستا په لښکر کښې شامل وُو. هغوئ خپل ډالونه
او ټوپۍ ستا په دېوالونو راځوړند کړل چې تا ته شان و
شوکت مِلاو شی. ۱۱ د اروَد او د حيلک سړو د هرې خوا
نه ستا د دېوالونو حفاظت وکړو، او د جماد خلق ستا په
برجونو کښې وُو. هغوئ خپل ډالونه ستا په دېوالونو راځوړند
کړل، هغوئ ستا حُسن مکمل کړو. ۱۲ ترسيس تا سره
کاروبار وکړلو ځکه چې تا سره هر قسم سامان ډېر زيات
مِلاوېدلو، او ستا د څيزونو په بدله کښې هغوئ تا ته سپين
زر، اوسپنه، ټيم او سيکه درکوله. ۱۳ يونان، توبل او مسک
تا سره کاروبار وکړو، هغوئ ستاسو د سامان په بدل کښې
غلامان او د زېړو څيزونه درکړل. ۱۴ د بيت‌تُجرمه خلقو د
څيزونو په بدل کښې تاسو له آسونه، جنګی آسونه او قچرې
درکړې. ۱۵ د ددان خلقو تاسو سره کاروبار وکړو، او د
ډېرو ساحلی علاقو خلق ستا ګاهکان وُو، هغوئ تا ته د هاتی
غاښونه او د آبنوس لرګی درکړل. ۱۶ د شام خلقو تا سره
کاروبار وکړو ځکه چې په تا کښې هر قسم څيز مِلاوېدو،
هغوئ ستا د سامان په بدله کښې تا له زمرد کاڼی کاسنی او
آسمانی رنګی کپړې، ګُلکاری، نرم کتان، مرجان او ياقوت
درکول. ۱۷ يهوداه او بنی اِسرائيلو تا سره کاروبار وکړو، او
هغوئ ستا د څيزونو په بدله کښې تا ته د مِنيت نه غنم،
اينځر، شات، د زيتُونو تېل او مصالحې درکړې. ۱۸ دمشق
تا سره د ډېر پيداوار او د مال د زياتوالی په وجه، کاروبار

وکړو او د دې ځیزونو په بدله کښې یې د حلبون مے او د
صاحر وړۍ درکړه. ۱۹ د ودان او یونان خلقو ستاسو نه
ځیزونه اخستل او د هغې په بدله کښې یې تاسو ته د کار
اوسپنه او خوشبودارې مصالحې درکولې. ۲۰ د ددان خلقو
د آسونو د قیمتی زینونو کاروبار تاسو سره کولو. ۲۱ د
عربو او د قیدار ټول شهزادګان ستا خریدار وُو، هغوئ تاسو
سره د ګډورو، ګډانو، او چیلو کاروبار وکړو. ۲۲ د شیبا او
راماه خلقو تا سره کاروبار وکړو، ستاسو د ځیزونو په بدله
کښې هغوئ تاسو له اعلیٰ مصالحې، قیمتی کانړی او سرۀ زر
درکول. ۲۳ د حاران، کنه او عدن، د شیبا سوداګرو او د
اسور او کِلمد خلقو هم تا سره تجارت وکړو. ۲۴ ستاسو په
بازارونو کښې هغوئ تاسو سره د ښکلې کپړې، د آسمانې
رنګې کپړې، د ګُلکارۍ او د رنګینه قالینونو چې پړی ترې تاو
وُو او چې ګُلکارۍ یې کلکې تړلے شوې وې کاروبار وکړو.
۲۵ د ترسیس بیړو ستا د سامان په وړولو کښې مدد کولو،
او د سمندر په زړۀ کښې تۀ د دروند مال نه ډکه وې. ۲۶
ستا چپو وهونکو تۀ لوئ سمندر ته راورسولې، خو د مشرق
هواګانې به تا د سمندر په مینځ کښې ماته کړی. ۲۷ ستا
مال دولت، د تجارت سامان او مال، ستا د بیړۍ ټول
چلوونکی، جوړونکی او پوهان، ستا تاجران، او ستا ټول
فوجیان، او نور ټول هغه کسان چې په کشتۍ کښې ناست دی
به د سمندر په زړۀ کښې ډوب شی په کومه ورځ چې ستا
کشتۍ تباه شی. ۲۸ ستا د ماڼکیانو د چغو په وجه به د
سمندر په غاړه خلق د یرې نه ولړزیږی. ۲۹ هغه ټول چپو
وهونکی به خپله کشتۍ پرېږدی، ماڼکیان او نور کار کوونکی
به د ساحل په غاړه ودرېږی. ۳۰ هغوئ به خپل آواز اوچت

کړی او په تا به سخته ژړا کوی، هغوئ به په خپلو سرونو
خاورې او دوړې وشیندی او په ایرو کښې به ورغړی. ۳۱
هغوئ به ستا په وجه خپل سرونه ګنجی کړی او د ټاټ جامې
به واچوی. هغوئ به په تا په پرېشانه زړۀ سره ژړا وکړی.
۳۲ کله چې هغوئ په تا باندې ژړا او وير کوی، هغوئ به
ستا په حقله د غم مرثيه وائی، څوک لکه د صور په شان
خاموشه وو، چې سمندر يې محاصره کړې وو؟ ۳۳ کله
چې به ستا د تجارت مال په سمندر کښې نورو مُلکونو ته
ورلې کېدو، تا ډېر مُلکونه ماړۀ کړل. ستا د ډېر مال دولت
او مال سره تا د زمکې بادشاهان ماړۀ کړل. ۳۴ اوس تۀ د
سمندر په ژورو اوبو کښې مات او ډوب شوې يې، ستا
سامانونه او ستا کارکوونکی ټول تا سره لاندې ډوب شول.
۳۵ هر هغه څوک چې د سمندر په غاړه اوسېږی، هغوئ تا
ته حېران دی، د هغوئ بادشاهان يرې اخستی دی او پرېشانه
شوی دی او شکلونه يې د يرې نه په بله اوړېدلی دی. ۳۶ د
قومونو سوداګرو ستا په حقله په خپلو کښې وائی چې توبه
توبه، کله چې هغوئ ستا خراب اَنجام وليدو او تۀ د تل دپاره
نيست نابود شوې.“

## د صور د بادشاه خِلاف پيشګوئي

۲۸ ۱ د مالِک خُدائ کلام په ما نازل شو، ۲ ”اے
بنی آدمه، د صور حکمران ته ووايه، مالِک قادر مطلق خُدائ
داسې فرمائی چې تا د خپل زړۀ په مغرورتيا کښې وئيل چې،
زۀ خُدائ يم او زۀ د خُدائ په تخت د سمندر په زړۀ کښې
ناست يم. خو تۀ انسان يې او خُدائ پاک نۀ يې، اګر چې ستا

دا خيال دے چې تهٔ د خُدائ په شان هوښيار يې. ۳ ولې تهٔ دانيال نه ډېر هوښيار يې چې يو راز هم ستا نه پټ نهٔ دے؟ ۴ ستا په خپل عقل او پوهه تا د خپل ځان دپاره مال دولت راجمع کړو او په خپله خزانه کښې دې سرهٔ او سپين زر راغونډ کړل. ۵ په تجارت کښې د ډېرې پوهې په ذريعه تا خپل مال دولت زيات کړو، او د مال دولت په وجه ستا زړهٔ ډېر مغروره شو. ۶ نو په دې وجه مالِک قادر مطلق خُدائ داسې فرمائى چې، ځکه چې ستا خيال دا دے چې تهٔ هوښيار يې، لکه د خُدائ په شان هوښيار يې، ۷ زهٔ به ستا خلاف د غېرو قومونو نه د ټولو نه زيات بې‌رحمه خلق راولم، هغوئ به ستا د حُسن او عقل خلاف خپلې تُورې راوکاږى او ستا ځلېدونکے شان او شوکت به پليت کړى. ۸ هغوئ به تا کندې ته ښکته کړى او تهٔ به د سمندر په زړهٔ کښې په بې‌دردۍ سره مړ شې. ۹ ولې تهٔ به بيا د قاتلانو په مخکښې ووائې چې زهٔ خُدائ يم؟ هيڅکله نه. تهٔ به صرف انسان يې، خُدائ نه، د هغوئ په لاسونو کښې څوک چې تا حلالوى. ۱۰ تهٔ به د غېرو قومونو په لاسونو لکه د ناسنتو په شان مړ شې. ما مالِک قادر مطلق خُدائ دا فرمائيلى دى.“

## د صور د بادشاه د غم مرثيه

۱۱ د مالِک خُدائ کلام په ما نازل شو، ۱۲ ”اے بنى آدمه، د صور د بادشاه په حقله د غم مرثيه ووايه او هغهٔ ته ووايه چې، مالِک قادر مطلق خُدائ داسې فرمائى چې، تهٔ د کامليت نمونه وې، د عقل نه ډک وې او ستا حُسن د کمال وو. ۱۳ تهٔ په باغِ عدن کښې، د مالِک خُدائ په باغ کښې وې، هر قسم قيمتى کاڼو لکه ياقوت، طوپاز، هيره،

ايکوامرين، اونيکس کاڼي، جاسپر، نيلم، زمرد او لعلونو تهٔ
ښائسته کړے وې. تهٔ د سرو زرو کار ښکلے کړے وې. په
کومه ورځ چې ستا تخليق وشو دا ستا دپاره تيار کړے شوی
وُو. ۱۴ ما تهٔ د وزرو والا مخلوق په شان مسح شوے او
ساتونکے مقرر کړې او تهٔ د خُدائ پاک په مقدس غر وې،
او تهٔ د بلېدونکو کاڼو په مينځ کښې ګرځېدلې. ۱۵ ستا د
پېدايښت د ورځې نه ستا چال چلن بېداغه وو تر دې چې په
تا کښې بدکارى پيدا شوه. ۱۶ تهٔ د خپل ډېر زيات تجارت
په وجه د ظلم زياتې نه ډک شوې او ګناه دې وکړه. نو ما بيا
تهٔ په بې‌عزتئ سره د خُدائ پاک د غرهٔ نه وشړلې، او ما تهٔ
اے حفاظت کوونکې فرښتې د هغه بلېدونکو کاڼو نه وشړلې.
۱۷ ستا زړهٔ په خپل حُسن باندې مغروره شو، او تا خپل
عقل د خپل شان او شوکت په وجه خراب کړو. نو ما تهٔ
زمکې ته راوغورزولې، او بادشاهانو ته مې تماشه جوړه کړې.
۱۸ تا په خپلو ډېرو ګناهونو او بې‌ايمانه تجارت خپل د
عبادت ځايونه ګنده کړل. نو ما په تا اور ولګولو او هغهٔ تهٔ
وسوزولې، او تهٔ مې په زمکه د ټولو هغه کسانو په وړاندې په
ايرو بدل کړې چې ستا تماشه يې کوله. ۱۹ ټولو هغه مُلکونو
چې تهٔ يې پېژندلې تا ته حېران دی، ستا مرګ به ډېر خطرناک
وی او تهٔ به نور په دُنيا کښې پاتې نهٔ شې.“

## د صيدا خِلاف پېشګوئي

۲۰ د مالِک خُدائ کلام په ما نازل شو، ۲۱ ”اے بنى آدمه،
خپل مخ دې د صيدا خلاف کړه، د هغې خلاف پېشګوئي
وکړه ۲۲ او ووايه چې مالِک قادر مطلق خُدائ داسې
فرمائى چې، زهٔ ستا خلاف يم اے صيدا، او زهٔ به په تا کښې

جلال حاصل کړم. نو هغوئ به په دې پوهه شی چې زۀ مالِک
خُدائ يم. کله چې زۀ په هغې د سزا فېصله وکړم او خپل
ځان په هغې کښې مقدس ښکاره کړم. ۲۳ زۀ به په هغې وبا
راولم او د هغې په کوڅو کښې به وينې رواني کړم. د هرې
خوا نه به په تا حملې کيږی، ستا خلق به په کښې په تُوره مړۀ
شی. نو بيا به هغوئ پوهه شی چې زۀ مالِک خُدائ يم.“

## بنی اِسرائيلو ته به برکت مِلاو شی

۲۴ ”د بنی اِسرائيلو د خلقو به نور کينه لرونکی ګاونډيان نۀ
وی کوم چې لکه د درد ورکونکی ازغو او تېرۀ غنو په شان
وُو. نو بيا به هغوئ پوهه شی چې زۀ مالِک خُدائ يم. ۲۵
مالِک قادر مطلق خُدائ داسې فرمائی چې، کله چې زۀ د بنی
اِسرائيلو قوم د هغه مُلکونو نه راغونډ کړم کومو مُلکونو ته
چې هغوئ خوارۀ وارۀ شوی وُو، زۀ به د هغوئ په مينځ کښې
او د نورو قومونو په وړاندې خپل ځان مقدس وښايم. نو بيا
به هغوئ په خپل مُلک کښې اوسيږی، کوم چې ما خپل
خِدمتګار يعقوب له ورکړے وو. ۲۶ هغوئ به هلته په امن
سره ژوند تېروی او هغوئ به کورونه جوړ کړی او د انګورو
بوټی به وکَری. زۀ به د هغوئ هغه ټولو ګاونډيانو له سزا
ورکړم چا چې ورپورې ټوقې کړې وې. نو بيا به هغوئ پوهه
شی چې زۀ د هغوئ مالِک قادر مطلق خُدائ يم.“

## د مِصر خِلاف پېشګوئي

۲۹ ۱ زمونږ د جلاوطنۍ د لسم کال د لسمې مياشتې په
دولسمه ورځ د مالِک خُدائ کلام په ما نازل شو، ۲ ”اے

بنی آدمه، د مِصر د بادشاه فِرعون په خلاف خپل مخ
ورواړوه. د هغهٔ او د ټول مِصر خلاف پېشګوئي وکړه. ٣
هغهٔ ته ووايه چې مالِک قادر مطلق خُدائ داسې فرمائی چې،
اے د مِصر بادشاه فِرعونه، زهٔ ستا خلاف يم، تهٔ لکه د يو
لوئ اژدها په شان په خپلو نِهرونو کښې غزېدلے يې او تهٔ دا
وائې چې دريائے نيل زما دے او دا ما د خپل ځان دپاره
جوړ کړے دے. ٤ زهٔ به ستا په خولهٔ کښې کُنډه واچوم
او د هغه نِهرونو ټول کبان به ستا څرمن پورې ونښلوم. او زهٔ
به تا سره د هغه ټولو کبانو د نِهرونو نه راوکاږم کوم چې ستا
څرمن پورې انښتی وی. ٥ زهٔ به تا او ستا د نِهرونو هغه
ټول کبان په صحرا کښې پرېږدم. تهٔ به په اوچه زمکه پروت
يې او تهٔ به نهٔ راغونډ او نهٔ اوچت کړے شې. زهٔ به تا د زمکې
د ځناورو او د هوا د مارغانو خوراک کړم. ٦ نو بيا به
هغوئ ټول په دې پوهه شی څوک چې په مِصر کښې اوسېږی
چې زهٔ مالِک خُدائ يم. تهٔ د بنی اِسرائيلو د قوم دپاره صرف
د لوخې امسا په شان وې. ٧ کله چې تهٔ هغوئ په خپل
لاس کښې ونيولې نو تا دړه وکړه او د هغوئ اوږه دې سورې
کړه، او کله چې هغوئ په تا تکيه وکړه، نو ستا ملا ماته شوه.
٨ نو په دې وجه مالِک قادر مطلق خُدائ داسې فرمائی
چې، زهٔ به ستاسو خلاف تُوره راواخلم او ستاسو سړی او د
هغوئ ځناور به قتل کړم. ٩ نو مِصر به په صحرا او شاړه
زمکه بدل شی. نو بيا به هغوئ په دې پوهه شی چې زهٔ مالِک
خُدائ يم. ځکه چې تا وئيل چې، دريائے نيل زما دے، هغه
ما جوړ کړے دے. ١٠ نو په دې وجه زهٔ ستا او ستا د
نِهرونو خلاف يم، او زهٔ به د مِصر مُلک تباه او وران ويجاړ
کړم د مجدال نه تر اسوان پورې، او د ايتهوپيا د سرحدونو

پورې. ١١ نۀ به د انسان او نۀ به د ځناورو قدم په تا تېر
شى، او د څلوېښتو کالو پورې به په کښې هيڅ څوک هم نۀ
اوسيږى. ١٢ زۀ به د مِصر حال د خوا او شا ورانو مُلکونو
نه بدتر کړم. او د هغۀ ښارونه به د تباه شوو ښارونو په مينځ
کښې د څلوېښتو کالو پورې تباه پراتۀ وى. او زۀ به مِصريان
په نورو قومونو او مُلکونو کښې خوارۀ وارۀ کړم. ١٣ نو
مالِک قادر مطلق خُدائ داسې فرمائى چې، زۀ به مِصريان د
څلوېښتم کال په آخر کښې د هغه مُلکونو نه رايوځائ کړم
کوم ته چې هغوئ خوارۀ شوى وُو. ١٤ زۀ به هغوئ بيا
بحال کړم او خپل اصلى او د پلار نيکۀ مُلک جنوبى مِصر ته
راولم. او هلته به د هغوئ يو کمزورے بادشاهت وى. ١٥ دا
به د نورو بادشاهتونو په مينځ کښې د ټولو نه کمزورے
بادشاهت وى او کله به هم په نورو بادشاهتونو خپل ځان
اوچت نۀ کړى. زۀ به دا دومره کمزورے کړم چې دا به
هيڅکله هم په نورو قومونو حکومت ونۀ کړى. ١٦ بنى
اِسرائيل به نور په مِصر تکيه نۀ کوى خو دا به هغوئ ته د
خپلې هغه ګناه کولو يو يادګار وى چې کله به دوئ د هغوئ
نه مدد غوښتلو. نو بيا به هغوئ په دې پوهه شى چې زۀ مالِک
خُدائ يم.“

## د نبوکدنضر بادشاه مِصر فتح کول

١٧ په اوويشتم کال، د وړومبى مياشتې په وړومبى ورځ، د
مالِک خُدائ کلام په ما نازل شو چې، ١٨ ”اے بنى آدمه، د
بابل بادشاه خپل فوجيان د صور خلاف د حملې دپاره
ورولېږل، تر دې چې د سخت جنګ په وجه ګنجيان شول او
د هغوئ اوږې پولې شوې، خو د دې ټول تکليف باوجود

بادشاه او هغوئ تش لاس راغلل. ۱۹ نو په دې وجه مالِک
قادر مطلق خُدائ داسې فرمائی چې، زهٔ د مِصر مُلک
نبوکدنضر د بابل بادشاه له ورکوم، او هغه به د دې مال
دولت ځان سره یوسی. هغه به دا لوټ کړی، خپلو فوجیانو
ته به یې په تنخواه کښې حساب کړی. ۲۰ ما هغهٔ ته په انعام
کښې مِصر ورکړو د هغه کار په بدل کښې کوم چې هغهٔ او د
هغهٔ فوجیانو زما دپاره کړے دے. مالِک خُدائ داسې
فرمائی. ۲۱ چې کله دا هر څهٔ وشی نو زهٔ به بنی اِسرائیلو له
نوے طاقت ورکړم. اے حزقی‌ایله، په هغه وخت به زهٔ ستا
خولهٔ کولاو کړم او تهٔ به دوباره د هغوئ په مینځ کښې خبرې
شروع کړې. نو بیا به هغوئ پوهه شی چې زهٔ مالِک قادر
مطلق خُدائ یم.“

## د مِصر دپاره د غم مرثیه

۳۰ ۱ د مالِک خُدائ کلام په ما نازل شو، ۲ ”اے
بنی آدمه پېشگوئې وکړه او ووایه، مالِک قادر مطلق خُدائ
داسې فرمائی چې، ویر وکړئ او ووایئ، افسوس دې وی په
هغه ورځ ۳ ځکه هغه ورځ رانزدې ده، د مالِک خُدائ ورځ
رانزدې ده، د تورو تیارو ورځ، دا به د قومونو دپاره د قیامت
ورځ وی. ۴ د مِصر خلاف به تُوره رانازله شی، او په
ایتهوپیا باندې به غم نازل شی. کله چې مِصر کښې مړی
وشی، د هغهٔ مال دولت به لوټ شی او د هغهٔ بنیادونه به د
بېخه وران شی. ۵ د ایتهوپیا، لیبیا، د لِدیه، عربو، او د
کوب زما د غوره شوی مُلک خلق به د مِصر سره په تُوره
قتل کړے شی. ۶ مالِک قادر مطلق خُدائ داسې فرمائی

چې، مِصر او د هغهٔ اِتحادیان به ووژلے شی او د هغهٔ د کبر کاسه به نسکوره شی. د مجدال نه تر اسوان پورې به هغوئ د هغهٔ سره په تُوره قتل کړے شی، مالِک قادر مطلق خُدائ داسې فرمائی. ۷ هغوئ به د نورو ورانو مُلکونو په مینځ کښې برباد وی، او د هغوئ ښارونه به د تباه شوو ښارونو په مینځ کښې پراتهٔ وی. ۸ نو بیا به هغوئ په دې پوهه شی چې زهٔ مالِک خُدائ یم، کله چې زهٔ په مِصر اور ولګوم او د هغهٔ ټول مددګاران قتل شی. ۹ په هغه ورځ به پېغام رسوونکی زما نه په کشتۍ کښې روان شی چې د ایتهوپیا مغروره خلق ویروی. د مِصر د تباهۍ په ورځ به هغوئ ډېر پرېشانه شی، په یقین سره هغه ورځ راروانه ده. ۱۰ مالِک قادر مطلق خُدائ داسې فرمائی چې، زهٔ به د بابل بادشاه نبوکدنضر په وسیله ګڼ مِصریان ختم کړم. ۱۱ هغه او د هغهٔ فوجیان چې په ټولو قومونو کښې ظالمان دی د دې مُلک د تباهۍ دپاره به راوستے شی. هغوئ به خپلې تُورې د مِصر خلاف راویاسی او هغه به د مړو نه ډک کړی. ۱۲ زهٔ به دریائے نیل اوچ کړم او هغه زمکه به په بدعملو خلقو خرڅه کړم. د غېرو خلقو په لاس به دا زمکه او په دې کښې هر څهٔ شاړ کړم. ما مالِک خُدائ دا وفرمائیل. ۱۳ مالِک قادر مطلق خُدائ داسې فرمائی، زهٔ به بُتان تباه کړم او په میمفِس کښې مجسمې به ختمې کړم. نور به په مِصر کښې شهزاده نهٔ وی، او زهٔ به په ټول مُلک دهشت خور کړم. ۱۴ زهٔ به بره مِصر تباه کړم، او ضُعن ته به اور ولګوم، او تیبس ته به سزا ورکړم. ۱۵ زهٔ به خپل غضب د مِصر په مضبوط ښار پلوسیوم نازل کړم. او د تیبس ګڼ خلق به تباه کړم. ۱۶ زهٔ به په مِصر اور ولګوم او پلوسیوم به د درد نه تاوېږی.

تيبس به په مينځ نيم کړم، او ميمفِس به په مسلسله پرېشانۍ
کښې وى. ۱۷ د هليوپوليس او بوبستيس ځوانان به په تُوره
مړۀ شى، او دا ښارونه به په خپله قبضه کړے شى. ۱۸ په
تحفنحيس کښې به د ورځې تيارۀ شى کله چې زۀ د مِصر جغ
مات کړم او د هغۀ زور به ختم شى. هغه به په وريځو کښې
پټ شى، او د هغۀ کلى به قبضه کړے شى. ۱۹ نو زۀ به په
مِصر سزا نازله کړم، او هغوئ به پوهه شى چې زۀ مالِک
خُدائ يم.“

## د مِصر د فِرعون زور ختمېدل

۲۰ په يوولسم کال د وړومبى مياشتې په اوومه ورځ د مالِک
خُدائ کلام په ما نازل شو، ۲۱ ”اے بنى آدمه، ما د مِصر د
بادشاه فِرعون لاس مات کړو. هغه د رغېدلو دپاره ونۀ تړلے
شو او نۀ ورسره تخته ولګولے شوه چې هغه دومره مضبوط
شى چې تُوره ونيسى. ۲۲ په دې وجه مالِک قادر مطلق
خُدائ داسې فرمائى، زۀ د مِصر د بادشاه فِرعون په خلاف
يم. زۀ به د هغۀ دواړه لاسونه مات کړم، روغ او مات دواړه
لاسونه به يې مات کړم، او تُوره به د هغۀ د لاس نه وغورزوم.
۲۳ زۀ به مِصريان په نورو قومونو او مُلکونو کښې خوارۀ
وارۀ کړم. ۲۴ زۀ به د بابل د بادشاه لاسونه مضبوط کړم او
خپله تُوره به د هغۀ په لاس کښې کېږدم، خو زۀ به د فِرعون
لاسونه مات کړم، او هغه به د هغۀ په وړاندې د مرګونى
انسان په شان زيرګى کوى. ۲۵ زۀ به د بابل د بادشاه
لاسونه مضبوط کړم، خو د فِرعون لاسونه به شل ګوډ کړم.
نو بيا به هغوئ پوهه شى چې زۀ مالِک خُدائ يم، کله چې زۀ
خپله تُوره د بابل د بادشاه په لاس کښې کېږدم او چې هغه يې

د مِصر خلاف راوکاږی. ٢٦ زهٔ به مِصریان د نورو قومونو
او مُلکونو په مینځ کښې خوارهٔ وارهٔ کړم. نو بیا به هغوئ
پوهه شی چې زهٔ مالِک خُدائ یم.“

## په لبنان کښې د دِیار ونه

٣١ ١ د جلاوطنئ په یوولسم کال، د درېمې میاشتې په
اوله ورځ د مالِک خُدائ کلام په ما نازل شو، ٢ ”اے بنی
آدمه، د مِصر بادشاه فِرعون او د هغهٔ ټولو ګڼو خلقو ته
داسې ووایه، په لویئ کښې تهٔ خپل ځان چا سره برابر ګڼې؟
٣ تاسو د تکړه اسور په شان یئ، کوم چې یو وخت د
لبنان د دِیار د ونې په شان وو، چې څانګې یې ښائسته وې او
په ټول ځنګل یې سورے خور وو، او لوړوالے یې وریځو ته
رسیدو. ٤ هغه اوبو غټ کړو، او په زمکه کښې لاندې چینو
هغه لوړ کړے وو، او د هغوئ نِهرونه د هغه ونې ګېرچاپېره
بهېدل، او د اوبو لختی یې د پټی ټولو ونو ته ورغلی وُو. ٥
نو دا د پټی د نورو ټولو ونو نه ډېره اوچتېدله، او د دې څانګې
ډېرې پلنې اوږدې شوې وې ځکه چې جرړو ته زیاتې اوبهٔ
رسېدلې وې. ٦ د هوا ټولو مارغانو د دې په څانګو کښې
جالې جوړې کړې، او ټولو ځنګلی ځناورو د هغې د څانګو
لاندې بچی راوړل، او د دُنیا ټول لوئ قومونه د هغې د سورې
لاندې کښیناستل. ٧ د خپل اوچتوالی او ګڼو څانګو په
وجه هغه ډېره زیاته سیرابه وه، ځکه چې جرړو ته یې زیاتې
اوبهٔ رسېدلې وې. ٨ د خُدائ پاک په باغ کښې د دِیار نورې
ونې هغې ته نهٔ شوې رسېدلے. د نختر ونو د هغې د څانګو د
ګڼوالی مقابله نهٔ شوه کولے، او د چنار ونو یې په څانګو

کښې برابروالے نۀ شو کولے. د خُدائ پاک په باغ کښې بله
یوه ونه هم دومره ښکلې نۀ وه. (۹) ما هغه په ګڼو څانګو
ښکلې کړې وه، د خُدائ پاک په باغِ عدن کښې ټولو ونو
ورسره سیالی کوله. (۱۰) نو په دې وجه مالِک قادر مطلق
خُدائ داسې فرمائی چې، هغه دومره اوچته شوې ده، او سر
یې بره وریځو سره لګېږی، او هغه خپل لوړوالی ته مغروره
شوې وه، (۱۱) نو ځکه ما هغه د غېرو مُلکونو بادشاهانو ته
حواله کړه چې د هغې د ګناهونو په مطابق ورسره رفتار
وکړی. ما هغه یوې خوا ته وغورزوله، (۱۲) او د ټولو نه
بې‌رحمه غېر مُلکیانو هغه پرې کړه او داسې یې پرېښودله. د
هغې څانګې په غرونو او درو، ګړنګونو کښې راوغورزېدلې،
او د هغې څانګې د هغه مُلک په درو کښې ماتې شوې پرېوتې.
او د زمکې ټول قومونه د هغې د سورې نه بهر راووتل او هغه
یې پرېښوده. (۱۳) د هوا ټولو مارغانو په دې غورزېدلې ونه
کښې جالې جوړې کړې او د زمکې ځناور یې په څانګو کښې
اوسېدل. (۱۴) پس د دې نه دې د بل یو مُلک ونه هم په خپله
دومره کبر نۀ کوی اګر چې سر یې د وریځو نه اوچت شوے
هم وی او جرړې یې اوبو ته رسېدلې دی، ځکه چې هغه ټولې
د مرګ خوا ته روانې دی، یعنې د فانی انسانانو سره لاندې
قبر ته، د هغوئ سره څوک چې لاندې قبر ته روان دی. (۱۵)
نو مالِک قادر مطلق خُدائ داسې فرمائی چې، په کومه ورځ
چې هغه ونه لاندې قبر ته ښکته شی نو هغه د اوبو چینې به
وریاندې ماتم او ویر وکړی. ما د هغې نِهرونه بند کړل، او د
هغې بې‌حسابه اوبو بهېدل بند شول. نو د دې په وجه ما لبنان
ته د ماتم کپړې واغوستې، او د زمکې ټولې ونې وچې شوې.
(۱۶) ما د هغې د راپرېوتو په آواز دُنیا په لړزان کړه کله چې

هغه ما د هغوئ سره لاندې د مړو دُنيا ته ښکته کړه څوک
چې قبر ته روان وُو. بيا د عدن ټولې ونې او د لبنان ټولې
غوره شوې ونې، او هغه ټولې ونې چې ښې سيرابه شوې وې،
هغه لاندې زمکې ته ولېږلے شوې. ۱۷ د هغوئ د نورو
مُلکونو اِتحاديان هغه څوک چې د دې په سورى کښې
اوسېدل هم د هغوئ سره قبر ته لاړل څوک چې په تُوره قتل
شوى وُو. ۱۸ د باغِ عدن کومه يوه ونه تا سره په شان او
شوکت کښې مقابله کولے شى؟ خو تهٔ به هم د عدن د نورو
ونو سره لاندې زمکې ته راوغورزولے شې، تهٔ به د ناسنتو په
مينځ کښې څملې، د هغوئ سره څوک چې په تُوره وژلے
شوى دى. دا به د فِرعون او د هغهٔ د ټولو ګڼو خلقو اَنجام
وى، ما مالِک خُدائ دا وفرمائيل.“

## د فِرعون دپاره د غم مرثيه

۳۲ ۱ د دولسم کال، د دولسمې مياشتې په وړومبۍ
ورځ، د مالِک خُدائ کلام په ما نازل شو، ۲ ”اے بنى
آدمه، د مِصر د بادشاه فِرعون په حقله د غم مرثيه ووايه او
هغهٔ ته ووايه، تهٔ د مُلکونو په مينځ کښې لکه د زمرى په شان
وې، خو په حقيقت کښې تهٔ لکه د سمندر د اژدها په شان يې
چې په خپلو نِهرونو کښې ګرځې راګرځې او په خپلو پښو
سره اوبهٔ تاووې او نِهرونه خړوې. ۳ مالِک قادر مطلق
خُدائ داسې فرمائى چې، زهٔ به ډېر خلق درولېږم چې تا زما
په جال کښې راګېر کړى، او په هغې کښې به دې د اوبو نه
رابهر کړى. ۴ زهٔ به تا په زمکه راوغورزوم او په اوچ مېدان
به دې راوولم. زهٔ به د هوا ټول مارغان پرېږدم چې په تا

کښېنی او د زمکې ټول ځناور به په تا باندې خپل ځانونه ماړۀ
کړی. ۵ زۀ به ستا غوښه په غرونو ونولم او ستا په لاش به
دَرې ډکې کړم. ۶ زۀ به زمکه دومره ستا په وينو رنګ کړم
چې د غرونو سر ته ورسی، او ګړنګونه به ستا د وينو ډک
کړم. ۷ کله چې زۀ ستا د ژوند شمع مړه کړم، نو زۀ به
آسمان پټ کړم او د دې ستوری به تور کړم، زۀ به نمر په
وريځو سره پټ کړم، او سپوږمۍ به خپله رڼا نۀ خوروی.
۸ زۀ به ستا دپاره د آسمان ټولې رڼاګانې تيارې کړم، زۀ به
ستا په زمکه باندې تيارۀ راولم. مالِک خُدائ دا فرمائی. ۹
زۀ به د ډېرو قومونو زړونه پرېشانه کړم کله چې زۀ د نورو
مُلکونو په مينځ کښې تا تباه کړم، په هغه مُلکونو کښې چې تا
نۀ پېژندل. ۱۰ زۀ به ډېر خلق ستا د حالاتو په وجه پرېشانه
کړم، او ستا په وجه به د هغوئ بادشاهان د يرې نه ولړزيږی
کله چې زۀ خپله تُوره د هغوئ په وړاندې ښکاره کړم. ستا د
غورزېدو په ورځ به هغوئ ټول هره لحظه د خپل ژوند دپاره
لړزيږی. ۱۱ ځکه مالِک قادر مطلق خُدائ داسې فرمائی
چې، د بابل د بادشاه تُوره به ستاسو خلاف راشی. ۱۲ زۀ به
ستا لښکر ختم کړم د هغه طاقتورو خلقو په تُورو چې د ټولې
دُنيا بې‌رحمه خلق دی. هغوئ به د مِصر دبدبه ختمه کړی او
د هغې ټولې لښکرې به تباه شی. ۱۳ زۀ به د هغې ټول
څاروی چې د سيند په خوا کښې څرېږی تباه کړم، نور به د
انسان پښې دا اوبۀ نۀ تاووی او نۀ به د ځناورو پښې دا
خړوی. ۱۴ بيا به زۀ د دې اوبۀ دومره خاموشه کړم او د
دې دريابونه به لکه د تېلو په شان بهيږی، مالِک قادر مطلق
خُدائ فرمائی. ۱۵ کله چې زۀ د مِصر مُلک وران ويجاړ
کړم او دا زمکه د هر څۀ نه خالی کړم، کله چې زۀ هغوئ

ټول هلاک کړم ځوک چې هلته اوسيږی، نو بيا به هغوئ پوهه
شی چې زۀ مالِک خُدائ يم. ۱۶ دا هغه د غم مرثيه ده چې
دوئ به يې هغۀ ته ووائی. د دې مُلک لوڼه به دا وائی، د مِصر
او د هغوئ ګڼ خلقو دپاره به د غم مرثيه وائی، مالِک قادر
مطلق خُدائ فرمائی.“

## عالمِ ارواح

۱۷ د دولسم کال د اولې مياشتې په پينځلسمه ورځ د مالِک
خُدائ کلام په ما نازل شو، ۱۸ ”اے بنی آدمه، د مِصر په
لښکرو باندې وير وکړه او هغه دواړه د نورو تکړه قومونو
لوريانو سره لاندې زمکې ته حواله کړه، د هغوئ سره ځوک
چې قبر ته روان دی. ۱۹ هغوئ ته ووايه، ولې تۀ د نورو نه
ډېره ښائسته يې څۀ؟ عالمِ ارواح ته لاړه شه او د ناسنتو په
مينځ کښې پرېوځه. ۲۰ هغوئ به د هغه چا سره مړۀ شی
ځوک چې په تُوره قتل شوی دی. تُوره راويستلے شوې ده،
هغه پرېږده چې خپل ټول لښکر سره عالمِ ارواح ته راښکلے
شی. ۲۱ لاندې قبر نه به تکړه مشران د مِصر او د هغۀ د
اِتحاديانو په حقله وائی، هغوئ لاندې راغلل او هغوئ د ناسنتو
سره مړۀ پراتۀ دی، هغوئ سره چې په تُوره مړۀ شوی دی.
۲۲ اسور خپل ټول فوج سره هلته پروت دے، هغه د خپلو
ټولو وژلے شوو د قبرونو په مينځ کښې راګېر دے، هغوئ
ټولو سره چې په تُوره قتل شوی دی. ۲۳ د هغوئ قبرونه په
ژوره کنده کښې دی او د هغۀ فوجيان د هغۀ د قبر نه چاپېره
ښخ دی. هغوئ ټولو چا چې د ژوندو په دُنيا کښې دهشت
خورولو هغوئ قتل شول، او په تُوره مړۀ شول. ۲۴ عيلام هم
هلته دے د هغۀ ټولې لښکرې د هغۀ د قبر نه چاپېره پرتې دی،

هغوئ ټول حلال کړے شوی، په تُوره وژلے شوی دی.
هغوئ ټولو چا چې د دُنیا په ټولو خلقو کښې دهشت خورولو
لاندې زمکې ته ناسنته ښکته شول. هغوئ خپله بېعزتی د
هغوئ سره وزغمی څوک چې لاندې عالمِ ارواح ته روان دی.
۲۵ د هغهٔ دپاره د مړو په مینځ کښې د آرام ځائ جوړ شو،
د هغې ټولو فوجیانو سره د هغې د قبر نه چاپېره. هغوئ ټول
ناسنته دی او په تُوره وژلے شوی دی. ځکه چې هغوئ د دُنیا
په ټولو خلقو کښې خپل دهشت خور کړے وو، هغوئ د هغه
چا سره شرمنده پراتهٔ دی څوک چې په قبر کښې دی. ۲۶
مسک او توبل هلته سره د خپلو ټولو لښکرو د هغوئ د
قبرونو نه چاپېره دی. هغوئ ټول ناسنته دی، په تُوره وژلے
شوی دی ځکه چې هغوئ د دُنیا په ټولو خلقو کښې خپل
دهشت خور کړے وو. ۲۷ هغوئ د خپلو نورو جنګیالو په
شان په عزت ښخ نهٔ شول، څوک چې د خپلو وسلو سره
عالمِ ارواح ته ښکته شوی وُو او چې ډالونه یې په لاشونو پراتهٔ
وُو او تُورې یې د سرونو د لاندې ایښې وې. د هغوئ ګناه د
هغوئ دپاسه وه ځکه کله چې هغوئ لا ژوندی وُو نو هغوئ په
هر چا دهشت خور کړے وو. ۲۸ تهٔ به هم، اے فِرعونه تیکه
تیکه شې او د ناسنته په مینځ کښې به ښخ کړے شې، د
هغوئ سره چې په تُوره مړهٔ شوی دی. ۲۹ ادوم هلته د خپلو
بادشاهانو او شهزادګانو سره دے، باوجود د خپل ټول طاقت
هغوئ د هغوئ په مینځ کښې پراتهٔ دی څوک چې په تُوره
وژلے شوی دی. هغوئ د ناسنتو سره پراتهٔ دی، د هغوئ
سره څوک چې لاندې کندې ته روان دی. ۳۰ د شمال ټول
شهزادګان او ټول صیدانیان هلته پراتهٔ دی، هغوئ لاندې د
وژلے شوو سره په بېعزتئ لاړل باوجود د دې چې د هغوئ

د طاقت په وجه دهشت خور وو. او اوس د هغوئ لاشونه د
ناسنته په حالت کښې د مړو سره پراتهٔ دی. او هغوئ خپله
بې‌عزتی د هغوئ سره وزغمی څوک چې لاندې قبر ته روان
دی. ۳۱ فِرعون او د هغهٔ ټول فوجیان به هغوئ وګوری او
هغه به د خپل ټول لښکر دپاره تسلی ومومی څوک چې په
تُوره مړهٔ کړے شوی وُو، مالِک قادر مطلق خُدائ فرمائی.
۳۲ تر دې چې ما هغه پرېښے وو چې هغوئ د دُنیا په ټولو
خلقو کښې خپل دهشت خور کړی، فِرعون او د هغهٔ ټول
فوجیان به د ناسنتو په مینځ کښې پراتهٔ وی، د هغوئ سره
چې په تُوره وژلے شوی دی، مالِک قادر مطلق خُدائ
فرمائی.“

## د حزقی‌ایل د بنی اِسرائیلو محافظ مقررېدل

۳۳ ۱ د مالِک خُدائ کلام په ما نازل شو، ۲ ”اے
بنی آدمه د خپلو خلقو سره خبرې وکړه او هغوئ ته ووایه،
کله چې زهٔ د یو مُلک خلاف جنګ شروع کړم، نو د هغه
مُلک خلق د خپلو خلقو نه یو سړے غوره کړی چې د هغوئ
محافظ وی. ۳ کهٔ محافظ وګوری چې دشمن د هغه مُلک
خلاف راروان دے نو هغه به بیګل وغږوی چې خلقو له
خبردارے ورکړی. ۴ نو بیا چې څوک د بیګل آواز واوری
او هغې ته توجو ورنهٔ کړی او جنګ او تُوره راشی او د هغهٔ
ژوند ختم کړی نو خون به یې په خپله غاړه وی. ۵ ځکه
چې هغهٔ د کله نه چې د بیګل آواز واورېدو او توجو یې ورنهٔ
کړه، نو خون یې په خپله غاړه دے. کهٔ چرې هغهٔ خبرداری
ته توجو ورکړې وه، نو هغهٔ به خپل ځان بچ کړے وو. ۶

خو کۀ محافظ دشمن وګوری چې راروان دے او بيګل ونۀ غږوی چې خلقو له خبردارے ورکړی او دشمن راشی او کۀ د يو سړی ژوند ختم کړی، نو هغه سړے خو به د خپلې ګناه په وجه مړ شی، خو زۀ به محافظ د هغۀ د مرګ ذمه وار وګرځوم. ۷ اے بنی آدمه، ما تۀ د بنی اِسرائيلو د قوم دپاره محافظ جوړ کړې، نو بيا هغه خبرې واوره کومې چې زۀ تا ته کوم نو زما د خوا نه تۀ هغوئ ته خبردارے ورکړه. ۸ کله چې زۀ يو بدعمله ته ووايم، "اے بدعمله، تۀ به په حقيقت کښې مړ شې،" او تۀ د هغوئ سره خبرې ونۀ کړې چې هغوئ د خپلو عملونو نه واوړی، نو هغه بدعمله به د خپلو ګناهونو په وجه مړ شی، او زۀ به تا د هغۀ د مرګ ذمه وار کړم. ۹ خو کۀ تۀ يو بدعمله سړی له خبردارے ورکړې چې خپلې غلطې طريقې پرېږدی او هغه داسې ونۀ کړی، هغه به د خپلو ګناهونو په وجه مړ شی، خو تا خپل ځان د هغۀ د خون د ذمه وارئ نه بچ کړو."

## د محافظ پيغام

۱۰ "اے بنی آدمه، د بنی اِسرائيلو قوم ته ووايه، تاسو داسې وايئ چې، زمونږ جرمونو او ګناهونو مونږ لاندې کړی يُو، او مونږ د هغوئ په وجه سخا او تباه شوی يُو، نو مونږ به څنګه ژوندی پاتې شُو؟ ۱۱ هغوئ ته ووايه چې، زما دې په خپل ذات قسم وی، مالِک قادر مطلق خُدائ داسې فرمائی، زۀ د بدعمله په مرګ هيڅ نۀ خوشحالېږم، بلکې په دې خوشحالېږم چې هغه ټول غلط کارونه پرېږدی او ژوندے پاتې شی. راوګرځئ، د خپلو بدو لارو نه راوګرځئ. اے بنی اِسرائيلو، نو بيا ولې تاسو مړۀ کېدل غواړئ څۀ؟ ۱۲ اے بنی آدمه، خپل

د مُلک خلقو ته ووایه، د صادق انسان صداقت به هغه بچ نۀ کړی کۀ هغه نافرمانی کوی، او د بدعمله انسان بدعملی به هغه د مرګ کندې ته ونۀ غورزوی کۀ هغه دا پرېږدی. کۀ چرې یو صادق سړے ګناهونه وکړی، نو هغه به د خپل پخوانی صداقت په وجه بچ نۀ شی. ⑬ کۀ چرې زۀ یو صادق انسان ته ووایم چې تۀ به یقیناً ژوندے پاتې شې، خو هغه بیا په خپل صداقت اعتماد وکړی او بد کارونه شروع کړی، نو زۀ به د دۀ یو ښۀ عمل هم یاد نۀ کړم، کوم چې هغۀ پخوا کړی دی، هغه به د هغه بدو کارونو په وجه چې کوم هغۀ کړی دی، مړ شی. ⑭ او فرض کړئ کۀ چرې زۀ یو بدعمله ته ووایم چې تۀ به یقیناً مړ شې، نو کېدے شی چې هغه په دې اورېدو سره د خپلو ګناهونو نه توبه وکړی او هغه کارونه شروع کړی کوم چې د اِنصاف او صحیح دی، ⑮ لکه مثال په طور هغه خپل ضمانت واپس کړی کوم چې هغۀ د خلقو نه اخستے وی، او هر هغه څۀ واپس کړی کوم چې هغۀ پټ کړی وی، او زما په ژوند ورکونکی شریعت عمل وکړی او نور د بدئ نه مخ واړوی، نو یقیناً هغه به ژوندے پاتې شی، مړ به نۀ شی. ⑯ یوه ګناه به هم کومه چې هغۀ کړې وی د هغۀ خلاف نۀ حسابیږی. ځکه چې هغۀ هغه څۀ وکړل څۀ چې ښۀ او نېک دی، هغه به یقیناً ژوندے پاتې شی.
⑰ خو بیا هم ستا د مُلک خلق وائی چې، د مالِک خُدائ طریقې بې‌اِنصافه دی. خو دا هم دوئ دی چې د هغوئ طریقې بې‌اِنصافه دی. ⑱ کۀ یو صادق انسان خپل صداقت پرېږدی او بدعملی شروع کړی، هغه به د دې کار په وجه مړ شی. ⑲ او کۀ چرې یو بدکاره د خپلې بدکارئ نه واوړی او هغه څۀ وکړی چې کوم نېک او صحیح دی، نو په

داسې کولو سره به هغه خپل ژوند بچ کړی. ۲۰ خو اے د
اِسرائیل قومه، تاسو وایئ چې، د مالِک خُدائ طريقې د
اِنصاف نهٔ دی. خو زهٔ به ستاسو د هر يو عدالت ستاسو د
عملونو او طريقو په مطابق وکړم.“

## د يروشلم د تباه کېدو خبر

۲۱ زمونږ د جلاوطنۍ په دولسم کال، د لسمې مياشتې په
پينځمه ورځ، يو سړے څوک چې د يروشلم نه راتښتېدلے وو
ما له راغلو او وې وئيل، ”هغه ښار راوغورزېدلو.“ ۲۲ د
هغه کس د راتلو نه يو ماښام وړاندې، د مالِک خُدائ لاس په
ما باندې وو، هغهٔ زما خولهٔ په سحر کښې د هغه سړی د
راتلو نه وړاندې پرانستله. نو بيا زما خولهٔ پرانستلے شوې وه
او زهٔ نور چپ نهٔ شوم پاتې کېدے.

## د خلقو ګناهونه

۲۳ نو بيا د مالِک خُدائ کلام په ما نازل شو چې، ۲۴ ”اے
بنی آدمه، کوم خلق چې د بنی اِسرائيلو په مُلک کښې په دې
شاړو او کنډراتو کښې اوسيږی نو هغوئ وائی چې، اِبراهيم
صرف يو سړے وو، خو بيا هم هغهٔ دا زمکه حاصله کړه.
بلکې مونږ ډېر يُو، په يقين سره مونږ ته دا زمکه لکه زمونږ د
خپل ملکيت په شان راکړے شوې وه. ۲۵ نو دې خلقو ته
ووايه چې، مالِک قادر مطلق خُدائ داسې فرمائی چې، تاسو
د وينو نه ډکې غوښې خورئ، او د معبودانو عبادت کوئ، او
وينه تويوئ، نو تاسو په داسې کولو سره خپل ځان د دې
زمکې حقدار ګڼئ څهٔ؟ ۲۶ اے قاتلانو، بُت پرستانو، حرام

کارو، آيا تاسو د دې زمکې د وراثت قابل يئ څۀ؟ ﴿٢٧﴾ نو هغوئ ته دا ووايه چې، مالِک قادر مطلق خُدائ داسې فرمائى، زما دې په خپل ذات قسم وى، هغه څوک چې په دې کنډراتو کښې پاتې کيږى هغوئ به په تُوره مړۀ شى، او څوک چې په دشتو او ميرو کښې بهر اوسيږى هغوئ به ځناورو ته حواله کړم چې وې خورى، او څوک چې په قلعه ګانو او غارونو کښې دى په وبا به مړۀ شى. ﴿٢٨﴾ زۀ به د دې مُلک نه صحرا او بيابان جوړ کړم، او د هغۀ مغرورانه طاقت به ختم کړم، او د بنى اِسرائيلو غرونه به په شاړو بدل کړم چې هيڅ څوک هم په هغې تېرېدے نۀ شى. ﴿٢٩﴾ د هغوئ د حرامو کارونو په وجه چې کوم هغوئ کړى دى زۀ به دا مُلک په صحرا بدلوم نو بيا به هغوئ په دې پوهه شى چې زۀ مالِک خُدائ يم.“

## د حزقىايل د پېغام نتيجه

﴿٣٠﴾ مالِک خُدائ وفرمائيل چې، ”اے بنى آدمه، ترڅو چې ستا خبره ده، ستا د مُلک خلق د خپلو کورونو د دېوالونو خوا کښې او په دروازو کښې ودرېږى او ستا په حقله يو بل ته وائى، راځئ چې د هغۀ پېغام واورو کوم چې هغۀ ته د مالِک خُدائ نه مِلاو شوے دے. ﴿٣١﴾ زما خلق به تا له راشى، لکه څنګه چې هغوئ هميشه راځى، او ستا په وړاندې به کښېنى چې ستا خبرو ته غوږ ونيسى، خو هغوئ په دې عمل نۀ کوى. په خپله خولۀ هغوئ د عيش عشرت خبرې کوى، او زړونه يې هم د لالچ نه ډک دى. ﴿٣٢﴾ په حقيقت کښې تۀ د هغوئ دپاره د يو داسې موسيقار په شان يې چې په خوږ آواز سره د مينې سندرې وائى او يا ښۀ ساز غږوى. نو

هم داسې هغوئ ستا خبرې اورى خو عمل پرې نۀ کوى. ۝٣٣
هرکله چې دا هر څۀ رښتيا شى، او يقيناً داسې به وشى، نو
بيا به هغوئ په دې باندې پوهه شى چې يو نبى د هغوئ په
مينځ کښې اوسېدو.“

## د بنى اِسرائيلو شپونکى

٣٤ ۝١ د مالِک خُدائ کلام په ما نازل شو چې، ۝٢
”اے بنى آدمه، د شپونکو يعنې د بنى اِسرائيلو د مشرانو
خلاف پيشګوئى وکړه، او هغوئ ته ووايه، مالِک قادر مطلق
خُدائ داسې فرمائى چې، د بنى اِسرائيلو په شپونکو دې
افسوس وى څوک چې صرف خپله ګېډه څروى. ولې يو
شپون ته پکار نۀ دى چې خپله رمه وڅروى؟ ۝٣ تاسو د دې
پۍ څښئ، او د دې د وړۍ نه ځانله جامې جوړَوئ او د
خوښې ګډورى ترې نه حلالوئ، خو تاسو خپله رمه نۀ
څروئ. ۝٤ تاسو د کمزورو ګډو خيال نۀ کولو او نۀ مو د
بيمارانو دارو کول، او نۀ مو د زخمى شوو مرهم پټۍ کوله.
تاسو ورک شوې واپس نۀ راوستل، او نۀ مو د ورک شوو
لټون کولو. تاسو په هغوئ په سختۍ او د ظلم حکومت وکړو.
۝٥ نو هغه ګډې خوَرې شوې ځکه چې د هغوئ شپونکے نۀ
وو، او کله چې هغه خورې ورې شوې نو د ځنګلى ځناورو د
خوراک شوې. ۝٦ زما ګډې په ټولو غرونو او اوچتو غونډو
سرګردانه وګرځېدلې. هغوئ په ټوله زمکه باندې خوَرې
شوې، او چا هم نۀ د هغوئ لټون وکړو او نۀ يې وکتلې. ۝٧
نو په دې وجه اے شپونکو، د مالِک خُدائ کلام واورئ، ۝٨
زما دې په خپل ذات قسم وى، مالِک قادر مطلق خُدائ

فرمائی، ځکه چې زما د ګډو ښۀ شپونکے نشته نو په دې وجه لوټ شوې او د ټولو ځنګلی ځناورو د خوراک شوې، ځکه چې زما شپونکو زما د رمې لټون ونۀ کړو او زما د رمې په ځائې يې د خپل ځان خيال وساتلو، ⑨ نو په دې وجه اے د قوم شپونکو، د مالِک خُدائ کلام واورئ، ⑩ مالِک قادر مطلق خُدائ دا فرمائی چې، زۀ اوس د دې شپونکو خلاف يم او هغوئ به زۀ د خپلو ګډو دپاره ذمه وار وګرځوم. زۀ به هغوئ د خپلو ګډو د شپونتوب نه لرې کړم نو داسې به شپونکی نور خپل ځانونه نۀ شی مړولے. زۀ به خپلې ګډې د هغوئ د خُلو نه بچ کړم، او هغوئ به نور د دوئ خوراک نۀ وی.“

## ښۀ شپون

⑪ ”مالِک قادر مطلق خُدائ فرمائی چې، زۀ به په خپله د خپلو ګډو لټون وکړم او هغوئ به راپېدا کړم او د هغوئ خيال به ساتم. ⑫ لکه څنګه چې شپونکی د خپلو ګډو سره وی او د خپلو خوَرو ګډو په تلاش کښې وی، نو هم داسې به زۀ هم د خپلو ګډو په تلاش کښې يم. زۀ به هغوئ د هغه ټولو ځايونو نه بچ کړم چرته چې هغوئ د تيارې او د وريځې په ورځ خوَرې ورې شوې وې. ⑬ زۀ به هغوئ د نورو قومونو نه راوکاږم او د نورو مُلکونو نه به يې راغونډ کړم، او زۀ به هغوئ خپل مُلک ته واپس راولم. هغوئ به زۀ د بنی اِسرائيلو په غرونو، او سيندونو په غاړه او د مُلک په ټولو آبادو ځايونو کښې وڅروم. ⑭ زۀ به هغوئ په ښۀ شنو ځايونو کښې وڅروم، او د بنی اِسرائيلو د غرونو لوړې څوکې به د هغوئ د څرېدو ځائ وی. او هلته به هغوئ په ښۀ شنو وابښو کښې

ځملی، او هغوئ د بنی اِسرائیلو د غرونو په شنو واښو کښې
وڅرېږی. ۱۵ زۀ به په خپله د خپلو ګډو شپون یم او هغوئ
له به آرام ورکړم، مالِک قادر مطلق خُدائ فرمائی. ۱۶ زۀ
به د ورکو شوو ګډو لټون وکړم او بې‌لارې شوې ګډې به
راواپس کړم. زۀ به د زخمی شوو مرهم پټی وکړم او کمزورو
له به طاقت ورکړم، خو حرصناکې او مضبوطې به هلاکې
کړم. زۀ به په اِنصاف سره د ګډو شپونتوب وکړم. ۱۷
ترڅو چې ستاسو خبره ده اے زما رَمې، مالِک قادر مطلق
خُدائ داسې فرمائی، زۀ به په خپله د یو ګډ او بل ګډ په مینځ
کښې فېصله وکړم، او د ګډانو او د چېلو په مینځ کښې به
عدالت کوم. ۱۸ ولې دا ستاسو دپاره کافی نۀ ده چې په ښه
ګیاه کښې وڅرېږئ؟ ولې تاسو به نوره پاتې ګیاه د پښو لاندې
کوئ څۀ؟ ولې دا ستاسو دپاره کافی نۀ ده چې پاکې اوبۀ
وڅښئ؟ ولې تۀ به نورې پاتې اوبۀ په پښو سره خړوئ څۀ؟
۱۹ ولې زما رمه به هغه ګیاه خوری چې تاسو د پښو لاندې
کړې وی او هغه اوبۀ به څښی چې تاسو د پښو سره خړې
کړې دی؟ ۲۰ نو په دې وجه هغوئ ته، مالِک قادر مطلق
خُدائ فرمائی چې، ګورئ، زۀ په خپله به د څُرب ګډ او مانده
ګډ په مینځ کښې عدالت وکړم. ۲۱ ځکه چې تاسو څربه
ګډو، په خپلو اوږو او پتونونو باندې ټولې مانده ګډې دیکه
کړې، او په خپلو ښکرونو سره مو ډغرې ورکړې، تر دې چې
تاسو هغوئ خورې ورې کړې، ۲۲ نو زۀ به خپله رمه بچ
کړم، او هغوئ به نور نۀ تالا والا کیږی. زۀ به د یوې ګډې او
د بلې ګډې په مینځ کښې عدالت وکړم. ۲۳ زۀ به په هغوئ
یو شپونکے مقرر کړم، زما خِدمتګار داؤد، او هغه به هغوئ
څروی او هغه به د هغوئ شپونکے وی. ۲۴ زۀ، مالِک

خُدائ به د هغوئ خُدائ پاک يم، او زما خِدمتګار داؤد به د دوئ په مينځ کښې شهزاده وى. ما مالِک خُدائ وفرمائيل.
۲۵ زۀ به د هغوئ سره د امن لوظ وکړم او د هغه مُلک نه به خطرناک ځناور وشړم، نو هغوئ به په ميرو کښې ژوند کوى او په ځنګلونو کښې به په امن سره اودۀ وى. ۲۶ زۀ به هغوئ له، او خپل غر نه چاپيره ځايونو له برکت ورکړم. زۀ به په صحيح موسم په هغوئ باران کوم، او دا به د فضل او برکت بارانونه وى. ۲۷ د باغونو ونې به خپلې مېوې کوى او زمکه به خپل فصلونه کوى، او خلق به په خپل مُلک کښې په امن وى. نو بيا به هغوئ پوهه شى چې زۀ مالِک خُدائ يم، کله چې زۀ د هغوئ د غلامۍ جغ مات کړم او د هغه خلقو د لاس نه ورله خلاصون ورکړم چا چې هغوئ غلامان کړى دى. ۲۸ نور به هغوئ د نورو قومونو د لاسه نۀ لوټ کيږى، او نۀ به يې ځنګلى ځناور خورى. هغوئ به په امن سره ژوند کوى، او هيڅوک به هغوئ نۀ شى يرولے. ۲۹ زۀ به هغوئ له داسې زمکه ورکړم چې په فصل کولو کښې به مشهوره وى، او هغوئ به نور په دې مُلک کښې د قحط په وجه په تکليف کښې نۀ وى او نۀ به د قومونو مسخرې زغمى. ۳۰ نو بيا به هغوئ پوهه شى چې زۀ، مالِک خُدائ د دوئ خُدائ پاک، د دوئ سره يم، او دوئ، د بنى اِسرائيلو قوم، زما خلق دى. مالِک خُدائ دا فرمائى. ۳۱ تاسو زما ګډې، زما د څرن د ځائ ګډې، زما خلق يئ، او زۀ ستاسو خُدائ پاک يم. مالِک قادر مطلق خُدائ دا فرمائى.“

## د ادوم خلاف پېشګوئى

۳۵ ۱ د مالِک خُدائ کلام په ما نازل شو، ۲ ”اے
بنی آدمه، خپل مخ په ادوم کښې د سعیر د غرۀ خلاف
ورواړوه، او د هغۀ خلاف نبوت وکړه ۳ او ورته ووایه
چې، مالِک قادر مطلق خُدائ داسې فرمائی چې، اے د سعیر
غره زۀ ستا خلاف یم، او زۀ به ستا خلاف خپل لاس
دروغزوم او تا به وران ویجاړ کړم. ۴ زۀ به ستا ښارونه په
کنډرو بدل کړم او تۀ به شاړ او ویجاړ شې. نو بیا به تۀ پوهه
شې چې زۀ مالِک خُدائ یم. ۵ په هغه وخت کښې کله چې
ما بنی اِسرائیلو له آخری سزا ورکوله، نو ستاسو دائمی
نفرت هغوئ قصابخانې ته ورسول، په هغه وخت کله چې په
هغوئ افت نازل شوے وو. ۶ نو په دې وجه دې زما په
خپل ذات قسم وی، مالِک قادر مطلق خُدائ فرمائی چې، زۀ
به تاسو قتل و غارت ته حواله کړم او دا به تاسو پسې وی.
لکه څنګه چې تاسو د قتل و غارت نه نفرت ونۀ کړو، نو دغه
شان قتل و غارت به تاسو پسې وی. ۷ زۀ به د سعیر غر
وران ویجاړ کړم او څوک هم چې په دې ځی راځی ټول به
مړۀ کړم. ۸ زۀ به ستا غرونه د مړو نه ډک کړم، هغه
څوک چې په تُوره مړۀ شوی دی، ستا په غونډو او ستا په
درو او ستا په ټولو ګړنګونو کښې به پراتۀ وی. ۹ زۀ به تا د
تل دپاره خالی کړم، او ستا ښارونه به بیا آباد نۀ شی. نو بیا
به تۀ پوهه شې چې زۀ مالِک خُدائ یم. ۱۰ ځکه چې تا
ووئیل، ”دا دوه مُلکونه، اِسرائیل او یهوداه به زمونږ وی او
مونږ به د دوئ جائیدادونه قبضه کړُو،“ اګر کۀ زۀ مالِک
خُدائ هم هلته وم، ۱۱ نو په دې وجه زما دې په خپل ذات
قسم وی، مالِک خُدائ فرمائی، زۀ به تاسو سره د هغه قهر او
کینې په مطابق سلوک وکړم، کوم چې تاسو د هغوئ نه په

نفرت کولو کښې ښکاره کړو او زۀ به خپل ځان د هغوئ په مینځ کښې ښرګند کړم کله چې زۀ ستاسو عدالت کوم. ۱۲ نو بیا به تاسو پوهه شئ چې ما مالِک خُدائ هغه بدې خبرې اورېدلې دی کومې چې تاسو د بنی اِسرائیل د غرونو په حقله کړې دی. تاسو ووئیل چې، دا وران او شاړ پراتۀ دی، موښ ته دې د خوراک په توګه راکړے شوی دی چې وې خورو. ۱۳ تا زما خلاف په بې‌پرواهئ سره لافې او ډېرې خبرې وکړې، او ما دا واورېدلې. ۱۴ مالِک قادر مطلق خُدائ داسې فرمائی، کله چې ټوله دُنیا د خوشحالئ نه خوند اخلی، زۀ به تاسو شاړ کړم. ۱۵ څکه چې تاسو خوشحالی وکړه کله چې د بنی اِسرائیلو د قوم میراث تباه شو، دغسې سلوک به زۀ تاسو سره وکړم. اے د سعیر غره، تۀ او ټول ادوم به وران ویجاړ شې. نو بیا به هر څوک پوهه شی چې زۀ مالِک خُدائ یم.“

## د بنی اِسرائیلو د بیا آبادېدلو په حقله پېشګوئې

۳۶ ۱ ”اے بنی آدمه، د بنی اِسرائیلو غرونو ته پېشګوئې وکړه او ووایه، اے د بنی اِسرائیل غرونو، د مالِک خُدائ کلام واورئ. ۲ مالِک قادر مطلق خُدائ داسې فرمائی چې، ستا دشمن دا پېغور درکولو چې، واه، ستاسو د غرونو پخوانئ لوړې څوکې زمونږ شوې. ۳ نو په دې وجه پېشګوئې وکړه او ورته ووایه، مالِک قادر مطلق خُدائ داسې فرمائی چې، تۀ هغوئ وران ویجاړ کړې، د هرې خوا نه یې وهبولې او تۀ د نورو مُلکونو او قومونو ملکیت او د خندا او غیبت سبب وګرځېدې، ۴ نو په دې وجه، اے د بنی

اِسرائيلو غرونو، د مالِک خُدائ کلام واورئ. مالِک قادر
مطلق خُدائ غرونو غونډو او کږنګونو، او درو ته داسې
فرمائی چې، کندو کپرو، وران او تباه شوو ښارونو ته چې د
نورو قومونو د لوټ او د خندا سبب ګرځېدلی دی، ۵
مالِک قادر مطلق خُدائ داسې فرمائی، ما په خپل غېرت
کښې د نورو قومونو خلاف فېصله وکړه، او خاص د ټول
ادوم په خلاف، ځکه چې هغوئ په ډېرې خوشحالئ او سپک
نظر سره زما مُلک خپل ملکيت کړو ترڅو هغوئ د هغۀ د
څرن سرسبزه ځائ لوټ کړی. ۶ نو په دې وجه د بنی
اِسرائيلو د مُلک په حقله پېشګوئي وکړه او غرونو او غونډو،
کږنګونو او درو ته ووايه، مالِک قادر مطلق خُدائ داسې
فرمائی چې، ما په خپل غېرتی قهر کښې دې قوم ته دا ووئيل
ځکه چې تاسو د نورو قومونو مسخرې تېرې کړې. ۷
مالِک قادر مطلق خُدائ داسې فرمائی چې، هغوئ چې څۀ
کړی دی نو د هغې په وجه ما قسم وخوړو چې، ستاسو نه
ګېرچاپېره مُلکونه به هم دغه شان سپک او بېعزته کړم. ۸
بلکې تاسو به، اے د بنی اِسرائيل غرونو، څانګې او ډېره مېوه
زما د خلقو بنی اِسرائيلو دپاره وکړئ، ځکه چې هغوئ به ډېر
زر خپل کور ته راشی. ۹ ګورئ، زۀ ستاسو خيال ساتم، او
تاسو ته به په ښه سترګه وګورم، او ستا په پټو کښې به بيا
خلق کَرل ريبل کوی. ۱۰ زۀ به په تا کښې خلق زيات کړم،
تر دې چې د بنی اِسرائيل ټول قوم به زيات کړم. ښارونه به
بيا آباد شی او وران شوی ځايونه به بيا جوړ کړے شی. ۱۱
زۀ به ستا د سړو او څاروو شمېر زيات کړم، او هغوئ به
بارداره او ډېر شی. زۀ به خلق په تا کښې د پخوا په شان په
ځائ کړم او د پخوا نه به ډېر برکت درکړم. نو بيا به تۀ په

دي پوهه شي چې زهٔ مالِک خُدائ يم. ۱۲ زهٔ به خپل خلق بنی اِسرائيل راولم چې په تا باندې وګرځی. هغوئ به په تا قبضه وکړی، او تهٔ به د هغوئ ميراث يې، او تهٔ به بيا هيڅکله هم هغوئ د خپلو ماشومانو نه، محرومه نهٔ کړې. ۱۳ مالِک قادر مطلق خُدائ داسې فرمائی چې خلق ستا په حقله وائی چې تهٔ خلق لواړ تېروې او خپل قوم د هغوئ د ماشومانو نه محرومولې، ۱۴ نو د دې نه وروستو به تهٔ نور خلق تباه نهٔ کړې او نهٔ به نور تهٔ خپل اوسېدونکی د ماشومانو نه خلاص کړې، مالِک خُدائ داسې فرمائی. ۱۵ زهٔ به نور تا دې ته پرې نهٔ ږدم چې د نورو قومونو پيغورونه واورې، او نهٔ به نور د قومونو د مسخرو نهٔ په تکليف شې او نهٔ به تهٔ نور د خپلو خلقو دپاره د تيندک سبب يې، مالِک قادر مطلق خُدائ داسې فرمائی.“

## د بنی اِسرائيلو نوے ژوند

۱۶ نو بيا د مالِک خُدائ کلام په ما نازل شو چې، ۱۷ ”اے بنی آدمه، کله چې د بنی اِسرائيلو خلق په خپل مُلک کښې اوسېدل، هغوئ هغه په خپل عمل او چال چلن سره پليت کړو. د هغوئ چال چلن زما په وړاندې لکه د ښځو د مياشتنۍ بيمارۍ په شان ناپاکه وو. ۱۸ نو ما بيا په هغوئ خپل غضب نازل کړو ځکه چې هغوئ په هغه مُلک کښې وينه تويه کړې وه او ځکه چې هغوئ هغه مُلک په خپلو بُتانو سره پليت کړے وو. ۱۹ ما هغوئ په نورو قومونو کښې خوارهٔ کړل، او هغوئ په ټولو مُلکونو کښې خوارهٔ شوی وُو. ما د هغوئ د چال چلن او عمل په مطابق د هغوئ عدالت وکړو. ۲۰ هغوئ چې چرته هم په نورو قومونو کښې خوارهٔ

وارۀ شول، هغوئ زما د مقدس نوم، په دې طريقې سره
بې‌حرمتى وکړه، يعنې د هغوئ په حقله نورو قومونو دا وئيل
چې، اګر چې هغوئ د مالِک خُدائ خپل خلق دى، خو هغوئ
د هغۀ د وطن په پرېښودو مجبور شول. ٢١ نو ما د خپل
مقدس نوم په حقله سوچ کولو، کوم چې د بنى اِسرائيلو په
نورو مُلکونو کښې چې چرته هم هغوئ رسېدلى وُو سپک پې
کړو. ٢٢ نو په دې وجه بنى اِسرائيلو ته ووايه، مالِک قادر
مطلق خُدائ داسې فرمائى چې، اے بنى اِسرائيلو دا ستاسو
دپاره نۀ دى کوم څيزونه چې زۀ کوم، خو دا زما د مقدس
نوم په خاطر دى، د کوم چې تاسو په نورو قومونو کښې
بې‌حرمتى وکړه چرته چې هم لاړئ. ٢٣ زۀ به د خپل عظيم
نوم قدوسيت ښکاره کړم، د کوم چې تاسو د نورو قومونو په
مينځ کښې بې‌حرمتى وکړه. مالِک قادر مطلق خُدائ فرمائى،
کله چې زۀ د هغوئ د سترګو د وړاندې خپل ځان مقدس
ښکاره کړم نو بيا به هغه قومونه په دې ويوهيږى چې زۀ
مالِک خُدائ يم. ٢٤ ځکه چې زۀ به تاسو د نورو قومونو نه
راغونډ کړم، زۀ به تاسو د ټولو مُلکونو نه راجمع کړم او خپل
مُلک ته به مو واپس راولم. ٢٥ زۀ به پاکې اوبۀ په تاسو
وشيندم، نو تاسو به پاک شئ. زۀ به تاسو د خپلو ټولو حرام
کارو او بُتانو نه پاک کړم. ٢٦ زۀ به تاسو له نوے زړۀ
درکړم او په تاسو کښې به نوے روح واچوم. زۀ به تاسو نه
دا سخت زړۀ لرى کړم او نرم زړۀ به درکړم. ٢٧ زۀ به په
تاسو کښې خپل روح واچوم او خپلې تابعدارۍ طرف ته به
ستاسو پام راوګرځوم چې زما په اصُولو عمل کوئ او زما د
حکمونو په ساتلو کښې احتياط کوئ. ٢٨ نو تاسو به بيا په
هغه مُلک کښې اوسېږئ کوم چې ما ستاسو پلار نيکۀ له

ورکړے وو. تاسو به زما خلق يئ، او زۀ به ستاسو خُدائ
پاک يم. ﴿۲۹﴾ زۀ به تاسو د خپلو ټولو پليتو نه بچ کړم. زۀ به د
غلو فصلونو له برکت ورکړم او په تاسو به نور قحط نۀ
راولم. ﴿۳۰﴾ زۀ به ستاسو د ونو مېوې او د پټو فصلونه زيات
کړم، ترڅو تاسو د نورو قومونو په مينځ کښې د قحط په وجه
شرمنده نۀ شئ. ﴿۳۱﴾ نو بيا به تاسو ته خپل حرام کارونه او
غلط حرکتونه در په ياد شی، او بيا به تۀ په خپلو حرامو
کارونو او ګناهونو د پښېمانئ احساس وکړې. ﴿۳۲﴾ زۀ غواړم
چې تاسو په دې خبره پوهه شئ چې دا زۀ ستاسو دپاره نۀ
کوم چې ګنې تاسو د دې حقدار يئ، مالِک قادر مطلق خُدائ
فرمائی. اے بنی اِسرائيلو، د خپلو عملونو او کردار په وجه په
شرمونو وشرمېږئ. ﴿۳۳﴾ مالِک قادر مطلق خُدائ داسې
فرمائی چې، په کومه ورځ چې زۀ تاسو د خپلو ټولو ګناهونو
نه پاک کړم، زۀ به ستاسو ښارونه بيا ودان، او دوباره به
ستاسو کنډرې آبادې کړم. ﴿۳۴﴾ هغه زمکه چې شاړه او
بنجره وه په کومه به چې څوک هم تېرېدل او هغوئ به ليدله
چې شاړه به پرته وه دوباره به په هغه زمکه کښې کرونده
وشی. ﴿۳۵﴾ او خلق به داسې وائی چې، دا کومه زمکه چې
شاړه پرته وه اوس ترې باغِ عدن جوړ شوے دے. او کوم
ښارونه چې کنډرې پراتۀ وُو، شاړ او تباه شوی وُو، اوس
مضبوط او بيا آباد شوی دی. ﴿۳۶﴾ نو بيا هغه قومونه کوم
چې ستاسو په خوا او شا کښې پاتې دی هغوئ به په دې پوهه
شی چې ما مالِک خُدائ هغه ځۀ آباد کړل کوم چې وران
ويجاړ شوی وُو او هغه ځۀ مې وکرل کوم چې اوچ او شاړ
شوی وُو. ما مالِک خُدائ وفرمائيل، او زۀ به يې وکړم. ﴿۳۷﴾
مالِک قادر مطلق خُدائ داسې فرمائی چې، يو ځل بيا به د

بنی اِسرائيلو درخواست ته توجو وکړم او د هغوئ دپاره به دا
وکړم، زۀ به د ګډو په شان د هغوئ د خلقو شمېره زياته
کړم، ۳۸ زۀ به هغوئ دومره زيات کړم لکه څومره رَمې به
چې د نذرانو اخترونو دپاره يروشلم ته راتللې. نو هم داسې به
وران ويجاړ ښارونه د خلقو د رَمو نه ډک کړم. نو بيا به
هغوئ په دې پوهه شی چې زۀ مالِک خُدائ يم.“

## د اوچو هډُوکو دره

۳۷ ۱ د مالِک خُدائ لاس په ما وو، او هغۀ زۀ د مالِک
خُدائ د روح په وسيله رابهر کړم او د يوې درې مينځ کښې
يې ودرولم، او دا د هډوکو نه ډکه وه. ۲ هغۀ زۀ د هغوئ په
مينځ کښې مخکښې وروستو وګرځولم، او ما هلته ډېر زيات
هډُوکی د هغې درې په زمکه وليدل. او هغه هډُوکی ډېر اوچ
وُو. ۳ هغۀ ما نه تپوس وکړو، ”اے بنی آدمه، ولې دا
هډُوکی ژوندی کيدے شی؟“ نو ما ورته په جواب کښې
ووئيل، ”اے مالِک قادر مطلق خُدايه، صرف تۀ په دې
پوهېږې.“ ۴ بيا هغۀ ما ته وفرمائيل چې، ”دې هډوکو ته
پېشګوئي وکړه او ورته ووايه، اوچو هډوکو، د مالِک خُدائ
کلام واورئ. ۵ مالِک قادر مطلق خُدائ دې هډوکو ته دا
فرمائی چې، ګوره زۀ به په تاسو کښې ساه واچوم، او تاسو
به راژوندی شئ. ۶ زۀ به په تاسو باندې پلې، غوښه راولم
او په څرمن کښې به مو پټ کړم، زۀ به په تاسو کښې ساه
واچوم، او تاسو به راژوندی شئ. نو بيا به تاسو په دې پوهه
شئ چې زۀ مالِک خُدائ يم.“ ۷ نو ما هم هغه شان
پېشګوئي وکړه څنګه چې ما ته حکم شوے وو. او کله چې

ما پېشګوئي کوله، نو ناګهانه بيا ما د هډوکو کړسار او شور واورېدو، او هډُوکی خپلو کښې يو بل سره يوځائ شول او ډانچې ورنه جوړې شوې. ﴿٨﴾ نو بيا ما وليدل چې، پلې او غوښې په هغوئ باندې راغلې او بيا په څرمن کښې پټ شول، خو په هغوئ کښې ساه نۀ وه. ﴿٩﴾ بيا هغۀ ما ته وفرمائيل، "ساه ته پېشګوئي وکړه، پېشګوئي وکړه، اے بنی آدمه، او ورته ووايه، مالِک قادر مطلق خُدائ دا فرمائی، اے ساه، د څلورو طرفونو هواګانو نه راشه، او په دې قتل شوو کښې ننوځه چې هغوئ راژوندی شی." ﴿١٠﴾ نو ما هم هغه شان پېشګوئي وکړه څنګه چې هغۀ ما ته حکم وکړو، او ساه په هغوئ کښې راغله، هغوئ راژوندی شول او په خپلو پښو ودرېدل، يو ډېر لوئ لښکر ترې جوړ شو. ﴿١١﴾ بيا هغۀ ما ته وفرمائيل، "اے بنی آدمه، دا هډوکی د ټول بنی اِسرائيلی قوم دی. هغوئ وائی چې، زمونږ هډوکی اوچ شوی دی او زمونږ اُميد ختم شوے دے، او مونږ ختم شوی يُو. ﴿١٢﴾ نو په دې وجه پېشګوئي وکړه او هغوئ ته ووايه، مالِک قادر مطلق خُدائ داسې فرمائی چې، ګورئ، اے زما خلقو، زۀ به ستاسو قبرونه پرانيزم او د هغوئ نه به مو بهر راوکاږم او زۀ به تاسو واپس د اِسرائيل زمکې ته راولم. ﴿١٣﴾ نو بيا به تاسو زما خلق په دې خبره پوهه شئ چې زۀ مالِک خُدائ يم، کله چې زۀ ستاسو قبرونه پرانيزم او تاسو د دې نه راوکاږم. ﴿١٤﴾ زۀ به خپل روح په تاسو کښې واچوم او تاسو به ژوندی شئ، او زۀ به تاسو په خپله زمکه آباد کړم. بيا به تاسو په دې پوهه شئ چې ما مالِک خُدائ څۀ فرمائيلی وُو، هغه ما وکړل. مالِک خُدائ داسې فرمائی."

## د يهوداه او د اِسرائيل يو ځائ کېدل

۱۵ د مالِک خُدائ کلام په ما نازل شو چې، ۱۶ ”اے بنى
آدمه، يو امسا راواخله او په هغې وليکه چې دا د يهوداه او
هغۀ سره ولاړې قبيلې دى. بيا يو بله امسا راواخله او په هغې
دا وليکه چې، د اِفرائيم امسا، دا د يوسف او د ټولو بنى
اِسرائيلو د شمالى قبيلو ده چې ورسره ولاړې دى. ۱۷ بيا
هغوئ په يوه امسا کښې داسې يو ځائ کړه چې ستا په لاس
کښې هغوئ يو بل سره ونښلى. ۱۸ کله چې ستا د مُلک
خلق ستا نه تپوس وکړى چې، ولې تۀ به مونږ ته دا نۀ وائې
چې د دې څۀ مطلب دے؟ ۱۹ هغوئ ته ووايه، مالِک قادر
مطلق خُدائ داسې فرمائى چې، زۀ به د يوسف امسا راواخلم
کومه چې د اِفرائيم په لاس کښې ده او د بنى اِسرائيلى قبيلو
سره ده چې دۀ سره يې اِتحاد دے او دا د يهوداه امسا سره
يو ځائ کوم، او د هغوئ نه يوه امسا جوړوم. او هغه دواړه
به زما په لاس کښې يو شى. ۲۰ نو په کومو امساګانو دې
چې ليکل وکړل د هغه خلقو د سترګو د وړاندې يې ونيسه
۲۱ او هغوئ ته ووايه، مالِک قادر مطلق خُدائ داسې
فرمائى چې، زۀ به بنى اِسرائيل د هغه قومونو د مينځ نه
راوکاږم چرته چې هغوئ تللى دى. زۀ به هغوئ د هرې خوا
نه رايوځائ کړم او هغوئ به خپل مُلک ته واپس راولم. ۲۲
زۀ به د بنى اِسرائيلو په مُلک او د بنى اِسرائيلو په غرونو کښې
د هغوئ نه يو قوم جوړ کړم. په هغوئ ټولو به يو بادشاه
حکومت کوى او هغوئ به بيا هيڅکله نۀ دوه قومونه شى او
نۀ به په دوو بادشاهتونو تقسيم شى. ۲۳ هغوئ به نور خپل
ځانونه نۀ پليتوى په خپلو بُتانو او نۀ په بدو شکلونو او نۀ په

خپلو نورو ګناهونو باندې، ځکه چې زۀ به هغوئ د خپلو ناروا
واپس کېدو نۀ وساتم، او زۀ به هغوئ پاک کړم. هغوئ به زما
خلق وی او زۀ به د هغوئ خُدائ پاک یم. ۲۴ زما خِدمتګار
داؤد به د هغوئ بادشاه او د هغوئ ټولو به یو شپونکے وی.
هغوئ به زما په اصُولو عمل کوی او زما د قانون د منلو به
ډېر خیال ساتی. ۲۵ هغوئ به په هغه مُلک کښې اوسیږی
کوم چې ما خپل خِدمتګار یعقوب له ورکړے دے، هغه مُلک
چې په کښې ستاسو پلار نیکۀ اوسېدل. هغوئ او د هغوئ
ماشومان به نسل در نسل په دې کښې د تل دپاره اوسیږی،
او داؤد زما خِدمتګار به د تل دپاره د هغوئ شهزاده وی. ۲۶
زۀ به د هغوئ سره د امن یو لوظ وکړم، او دا به ابدی لوظ
وی. زۀ به هغوئ په خپل مُلک کښې آباد کړم او د هغوئ
شمېر به زیات کړم، او زۀ به د هغوئ په مینځ کښې خپله
مقدسه عبادتګاه د تل دپاره جوړه کړم. ۲۷ زما د اوسېدو
ځائ به د هغوئ سره وی، زۀ به د هغوئ خُدائ پاک یم، او
هغوئ به زما خلق وی. ۲۸ نو بیا قومونه به په دې پوهه شی
چې ما مالِک خُدائ بنی اِسرائیل مقدس کړل، کله چې زما
مقدسه عبادتګاه د تل دپاره د هغوئ په مینځ کښې ده.“

## د جوج په خلاف پېشګوئي کول

۳۸ ۱ د مالِک خُدائ کلام په ما نازل شو، ۲ ”اے
بنی آدمه، خپل مخ د ماجوج د مُلک د جوج خلاف کړه، د
مسک او توبل د لوئ شهزاده، په خلاف پېشګوئي وکړه. ۳
او ورته ووایه، مالِک قادر مطلق خُدائ دا فرمائی چې، اے
جوجه د مسک او توبل لوئ شهزاده زۀ ستاسو خلاف یم.

۴ زۀ به تا ته راوګرځوم، او په ژامنو کښې به دې کُنډې
واچوم او د خپل ټول فوج او آسونو سره به دې بهر راوکاږم،
ستا د آسونو سوارۀ په زغرو سمبال دى، او يو لوئ لښکر د
خپلو وړو او غټو ډالونو سره دے، او هغوئ ټولو خپلې تُورى
راويستلى دى. ۵ د فارس، ايتهوپيا او ليبيا خلق به تا سره
شى، او دوئ سره به خپل ډالونه او جنګى ټوپۍ وى. ۶
جُمر به هم سره د خپل ټول لښکر تا سره وى، او د شمال د
لرې ځائ بيتتُجرمه به خپل ټول لښکر سره او نور ډير
قومونه به تا سره وى. ۷ تۀ تيار شه، تيار اوسه، ټول لښکر
چې تا ته د خوا او شا نه راغونډ شوے دے د هغې مشرى
وکړه. ۸ ډيرې ورځې وروستو به تا ته حکم وشى چې
مسلح شه. په راتلونکى کالونو کښې به تۀ په يو داسې مُلک
حمله وکړې کوم چې د جنګ نه په آرام شوے دے، د چا
خلق چې د ډيرو مُلکونو نه د بنى اِسرائيلو غرونو ته راغونډ
شوى دى، کوم مُلک چې د ډيرې مودې نه وران وو. هغوئ د
هغه مُلکونو نه راوستلے شوى دى، او اوس هغوئ ټول په
امن کښې اوسيږى. ۹ تۀ او ستا ټول لښکر او هغه ډير
قومونه چې تا سره دى به ورمخکښې شى، لکه د طوفان په
شان حمله به وکړى، او تاسو به لکه د وريځې په شان په هغه
مُلک کښې خوارۀ شئ. ۱۰ مالِک قادر مطلق خُدائ داسې
فرمائى چې، په هغه ورځ به ستا ذهن کښې بد خيالونه راشى
او تۀ به غلطه منصوبه جوړه کړې. ۱۱ تۀ به ووائې چې، زۀ
به په هغه مُلک حمله وکړم چې ديوالونه يې نۀ وى، زۀ به په
هغه خلقو باندې حمله وکړم چې پُراَمنه او په آرام ژوند کوى،
هغوئ ټول بغير د ديوالونو او دروازو او کُنډو اوسيږى. ۱۲
زۀ به لوټ مار جوړ کړم او خپل لاس به بيا ودان شوو

کنډرو پسې او د هغه خلقو خلاف کړم چې د ډېرو قومونو نه راغونډ شوی دی، هغوئ اوس د ښاروو او سامانونو نه مالا مال دی، او د دُنیا په مینځ کښې اوسیږی. ۱۳ د شیبا او د ددان او د ترسیس سوداګر او د دې ټول کلیوال به تا ته وائی، ولې تهٔ لوټ کولو له راغلے یې څهٔ؟ ولې تا خپل لښکر د دې دپاره راغونډ کړے دے چې لوټ مار وکړی، سپین زر او سرهٔ زر یوسی، چې ښاروی او سامانونه یوسی او ډېر مال لوټ کړی؟ ۱۴ نو په دې وجه، اے بنی آدمه، پېشګوئي وکړه او جوج ته ووایه، مالِک قادر مطلق خُدائ داسې فرمائی چې په هغه ورځ، کله چې زما خلق بنی اِسرائیل په امن اوسیږی ولې تهٔ به دا نهٔ ګورې څهٔ؟ ۱۵ تهٔ به د خپل لرې ځائ شمال نه راشې، تهٔ او ډېر قومونه به درسره وی، هغوئ ټول به په آسونو سوارهٔ وی، یو لوئ لښکر، او تکړه فوج به وی. ۱۶ تهٔ به زما د قوم بنی اِسرائیلو خلاف لکه د وریځ حمله وکړې کومه چې زمکه پټوی. په راتلونکو ورځو کښې، اے جوجه، زهٔ به تا د خپل مُلک په خلاف راپاڅوم، نو چې مُلکونه ما وپېژنی کله چې ستا په وسیله زهٔ خپل ځان د هغوئ د سترګو د وړاندې مقدس ښکاره کړم. ۱۷ مالِک قادر مطلق خُدائ داسې فرمائی، ولې تهٔ هم هغه نهٔ یې د چا چې ما ډېر پخوا د خپلو خِدمتګارانو د بنی اِسرائیلو د پېغمبرانو په وسیله خبرې کړې وې؟ په هغه وخت کښې هغوئ تر ډېرو کالونو پورې پېشګوئي وکړه چې زهٔ به تا د هغوئ خلاف راولم.“

## جوج له د خُدائ پاک سزا

۱۸ ”په هغه ورځ به داسې وشی، کله چې جوج د اِسرائیل په مُلک حمله وکړی، زما سخت قهر به راوپاریږی، مالِک قادر

مطلق خُدائ فرمائی. ۱۹ زۀ په خپل غیرت او سخت قهر
کښې دا فرمايم چې په هغه ورځ به د اِسرائيل په مُلک کښې
يوه لويه زلزله راشی. ۲۰ د سمندر کبان، د هوا مارغان، د
صحرا ځناور، هر يو مخلوق کوم چې په زمکه باندې ګرځی،
او د زمکې په مخ باندې ټول انسانان به زما په حضور کښې
ولړزيږی. غرونه به اولټه شی، د غرونو څوکې به راونړيږی او
هر يو ديوال به په زمکه راپرېوځی. ۲۱ زۀ به تُوره د جوج
خلاف په خپلو ټولو غرونو ورولېږم مالِک قادر مطلق خُدائ
فرمائی. د هر چا تُوره به د خپل ورور خلاف وی. ۲۲ زۀ به
په وبا او قتل عام د هغۀ عدالت وکړم، زۀ به سېلابی بارانونه،
ږلۍ او سوزونکی ګوګړ په هغۀ او د هغۀ په لښکرو او ورسره
په نورو ډېرو قومونو نازل کړم. ۲۳ او بيا به زۀ خپله لوئی او
پاکوالے ښکاره کړم، او زۀ به خپل ځان د ډېرو قومونو په
وړاندې ښکاره کړم. بيا به هغوئ پوهه شی چې زۀ مالِک
خُدائ يم.“

## د جوج شکست

۳۹ ۱ ”اے بنی آدمه، د جوج خلاف پېشګوئې وکړه او
ورته ووايه چې، مالِک قادر مطلق خُدائ داسې فرمائی، اے
جوجه، د مسک او توبل لوئ شهزاده زۀ ستا خلاف يم. ۲
زۀ به تا راتاو کړم او رابه دې کاږم. زۀ به تا د شمال لرې
ځائ نه راولم او د بنی اِسرائيلو د غرونو خلاف به دې ولېږم.
۳ بيا به زۀ لينده ستا د ګس لاس نه واخلم او غشی به ستا
د ښی لاس نه وغورزوم. ۴ د بنی اِسرائيلو په غرونو به تۀ
سره د خپلو ټولو فوجيانو او ټولو قومونو چې تا سره دی قتل

کړے شي. زۀ به تاسو د هر قسمه مردار خورو مارغانو او
ځنګلی ځناورو په خوراک بدل کړم. ۵ تاسو به په هوار
مېدان کښې قتل شئ، ځکه چې دا ما مالِک قادر مطلق
خُدائ فرمائيلی دی. ۶ زۀ به په ماجوج او په هغوئ څوک
چې د سمندر په غاړه کښې په امن اوسيږی اور نازل کړم، او
هغوئ به په دې پوهه شی چې زۀ مالِک خُدائ يم. ۷ زۀ به
خپل مقدس نوم د خپلو خلقو بنی اِسرائيلو په مينځ کښې
څرګند کړم. زۀ به نور خپل مقدس نوم بې‌حرمتی ته پرې نۀ
ږدم، او قومونه به پوهه شی چې زۀ مالِک خُدائ په بنی
اِسرائيلو کښې مقدس ذات يم. ۸ دا ورځ راروانه ده، دا به
يقيناً راشی، مالِک قادر مطلق خُدائ دا فرمائی. دا هغه ورځ
ده چې ما يې ذکر کړے دے. ۹ بيا هغوئ څوک چې د بنی
اِسرائيلو په ښارونو کښې اوسيږی به بهر لاړ شی او وسلې به
د سوزولو دپاره استعمال کړی او واړۀ او غټ ډالونه، ليندې
او غشی، جنګی ډنډې او نيزې به وسوزوی. د اووۀ کالو
پورې به هغوئ دا سوزولو دپاره استعمالوی. ۱۰ هغوئ ته
به ضرورت نۀ وی د پټو نه د خشاک راټولولو او نۀ به ورته د
ځنګل د کټ کولو، ځکه چې هغوئ به وسلې د خشاک په
طور استعمال کړی. او هغوئ به هغه لوټ کړی چا چې دوئ
لوټ کړی وُو او هغوئ به تالا کړی چا چې دوئ تالا کړی
وُو، مالِک قادر مطلق خُدائ دا فرمائی.“

## د جوج ښخېدل

۱۱ ”په هغه ورځ به زۀ جوج له په بنی اِسرائيلو کښې د يو
لوئ قبرستان ځائ ورکړم، په هغه وادئ کښې په کومه کښې
چې خلق د سمندر مشرق خوا ته تلۀ راتلۀ کوی. دا به د

مسافرو لاره بنده کړی، ځکه چې جوج او د هغهٔ ټول لښکر به
هلته ښخ وی. نو بيا به دې ته د هامون جوج وادی وئيلے
کيږی. ۱۲ تر اوو مياشتو پورې به د بنی اِسرائيلو قوم هغوئ
ښخوی د دې دپاره چې زمکه ترې صفا کړی. ۱۳ د هغه
مُلک ټول خلق به د هغوئ په ښخولو کښې مدد وکړی، په دې
ورځ چې زهٔ په دُنيا باندې خپل جلال څرګند کړم، نو دا کار
به د دوئ دپاره د عزت باعث شی، مالِک قادر مطلق خُدائ
دا فرمائی. ۱۴ د مُلک پاکولو دپاره به کسان لګولے شوی
وی چې هغه صفا کړی. او د هغوئ سره څهٔ کسان به په ټول
مُلک کښې وګرځی او نور لاشونه چې په زمکه پاتې وی چې
هغه ښخ کړی. او پوره اووهٔ مياشتې به هغوئ خپل لټون
جاری وساتی. ۱۵ کله چې هغوئ په ټول مُلک کښې ګرځی
او په هغوئ کښې يو کس د انسان هډوکی وګوری، نو هغه به
د دې په خوا کښې نښه جوړه کړی ترڅو چې قبرکند هغه د
هامون جوج په وادئ کښې ښخ کړی. ۱۶ هلته يو ښار هم
دے چې هامونه نوميږی. نو دغه شان به هغوئ زمکه پاکه
کړی. ۱۷ اے بنی آدمه، مالِک قادر مطلق خُدائ دا فرمائی
چې، هر قسمه مارغانو او ځناورو ته آواز وکړئ چې، راجمع
شئ او د ټولو ګيرچاپيره ځايونو نه هغه قربانئ دپاره راشئ
چې زهٔ يې تاسو دپاره تياروم، دا د بنی اِسرائيلو په غرونو
لويه قربانی ده. هلته به تاسو غوښې وخورئ او وينه به
وڅښئ. ۱۸ تاسو به د تکړه سړو غوښې وخورئ او د زمکې
د شهزادګانو وينې به وڅښئ، دوئ ټول لکه د بسن د ګډانو او
ګډورو، چېلو او غوَيانو، څاربهٔ څاروی په شان دی. ۱۹
کومه قربانی چې زهٔ تاسو دپاره تياروم، د دې چربی به تاسو
په مَړه خېټه وخورئ او وينه به تر هغې وڅښئ چې نشه شئ.

۲۰ زما په دسترخوان به تاسو د آسونو او د آسونو د سورو،
د تکړه سړو، او د هر قسم فوجيانو غوښې وخورئ، مالِک
قادر مطلق خُدائ دا فرمائى. ۲۱ زۀ به د قومونو په مينځ
کښې خپل جلال ښکاره کړم، او ټول قومونه به وګورى هغه
سزا چې زۀ يې نازلوم او هغه لاس چې ما په هغوئ باندې
ايښے دے. ۲۲ د هغه ورځې نه به بنى اِسرائيل په دې پوهه
شى چې زۀ مالِک خُدائ د هغوئ خُدائ پاک يم. ۲۳ او
قومونه به په دې پوهه شى چې بنى اِسرائيل د خپلې ګناه په
وجه جلاوطن کړے شوى وُو، ځکه چې هغوئ ما سره بےوفا
وُو. نو ځکه ما خپل مخ د هغوئ نه پټ کړو او هغوئ مې
دشمنانو ته حواله کړل، او په تُوره باندې قتل کړے شول.
۲۴ ما د هغوئ سره د هغوئ د ناپاکوالى او د بدعملۍ په
مطابق سلوک وکړو، او ما خپل مخ د هغوئ نه پټ کړو.“

## د بنى اِسرائيلو وطن ته واپس راوستل

۲۵ ”نو په دې وجه مالِک قادر مطلق خُدائ داسې فرمائى،
زۀ به اوس يعقوب د غلامۍ نه واپس راولم او د اِسرائيل په
ټولو خلقو به رحم وکړم، او زۀ به په خپل مقدس نوم غېرت
وکړم. ۲۶ هغوئ به خپل شرم او هغه ټوله بےايمانى هېره
کړى کومه چې هغوئ زما خلاف کړې وه کله چې هغوئ په
خپل مُلک کښې بغير د چا د يرې نه په امن او سکون کښې
اوسيږى. ۲۷ کله چې زۀ هغوئ د نورو قومونو نه واپس
راولم او هغوئ د خپلو دشمنانو د مُلکونو نه راغونډ کړم، نو
زۀ به خپل ځان د نورو ډېرو قومونو د سترګو په وړاندې د
دوئ په وسيله مقدس ښکاره کړم. ۲۸ نو بيا به هغوئ پوهه
شى چې زۀ مالِک خُدائ د هغوئ خُدائ پاک يم، اګر کۀ ما

هغوئ نورو مُلکونو ته جلاوطن کړی وُو، زۀ به هغوئ خپل
مُلک ته رایوځائ کړم، او د هغوئ یو کس به هم وروستو
پرې نۀ ږدم. ۲۹ زۀ به نور هیڅکله خپل مخ د دوئ نه پټ نۀ
کړم، زۀ به خپل روح د بنی اِسرائیلو په قوم نازل کړم، مالِک
قادر مطلق خُدائ دا فرمائی.“

## د مالِک خُدائ د نوی کور رویا

## د حزقی‌ایل یروشلم ته بوتلل

۴۰ ۱ زمونږ د جلاوطنۍ په پینځویشتم کال، د څوارلسم
کال په شروع کېدو او د میاشتې په لسم تاریخ چې ښار
راپرېوتو په هم دغه ورځ د مالِک خُدائ لاس په ما باندې وو
او هغۀ زۀ هلته بوتلم. ۲ د مالِک خُدائ په رویا کښې هغۀ
زۀ د بنی اِسرائیلو مُلک ته بوتلم. او د یو ډېر اوچت غر دپاسه
یې کښېنولم، د چا په جنوب طرف کښې چې یو څو عمارتونه
وُو کوم چې د یو ښار په شان ښکارېدل. ۳ کله چې هغۀ
زۀ هلته بوتلم، نو ما یو سړے ولیدو څوک چې د زېړو په
شان ښکارېدو، او هغه د دروازې په خولۀ کښې ولاړ وو او په
لاس کښې یې د کتان فیته وه او د ناپ تول لرګے یې نیولے
وو. ۴ هغه سړی ما ته ووئیل، ”اے بنی آدمه، په خپلو
سترګو وګوره او په خپلو غوږونو واوره او هر څۀ چې درته
ښایم هغې ته ښۀ توجو وکړه، ځکه خو تۀ د دې دپاره
راوستلے شوے یې. هر څۀ چې تۀووینې هغه د بنی اِسرائیلو
قوم ته ووایه.“

## د مشرق طرف ته دروازه

۵ ما ولیدل چې هلته د مالِک خُدائ د کور نه ګېرچاپېره
دېوال راتاو وو. د هغه سړی په لاس کښې د ناپ کولو لرګے
لس نیم فټه وو چې دېوال يې ناپ کړو، او دېوال غټوالے لس
نیم فټه پلن وو او لس نیم فټه اوچت وو. ۶ نو بیا هغه د
هغې دروازې خوا ته لاړو چې مخ يې د مشرق طرف ته وو.
هغه په پوړو وروختو او د دروازې درشل يې ناپ کړو چې
هغه لس نیم فټه وه. ۷ هلته په دروازه کښې ښي طرف ته
او ګس طرف ته درې د څوکیدارانو کوټې جوړې شوې وې
چې د هرې يوې اوږدوالے او پلنوالے لس نیم فټه وو او د
څوکیدارانو د کوټو په مینځ کښې د دېوال پلنوالے پاو کم نهٔ
فټه وو. او د څوکیدارانو د کوټو شاته د تېرېدو لاره وه چې
لس نیم فټه ژوره وه او د دې کمرو نه وروستو يوه بله درشل
وه چې لس نیم فټه وه او د مالِک خُدائ کور ته تللې وه. ۸
نو بیا هغهٔ د دروازې دننه ډيوډۍ ناپ کړه، ۹ نو بیا د هغې
اوږدوالے څوارلس فټه وو او د هغې د ستنې پلنوالے درې
نیم فټه وو. د دې ډيوډۍ آخر سر د خُدائ پاک د کور د
داخلېدو دواړو خواؤ دېوالونو ته نزدې او مخامخ وو. ۱۰ د
مشرق خوا ته دروازه کښې په دواړو طرفونو ته درې کوټې
وې، او ټولې په يو ناپ تول وې او د دې په مینځ کښې ټول
دېوالونه هم يو شان پلن وُو. ۱۱ نو بیا هغهٔ د دروازې سره د
داخلېدو د ځائ پلنوالے ناپ کړو، کوم چې اوولس نیم فټه
پلن وو او د دروازې سره لاره پاو کم درویشت فټه وه. ۱۲
د څوکیدارانو د هرې کوټې مخکښې يو دېوال وو چې
يوویشت اِنچه وو او د هرې کمرې اوږدوالے او پلنوالے لس

نیم فټه وو. ⑬ نو بیا هغهٔ په دې دروازه د څوکیدار د کوټې د شا د دېوال نه واخله د مخامخ کوټې د شا د دېوال پورې فاصله ناپ کړه، هغه پاو کم څلور څلويښت فټه وه. ⑭ هغهٔ بیا د دروازې مینځنے دېوال کوم چې د خُدائ د کور دربار سره یوځائ شوے وو ناپ کړو هغه یو سل او پینځهٔ فټه وو. ⑮ د دروازې د داخلېدو نه واخله د دربار تر آخر سر پورې فاصله اووهٔ اتیا نیم فټه وه. ⑯ د څوکیدارانو په ټولو کوټو کښې وړې وړې کړکۍ غوندې وې، څهٔ په بهرنی دېوالونو کښې وې، څهٔ د کمرو په دننه دېوالونو کښې وې. او په دېوالونو د کجورو د ونو ګُلکاری شوې وه.

## د مالِک خُدائ د کور بهرنے دربار

⑰ نو بیا هغهٔ زهٔ د دروازې په لار د خُدائ د کور بهرنی دربار ته راوستلم. هلته ما یو څو کوټې او پیاده لاره ولیدله چې د دربار نه ګېرچاپېره راتاو شوې وه او دې لار ته مخامخ دېرش کوټې وې. ⑱ دا پخه لار تر دروازو پورې جوړه شوې وه او د دېوالونو نه تر دربار پورې غزېدلې وه او هم دومره فاصله یې د عمومی دروازې پورې وه. ⑲ نو بیا هغهٔ د دننه نه د ښکته دروازې د دربار داخل نه بهر طرف ته فاصله ناپ کړه، دا د مشرق خوا ته یو سل او پینځهٔ اویا فټه او شمال خوا ته هم یو شان فاصله وه.

## شمال خوا ته دروازه

⑳ نو بیا هغهٔ شمال خوا ته د دروازې اوږدوالے او پلنوالے ناپ کړو، کوم چې بهر صحن طرف ته ځی. ㉑ د دروازې

د داخلېدو په لار کښې دواړو خواو د څوکیدارانو درې درې کوټې وې، د هغوئ په مینځ کښې دېوالونه او د هغوئ دننه کوټې ټولې د هغې وړومبې مشرقی دروازې په اندازه وې. د دروازې ډیوډۍ اووۀ اتیا نیم فټه اوږده وه او پاو کم څلور څلوېښت فټه پلنه وه. ۲۲ د مشرق دروازې په شان، د هغې د داخلېدو کوټه او کړکۍ او د کجورو د ونو ګُلکاری هم هغه شان په یوه اندازه شوې وې. او اووۀ پوړۍ هم ورته ختلې وې، چې مخامخ ورته ډیوډۍ وه چې دربار ته تللې وه. ۲۳ هلته دننه د دربار طرف چې د شمال خوا نه یوه دروازه وه، بلکل لکه د هغه دروازې په شان لکه څنګه چې په مشرق کښې وه. هغۀ د یوې دروازې بلې دروازې ته مخامخ فاصله ناپ کړه، هغه یو سل او پینځۀ اویا فټه وه.

## جنوبی دروازه

۲۴ نو بیا هغه سړی زۀ د جنوب خوا ته بوتلم او ما بیا هلته یوه دروازه ولیده چې د جنوب خوا ته یې مخ وو. هغۀ بیا د دې دېوالونه او کوټې ناپ کړې چې بلکل د هغه نورو دروازو په ناپ تول وې. ۲۵ د دروازې او د هغې د چوکیدارانو د کوټو ګېرچاپېره وړې وړې کړکۍ وې، د هغې کړکۍ د نورو کړکو په شان وې. د تېرېدو لار اووۀ اتیا نیم فټه اوږده وه او پاو کم څلور څلوېښت فټه پلنه وه. ۲۶ د هغه کوټو مخامخ هغې ته د بهر نه یوه لار ورختلې وه چې اووۀ پوړۍ یې وې، او د هغې په دېوالونو باندې په دواړو خواؤ د کجورو د ونو ګُلکاری شوې وه. ۲۷ د دننه دربار هم یوه دروازه وه چې جنوب خوا ته یې مخ وو، او هغۀ بیا د دې دروازې نه د بهر د جنوب دروازې خوا ته ناپ تول وکړو، هغه یو سل او پینځۀ

اويا فټه وو.

## دننه دربار ته داخلي دروازه

۲۸ نو بيا هغه سړی زۀ دننه دربار ته په جنوبي دروازه باندې راوستلم، او هغۀ جنوبي دروازه ناپ کړه، هغه هم د نورو دروازو په ناپ وه. ۲۹ د هغې د څوکيدارانو کوټې، او مينځنی ديوالونه او ډيوړی د هغه نورو دروازو سره په ناپ کښې يو شان وې. دروازه او د هغې د کوټو کړکۍ ګېرچاپېره وې، هغه اووۀ اتيا نيم فټه اوږدې او پاو کم څلور څلوېښت فټه پلنې وې. ۳۰ د دروازې د داخلېدو د کوټې ناپ تول کومه چې دننه د دربار صحن ته ورغلې وه څوارلس فټه اوږده او پاو کم څلور څلوېښت فټه پلنه وه. ۳۱ د هغې د کوټې مخ بهر دربار خوا ته وو، د هغې په ستنو د کجورو د ونو ګُلکاری شوې وه، او اتۀ پوړی ورته ورختلې وې.

## د داخلي دربار شرقي دروازه

۳۲ نو بيا هغۀ زۀ په مشرقي لار دننه دربار ته راوستلم، او هغۀ هغه دروازه ناپ کړه، د هغې ناپ هم د نورو سره يو شان وو. ۳۳ د هغې د څوکيدارانو کوټې، مينځنی ديوالونه او د هغې ډيوړی د نورو دروازو سره يو شان په يو ناپ وې. د دروازې او د برنډې يو شان ګېرچاپېره کړکۍ وې. دا اووۀ اتيا نيم فټه اوږدې وې او پاو کم څلور څلوېښت فټه پلنې وې. ۳۴ د هغې د ډيوړی مخ دننه د دربار طرف ته وو، او د دواړو طرفو په ستنو يې د کجورو د ونو ګُلکاری شوې وه، او اتۀ پوړی ورختلې وې.

## د دربار دننه د شمال خوا ته دروازه

۳۵ نو بیا هغهٔ زهٔ د شمال دروازې طرف ته راوستلم او هغهٔ
د هغې ناپ واخستو. او هغه لار هم د هغه نورو په شان په یو
ناپ وه. ۳۶ د هغې د څوکیدارانو کوټې، مینځنی دېوالونه او
د هغې ډیوړۍ د نورو دروازو سره یو شان په یو ناپ وې. د
دروازې او برنډې یو شان ګېرچاپېره کړکۍ وې. دا اووهٔ اتیا
نیم فټه اوږدې وې او پاو کم څلور څلوېښت فټه پلنې وې.
۳۷ ډیوړۍ بهرنی دربار ته مخامخ وه. د تېرېدو د ځائ په
دېوالونو باندې د کجورو د ونو ګُلکاری شوې وه. دې
دروازې ته اتهٔ پوړۍ ختلې وې.

## د قربانو دپاره کوټې

۳۸ د شمال د طرف نه دننه یوه دروازه وه چې د داخلېدو د
کوټې د لارې نه دننه دربار ته تللې وه چې هلته به په هغې
کښې د سوزولو قربانۍ څاروی وینځلے کېدل. ۳۹ د
دروازې د ډیوړۍ سره په دواړه خواو کښې دوه مېزونه ؤُو،
په کومو به چې د سوزولو د نذرانو، د ګناه د نذرانو او د ګناه
د تاوان د نذرانو څاروی حلالولے شول. ۴۰ د کوټې
دروازې د کوټې د بهرنی دېوال سره، د پوړو سره نزدې د
شمال دروازې ته د داخلېدو په لار هلته هم دوه مېزونه ؤُو، او
د پوړو په بل طرف هم دوه مېزونه ؤُو. ۴۱ نو بیا د دروازې
په یوې خوا کښې هم څلور مېزونه ؤُو او په بله خوا کښې هم
څلور مېزونه ؤُو. دا ټول اتهٔ مېزونه ؤُو په کومو به چې د
قربانۍ څاروی حلالېدل. ۴۲ نو هلته هم څلور مېزونه د
تراشلے شوو کاڼو نه د سوزېدونکې قربانۍ دپاره جوړ شوی

ؤُو چې يو دېرش نيم اِنچه اوږدهٔ او پلن ؤُو او يوويشت اِنچه لوړ ؤُو. په دې مېزونو باندې د قربانۍ د څاروو د حلالېدلو دپاره د قصابانو چړې او نور څيزونه پراتهٔ ؤُو. ۴۳ په ګېرچاپېره دېوال کښې د دوو څلو والا کُنډې راځوړندې وې چې يو څپک اوږدې وې. دا مېزونه د نذرانو د څاروو دپاره ؤُو. ۴۴ نو بيا موږ دننه دربار ته ننوتو، هلته د شمالى دروازې سره يوه کوټه وه چې دننه دربار طرف ته کولاو وه او د هغې مخ جنوب طرف ته وه. د جنوبى دروازې سره هم دا شان کوټه وه چې د هغې مخ شمال طرف ته وو. ۴۵ هغه سړى ما ته ووئيل، د کومې کوټې چې د جنوب طرف ته يې مخه ده د هغه اِمامانو دپاره ده څوک چې د مالِک خُدائ په کور کښې مشران دى. ۴۶ او هغه کوټه د کومې مخه چې شمال خوا ته ده د هغه اِمامانو دپاره ده څوک چې د قربانګاه مشران دى. او هغوئ د صدوق زامن دى، څوک چې د ليويانو د قبيلې يواځې هغه کسان دى چا ته چې د مالِک خُدائ په حضور کښې د خِدمت کولو اجازت ورکړې شوې دے.

## دننه دربار او د مالِک خُدائ کور

۴۷ نو بيا هغه سړى د مالِک خُدائ د کور دننه دربار ناپ کړو او هغه يو سل او پينځهٔ اويا فټه اوږد او يو سل او پينځهٔ اويا فټه پلن وو. او قربانګاه د دربار په صحن کښې د مالِک خُدائ د کور مخې ته وه. ۴۸ بيا هغهٔ زهٔ د مالِک خُدائ د کور دننه کوټې ته راوستلم. او هغهٔ د ډيوډۍ د ستنو ناپ واخستو، او هغه پاو کم نهٔ فټه په هرې خوا پلنې وې، او په خپله د داخلېدو د دروازې پلنوالے څليرېشت فټه وو، او يو

بل دېوال وو په هره خوا کښې چې پاو کم شپږ فټه وو. ۴۹ د
داخلېدو د کوټې پلنوالے پينځۀ دېرش فټه وو، او اوږدوالے
يې يوويشت فټه وو. او دې کوټې ته لس پوړۍ ورختلې وې، د
دروازې په دواړو خواو دېوالونو کښې ستنې ولاړې وې.

۴۱ ۱ بيا هغه سړى زۀ د خُدائ د کور مقدس ځائ ته
راوستلم او هغۀ د دروازو ستنې ناپ کړې، دواړو خواو ته د
ستنو پلنوالے لس نيم فټه وو. ۲ د داخلېدو لار اوولس نيم
فټه پلنه وه، او د دواړو خوا دېوال پاو کم نهۀ فټه اوږد وو.
هغۀ بهرنے مقدس ځائ هم ناپ کړو، دا اويا فټه اوږد وو او
پينځۀ دېرش فټه پلن وو. ۳ بيا هغه دننه مقدس ځائ ته
لاړو او د داخلېدو د لارې ستنې يې ناپ کړې، او هره يوه
درې نيم فټه پلنه وه. د داخلېدو لار لس نيم فټه پلنه وه، او د
دواړو خواؤ دېوالونه پاو باندې دولس فټه پلن وُو. ۴ او
هغۀ د دننه مقدس ځائ اوږدوالے ناپ کړو، هغه پينځۀ
دېرش فټه وو، او د دې پلنوالے پينځۀ دېرش فټه وو. هغۀ ما
ته ووئيل، ”دا د ټولو نه زيات مقدس ځائ دے.“

## د مالِک خُدائ د کور سره لګېدلې کوټې

۵ بيا هغۀ د خُدائ د کور دېوال ناپ کړو، هغه لس نيم فټه
پلن وو. او د خُدائ د کور ګېرچاپېره هر طرف ته کوټه اووۀ
فټه پلنه وه. ۶ دا کوټې درې منزله وې، او په هر منزل
کښې دېرش کوټې وې. د خُدائ د کور د دېوال ګېرچاپېره
پايې وې د دې دپاره چې دا د دې کوټو دپاره ټيک وې. نو
چې د دې کوټو تيرونه دېوال کښې دننه نۀ لګېدل. ۷ د

خُدائ د کور ګېرچاپېره د دويم چت کوټې د اول چت نه غټې وې او د دريم چت کوټې د دويم چت نه غټې وې. کومه ډانچه چې د خُدائ د کور ګېرچاپېره جوړه شوې وه د لاندې نه بره حالت کښې جوړه وه، نو هغه کوټې کولاو وې چې بره وې. د لاندې نه تر دريم چت پورې پوړۍ ختلې وې. ۸ ما وليدل چې د خُدائ د کور نه ګېرچاپېره اوچته چونتره وه، چې د کوټو بنياد وو. د دې ناپ تول لس نيم فټه اوچت وو. ۹ د هغه کوټو بهرنے دېوال پاو کم نهۀ فټه پلن وو. د کوټو په مينځ کښې هغه کولاو ځائ وو. ۱۰ او د خُدائ د کور نه ګېرچاپېره د اِمامانو کوټې پينځۀ دېرش فټه پلنې وې. ۱۱ د کولاو ځائ نه دې کوټو ته د ورننوتلو لارې ورغلې وې، يوه په شمال کښې او بله په جنوب کښې وه، او بنياد چې دا کولاو ځائ په خپلو کښې يو ځائ کوی پاو کم نهۀ فټه کولاو وو.

## د مغرب طرف ته يو کور

۱۲ يو بل عمارت چې مخه يې د خُدائ د کور د دربار مغرب طرف ته وه هغه يو سل دوويشت نيم فټه کولاو او يو سل او اووۀ پنځوس نيم فټه اوږد وو، او د هغې دېوالونه پاو کم نهۀ فټه پلن وُو.

## د مالِک خُدائ د کور ناپ کېدل

۱۳ بيا هغۀ د خُدائ د کور ناپ وکړو، دا يو سل او پينځۀ اويا فټه اوږد وو، او د خُدائ د کور دربار او هغه عمارت چې د دې دېوالونو سره وو هغه هم يو سل او پينځۀ اويا فټه اوږد وو. ۱۴ مشرق طرف ته د مالِک خُدائ د مقدس کور

دربار د خُدائ د کور مخې سره يو سل او پينځۀ اويا فټه پلن
وو. ١٥ بيا هغۀ د هغه عمارت اوږدوالے د ديوالونو سره
ناپ کړو چې د خُدائ د کور دربار ته مخامخ وو، چې دا يو
سل او پينځۀ اويا فټه وو.

## د مالِک خُدائ د کور دننه حِصه

د مالِک خُدائ د کور ډيوډی، مقدس ځائ او د ټولو نه زيات
مقدس ځائ، ١٦ او وړې کړکۍ او د دې دريوارو نه
ګېرچاپېره هالونه د دې هر څۀ نه وروستو او د ډيوډی سره
ټول په لرګی پټ وُو. فرش او ديوال، تر کړکيانو پورې او
کړکۍ هم پټې وې. ١٧ د دروازو دپاسه کومه لار چې د
مالِک خُدائ د کور دننه مقدس ځائ ته ورغلې وه او د هغې
په دننه او بهر ديوالونو باندې هم ١٨ د وزرو والا د مخلوق او
د کجورو د ونو تصويرونه جوړ شوی وُو. او د وزرو والا
مخلوق او د کجورو ونې يو د بل پسې نقش شوی وُو، او د هر
يو وزرو والا مخلوق دوه مخونه وُو. ١٩ انسانی مخ يې د
کجورې يوې ونې طرف ته وو او د زمری مخ يې د کجورې د
بلې ونې طرف ته وو. دا تصويرونه ګېرچاپېره د خُدائ په
کور کښې نقش شوی وُو. ٢٠ د فرش نه تر د ننوتلو دروازې
پورې پاس، او د بهرنی مقدس ځائ په ديوال باندې د وزرو
والا د مخلوق او د کجورو د ونو تصويرونه جوړ شوی وُو.
٢١ د بهرنی مقدس ځائ د دروازو چوکاټونه مربع وُو او د
ډېر زيات مقدس ځائ مخې ته هم د دې په شان وُو.

## د لرګی قربانګاه

٢٢ هلته د لرګی یوه قربانګاه وه چې پاو باندې پینځۀ فټه اوچته او درې نیم فټه پلنه وه. د دې ګوټونه، د دې بېخ، او د دې اړخونه د لرګی نه جوړ شوی وُو. هغه سړی ما ته ووئیل، ”دا هغه مېز دے چې د مالِک خُدائ په وړاندې ولاړ دے.“

## دروازې

٢٣ بهرنی دواړو مقدس ځایونو او ډېر زیات مقدس ځائ دوه دروازې وې. ٢٤ هرې یوې دروازې دوه پلې لرلې او هرې یوې پلې ته دوه قبضې وې. ٢٥ او د بهرنی مقدس ځائ په دروازو د وزرو والا مخلوق تصویر او د کجورو د ونې تصویرونه نقش وُو لکه څنګه چې په دېوالونو باندې نقش شوی وُو، او هلته د لرګو یو دالان د وړې کوټې مخې ته جوړ شوے وو. ٢٦ د وړې کوټې په بهرنی دېوالونو باندې وړې کړکۍ وې چې په هره یوه باندې د کجورو ونې نقش شوې وې. د خُدائ د کور د وړو کوټو مخې کښې هم د لرګو دالانونه وُو.

## د اِمامانو دپاره کوټې

**٤٢** ١ بیا هغه سړی زۀ د شمال خوا ته بهرنی دربار ته بوتلم او زۀ یې د مالِک خُدائ د کور مخامخ دربار کوټو ته او بهرنی دېوال ته مخامخ د شمال خوا ته راوستلم. ٢ هغه کور چې دروازه یې د شمال طرف ته وه هغه یو سل او پینځۀ اویا فټه اوږده وه او اووۀ اتیا نیم فټه پلنه وه. ٣ دواړه په دې حِصه کښې پینځۀ دېرش فټه کښې د دننی دربار نه او په مخامخ بله حِصه کښې د بهرنی دربار نه، په درېواړو منزلونو

کښې کړکۍ يو بل ته مخامخ وې. ۴ د دې کوټو په مخکښې
يوه دننه لار وه اوولس نيم فټه پلنه او يو سل او پينځۀ اويا فټه
اوږده وه. د دې دروازې په شمال کښې وې. ۵ نو بره
کوټې تنګې وې، ځکه چې په دې کښې هالونو د لاندې او
مينځنى منزلونو د کور د کوټو په نسبت ډېر ځائ نيولے وو.
۶ د دريم چت په کوټو کښې ستنې نۀ وې، لکه څنګه چې د
دربار وې، نو دا نسبت د لاندې او مينځنى چتونو نه لږې
شان وړې وې. ۷ هلته بهرنے دېوال د کوټو او د بهرنى
دربار سره برابر وو، او دا د کوټو مخې ته اووۀ اتيا نيم فټه
اوږد وو. ۸ نو د کوټو قطار د بهرنى دربار په طرف اووۀ
اتيا نيم فټه اوږد وو، او د مقدس ځائ سره نزدې قطار يو
سل او پينځۀ اويا فټه اوږد وو. ۹ لاندې کوټو ته د مشرق
طرف نه د ننوتو لار وه کومه چې دې ته د بهرنى دربار نه
ورننوځى. ۱۰ د خُدائ د کور جنوب طرف ته يو بله آبادى
وه چې د مالِک خُدائ د کور مغرب طرف ته وه ۱۱ چې د
دې مخې ته د تېرېدو لاره وه. دا لکه د شمال د کوټو په شان
وې، دا هم هغه هومره اوږدې او پلنې وې، او هم يو شان
لارې او ناپ يې وو. د شمال د تېرېدو د دروازو په شان د دې
۱۲ د کوټو دروازې جنوب طرف ته وې. هلته يوه دروازه وه
چې دا د حِفاظتى دېوال سره يو شان د مشرق طرف ته
غزېدلې وه، په کومه چې يو کس کوټو ته ننوځى. ۱۳ بيا هغۀ
ما ته ووئيل، ”شمال او جنوب ته کوټې چې د مالِک خُدائ د
کور دربار ته يې مخې دى د اِمامانو کوټې دى، چرته چې هغه
اِمامان خوک چې د مالِک خُدائ په وړاندې ودرېدل نو هغوئ
دې مقدسې نذرانې وخورى. هلته به هغوئ ډېرې مقدسې
نذرانې کېږدى، يعنې د غلې نذرانې، د ګناه نذرانې او د ګناه د

تاوان نذرانې، ځکه چې هغه ځائ مقدس دے. ۱۴ کله چې
اِمامان د مالِک خُدائ په مقدس کور کښې داخل شی، بيا به
هغوئ تر هغه وخته بهرنی دربار ته نۀ ځی ترڅو چې هغوئ
هغه مقدسې جامې ونۀ باسی په کومو کښې چې هغوئ
خِدمت کولو، ځکه چې دا مقدسې دی. هغوئ له پکار دی چې
نورې کپړې واچوی د دې نه مخکښې چې هغوئ هغه ځايونو
ته ورشی کوم چې د نورو خلقو دپاره دی.“

## د مالِک خُدائ کور ناپ کول

۱۵ کله چې هغۀ د مالِک خُدائ د کور دننه هر څۀ ناپ
کړل، بيا هغۀ زۀ په مشرقی دروازې بهر راوويستلم او هغۀ
ګېرچاپېره ټول هر څۀ ناپ کړل. ۱۶ هغۀ د ناپ تول په
چوکۍ مشرقی دېوال ناپ کړو، دا اتۀ سوه او پينځۀ اويا فټه
اوږد وو. ۱۷ بيا هغۀ شمال طرف ته دېوال ناپ کړو، دا د
ناپ په چوکې اتۀ سوه او پينځۀ اويا فټه وو. ۱۸ هغۀ جنوبی
طرف دېوال ناپ کړو، هغه د ناپ په چوکې اتۀ سوه او پينځۀ
اويا فټه وو. ۱۹ بيا هغه مغرب طرف ته تاو شو او هغه
دېوال يې ناپ کړو، او د ناپ په چوکې دا اتۀ سوه او پينځۀ
اويا فټه وو. ۲۰ بيا هغۀ هغه څلور واړه طرفونه ناپ کړل.
او د دې نه ګېرچاپېره دېوال وو، چې اتۀ سوه او پينځۀ اويا
فټه اوږد او اتۀ سوه او پينځۀ اويا فټه پلن وو، د دې مقصد دا
وو چې عام ځائ د مقدس ځائ نه جدا کړی.

## د مالِک خُدائ جلال خپل مقدس کور ته راواپس

# ۴۳

۱ بیا زهٔ هغه سرِی هغه دروازې ته راوستلم چې د
مشرق طرف ته يې مخ وو، ۲ او ناګهانه ما وليدل چې د
بنی اِسرائيلو د خُدائ پاک جلال د مشرق خوا نه راروان وو.
د هغهٔ آواز لکه د ډېرو اوبو د غرار په شان وو، او زمکه د
هغهٔ د جلال په وجه روښانه وه. ۳ کومه رويا چې ما
وليدله د هغه رويا په شان وه کومه چې ما ليدلې وه کله چې
هغه د ښار تباه کولو له راغلو او د هغه رويا په شان چې ما د
کبار د سيند په غاړه وليدله، او زهٔ پړمخې پرېوتلم. ۴ د
مالِک خُدائ جلال د مالِک خُدائ په کور کښې د نمرخاتهٔ
دروازې نه ورننوتو. ۵ بیا زهٔ روح اوچت کړم او دننه
دربار ته يې راوستلم، او د مالِک خُدائ جلال د خُدائ کور
ډک کړو. ۶ کله چې هغه سړے زما خوا کښې ولاړ وو، ما
دا واورېدل چې څوک ما ته د خُدائ د کور دننه نه خبرې
کوی. ۷ هغهٔ وفرمائيل، ”اے بنی آدمه، دا زما تخت او د
پښو د لګولو مقام دے. دا هغه مقام دے چې زهٔ به په کښې د
تل دپاره د بنی اِسرائيلو په مينځ کښې اوسېږم. هغوئ او د
هغوئ بادشاهان به نور په بُتخانو کښې بُت پرستی او زما د
مقدس نوم سپکاوے نهٔ کوی. او نهٔ به نور دوئ د خپلو مړو
بادشاهانو د علاقائی زيارتونو عزت کوی. ۸ کله چې
هغوئ خپل درشل زما درشل سره خوا کښې او د خپلو
دروازو بازو زما د دروازو د بازوګانو سره ولګول، زما او د
هغوئ په مينځ کښې صرف يو دېوال وو، هغوئ زما د مقدس
نوم بې‌حرمتی په خپلو بدو عملونو سره وکړه. نو ما په خپله
غصه کښې هغوئ تباه کړل. ۹ هغوئ دې اوس خپله بُت

پرستی او د خپلو بادشاهانو زیارتونه زما د مخې نه اخوا
کړی، او زۀ به د هغوئ په مینځ کښې د تل دپاره اوسېږم. ۱۰
اے بنی آدمه، د مالِک خُدائ کور د بنی اِسرائیل قوم ته
وښایه، چې هغوئ په خپلو ګناهونو وشرمیږی. پرېږده چې
هغوئ په غور سره نقشه وګوری، ۱۱ او کۀ چرې هغوئ په
خپلو ټولو کارونو باندې وشرمیږی کوم چې هغوئ کړی دی،
نو هغوئ ته د خُدائ د کور نقشه او د هغې ترتیب، د هغې د
وتو لارې او د داخلېدو لارې، د هغې ټوله نقشه او د هغې
اصُول او احکام وښایه. دا د هغوئ د وړاندې ولیکه نو چې
هغوئ د دې ترتیب وفاداری وکړی او د دې د احکامو پیروی
وکړی. ۱۲ د مالِک خُدائ د کور دا قانون دے، د غرۀ
دپاسه ګېرچاپېره علاقه به د ټولو نه زیاته مقدسه وی. دا د
خُدائ د کور قانون دے."

## قربانګاه

۱۳ "دا د قربانګاه په اوږدو ناپ تول دے، د قربانګاه نه
ګېرچاپېره غاړه یوویشت اِنچه ژوره وه او یوویشت اِنچه پلنه
وه، او د هغې ګېرچاپېره غاړه نهۀ اِنچه پلنه وه. او هم دا د
قربانګاه اوچتوالے دے، ۱۴ په زمکه د غاړې نه بره تر
ښکته چجې پورې دا درې نیم فټه اوچته وه او یوویشت اِنچه
پلنه وه. او د وړې چجې نه تر غټې چجې پورې دا اووۀ فټه
اوچته او یوویشت اِنچه پلنه وه. ۱۵ د قربانګاه برنۍ برخه
اووۀ فټه اوچته وه چې قربانی به په کښې سوزولے کېدله او
د هغې په هر یو ګوټ کښې یو یو ښکر لګولے شوے وو. ۱۶
قربانګاه د سر څلور ګوټونه ؤو، یوویشت فټه اوږدۀ او
یوویشت فټه پلن وو. ۱۷ بره چجه هم مربع وه، څلېریشت

نيم فټه اوږده او شليرشت نيم فټه پلنه وه، چې غاړه يې
يوويشت اِنچه وه او ګېرچاپېره لس نيم اِنچه غاړه وه. او د
قربانګاه پوړۍ نمرخاتهٔ طرف ته وې.“

## د قربانګاه وقف کول

۱۸ بيا هغهٔ ما ته وفرمائيل، ”اے بنی آدمه، مالِک قادر
مطلق خُدائ داسې فرمائی چې، د سوزېدونکې قربانۍ د
نذرانو دپاره به دا اصُول وی او په قربانګاه به وينه
وشيندلے شی کله چې دا تياره شی، ۱۹ تاسو به يو ځوان
سخے د ګناه د نذرانې دپاره اِمامانو له ورکړئ، څوک چې
ليويان دی او د صدوق د نسل نه دی، او څوک چې زما
وړاندې خِدمت کوی، مالِک خُدائ دا فرمائی. ۲۰ تاسو د
دې نه لږه وينه واخلئ او د قربانګاه په څلورو ګوټونو کښې
په ښکرونو باندې په بره حِصه کښې او د هغې په غاړو باندې
وشيندئ، او دغه شان قربانګاه مقدسه کړئ او د هغې دپاره
کفاره ورکړئ. ۲۱ تاسو به يو غوَيے د ګناه د نذرانې دپاره
واخلئ او د خُدائ د کور په مقرر شوی ځائ د مقدس ځائ
نه بهر به يې وسوزوئ. ۲۲ په دويمه ورځ به تاسو بېعيبه
چيلے د ګناه د نذرانې دپاره پېش کړئ، او قربانګاه به پرې
داسې مقدسه کړئ لکه څنګه چې مو په غوَيی باندې پاکه
کړې وه. ۲۳ کله چې تاسو د دې د پاکولو کار ختم کړئ، نو
تاسو به بيا يو ځوان سخے او ګډورے د رمې نه نذرانه کړئ،
چې دواړه بېعيبه وی. ۲۴ تاسو دا د مالِک خُدائ په
وړاندې پېش کړئ، او اِمامان به په دوئ مالګه واچوی او دا
به د سوزېدونکې قربانۍ په طور پېش کړئ. ۲۵ تاسو به د
اووهٔ ورځو دپاره هره ورځ يو چيلے د ګناه د نذرانې دپاره

پېش کوئ، تاسو به د رمې نه يو ځوان غوَيے او يو ګډورے
هم پېش کوئ، چې درې واړه بېعيبه وى. ۲۶ د اووهٔ ورځو
دپاره دې هغوئ د قربانګاه او د هغې د پاکولو دپاره فديه
پېش کړى، نو داسې به هغوئ دا وقف کړى. ۲۷ د دې ورځو
په آخر کښې، د اتمې ورځې نه وروستو هم اِمامان به په
قربانګاه ستاسو سوزېدونکې او د عبادت نذرانې پېش کړى.
بيا به زۀ تاسو قبول کړم. مالِک قادر مطلق خُدائ دا
فرمائى.“

## شهزادګان، ليويان او اِمامان

**۴۴** ۱ بيا زۀ هغه سړى واپس د مقدس ځائ بهرنى
دروازې ته راوستلم، کومه چې د نمرخاتهٔ طرف ته وه، او دا
بنده وه. ۲ مالِک خُدائ ما ته وفرمائيل، ”دا دروازه به بنده
وى. دا به کله هم نۀ کولاوېږى. هيڅوک به په دې نۀ
ورننوځى. دا به بنده وى ځکه چې مالِک خُدائ، د بنى
اِسرائيلو خُدائ پاک، په دې دروازه دننه شوے دے. ۳
صرف شهزاده په دې کښې دننه کښېناستے شى چې د مالِک
خُدائ په حضور کښې خوراک وکړى. هغه دې د برنډې د
لارې نه دننه راشى او په هم هغه لار دې بهر لاړ شى.“

## د مالِک خُدائ د کور د اِنتظام اصُول

۴ بيا زۀ هغه سړى د خُدائ د کور مخامخ د شمالى
دروازې په لار راوستلم. ما وکتل او د مالِک خُدائ جلال مې
وليدلو چې د مالِک خُدائ کور ډکوى، او زۀ پړمخې پرېوتلم.
۵ مالِک خُدائ ما ته وفرمائيل چې، ”اے بنى آدمه، په غور

سره وګوره، او په غور سره واوره، او هر هغه څۀ ته خيال
وکړه چې درته زۀ د مالِک خُدائ د کور د ټولو احکامو په
حقله فرمايم. د مالِک خُدائ مقدس کور ته د تلو راتلو طريقو
ته خيال وکړه. ۶ د بنى اِسرائيلو سرکشه قوم ته ووايه،
مالِک قادر مطلق خُدائ داسې فرمائى، اے د بنى اِسرائيل
قومه، ستاسو دا دومره حرام کارونه بس دى. ۷ ستاسو د
ټولو حرامو کارونو سره، تاسو په ظاهر او باطن ناسنته غېر
مُلکيان زما مقدس ځائ ته راوستل، تاسو زما د کور
بې‌حرمتى وکړه کله چې تاسو ما ته خوراک، وازګه او وينه
پېش کړه، او تاسو زما لوظ مات کړو. ۸ د دې په ځائ
چې تاسو زما د مقدس څيزونو خِدمت په خپله وکړئ، تاسو
نورو خلقو ته زما د مقدس ځائ اختيار ورکړو. ۹ مالِک
قادر مطلق خُدائ داسې فرمائى چې، يو غېر مُلکى به هم چې
په ظاهر او باطن ناسنته وى هغه به زما مقدس ځائ کښې
داخل نۀ شى، او نۀ به هغه غېر مُلکيان چې د بنى اِسرائيلو په
مينځ کښې اوسيږى.“

## ليويان د اِمامت نه شړل

۱۰ ”هغه ليويان چا چې زما نه جدائى اختيار کړه کله چې د
بنى اِسرائيلو قوم بې‌لارې شو او هغوئ چا چې زما په ځائ د
خپلو بُتانو پيروى وکړه به د خپلې ګناه سزا وزغمى. ۱۱
هغوئ دې زما په مقدس کور کښې خِدمت وکړى، د خُدائ د
کور د دروازو ذمه وارى دې واخلى او په دې کښې دې
خِدمت کوى، هغوئ دې سوزېدونکې نذرانې او قربانۍ د
خلقو دپاره حلالې کړى او د خلقو په وړاندې دې ودريږى او
د هغوئ خِدمت دې وکړى. ۱۲ خو ځکه دوئ د بُتانو

عبادت د خلقو دپاره وکړو او د بنی اِسرائيلو قوم يې په ګناه کښې اخته کړو، نو په دې وجه ما قسم وخوړلو چې هغوئ به ضرور د خپلو ګناهونو سزا وزغمی، مالِک قادر مطلق خُدائ دا فرمائی. ۱۳ هغوئ به نور د اِمامانو په توګه زما د خِدمت دپاره نزدې نهٔ راځی او نهٔ به زما مقدسو څيزونو له نزدې راځی او نهٔ به زما ډېرو مقدسو نذرانو ته نزدې کيږی، هغوئ به ضرور د خپلو حرامو کارونو شرم وزغمی. ۱۴ خو بيا هم به زهٔ هغوئ ته د خُدائ د کور خِدمت او د هغه ټول کار ذمه واری ورکړم چې په دې کښې کول په کار دی.“

## اِمامان

۱۵ ”خو هغه اِمامان، څوک چې ليويان دی او د صدوق د نسل نه دی او چا چې په وفادارۍ سره زما د مقدس کور خِدمت وکړو کله چې بنی اِسرائيل زما نه بې‌لارې شول، هغوئ به نزدې راشی زما د وړاندې به خِدمت وکړی، هغوئ به د وازګو او وينې قربانۍ پېش کولو دپاره زما په وړاندې ودريږی، مالِک خُدائ دا فرمائی. ۱۶ صرف هغوئ به زما مقدس مقام ته رادننه شی، يواځې هغوئ به زما مېز ته نزدې راشی او زما په حضور کښې به خِدمت کوی او زما د فرائضو ذمه واری به سمبالوی. ۱۷ کله چې هغوئ د دننه دربار په دروازو ورننوځی، نو هغوئ دې د کتان جامې واچوی، هغوئ دې د وړئ کپړې نهٔ اچوی کله چې د دننه دربار په دروازو يا د خُدائ په کور کښې خِدمت کوی. ۱۸ هغوئ دې په خپل سر باندې د کتان پټکے او د کتان لاندې کپړې دې خپلو ملاګانو نه ګېرچاپېره وتړی. هغوئ دې داسې څهٔ نهٔ اغوندی چې په هغوئ خوله راولی. ۱۹ کله چې هغوئ

بهرنی دربار ته وځی چرته چې خلق دی، هغوئ دې هغه
کپړې وباسی چې هغوئ په کښې خِدمت کولو او دا دې په
مقدسو کوټو کښې پرېږدی، او نورې جامې دې واچوی،
هسې نه چې هغوئ په خپلو کپړو سره خلق مقدس کړی، او
د هغوئ ژوند په خطره کښې واچوی. ۲۰ هغوئ به خپل
سرونه نۀ کلوی او نۀ به خپل وېښتۀ اوږدوی، خو هغوئ به د
خپل سر وېښتۀ واړۀ ساتی. ۲۱ یو اِمام دې هم مے ونۀ
څښی کله چې دننه دربار ته ننوځی. ۲۲ هغوئ دې کونډو او
طلاقو شوو ښځو سره وادۀ ونۀ کړی، هغوئ دې صرف د
بنی اِسرائیلو د نسل پېغلو سره یا د اِمامانو کونډو سره وادۀ
کوی. ۲۳ هغوئ دې زما خلقو ته د مقدس او عام څیزونو په
مینځ کښې د فرق تعلیم ورکړی او ورته دې د حرامو او
حلالو په مینځ کښې فرق وښائی. ۲۴ په هره لانجه کښې دې
اِمامان د قاضی فرائض ادا کړی او دا دې زما د حکمونو په
مطابق فیصله کړی. هغوئ دې زما د ټولو مقرر شوو
اخترونو دپاره زما په قانون او اصُول باندې عمل وکړی، او
هغوئ دې زما د سبت ورځ مقدسه وساتی. ۲۵ اِمام دې
خپل ځان مړی ته په نزدې ورتلو باندې پلیت نۀ کړی، خو کۀ
مړ کس یې پلار یا مور، زوئ یا لور، ورور یا ناوادۀ شوې
خور وی، نو په دوئ هغه ځان پلیتولے شی. ۲۶ د پاکېدو نه
وروستو، هغه به اووۀ ورځې انتظار کوی. ۲۷ په کومه ورځ
چې هغه د مقدس کور دننه دربار ته ځی چې هلته په مقدس
ځائ کښې خِدمت وکړی، هغه دې د خپل ځان دپاره د ګناه
نذرانه پېش کړی، مالِک خُدائ دا فرمائی. ۲۸ صرف زۀ به
د اِمامانو میراث یم. تاسو هغوئ ته په بنی اِسرائیلو کښې
ملکیت مۀ ورکوئ، زۀ به د هغوئ ملکیت یم. ۲۹ هغوئ به د

غلو نذرانې، د ګناه نذرانې او د ګناه د تاوان نذرانې خوری، او
هر څهٔ چې په بنی اِسرائيلو کښې مالِک خُدائ ته وقف شوی
وی هغه به د هغوئ وی. ۳۰ د ټولو نه اوله ښهٔ مېوه او
ستاسو ټولې ښې نذرانې به د اِمامانو وی. تاسو به هغوئ ته د
زمکې په غله دانه کښې اوله حِصه ورکړئ نو برکت به
ستاسو په خاندان نازل شی. ۳۱ اِمامان به هيڅ قسمه څهٔ نهٔ
خوری، مارغهٔ يا څناور چې په خپله مړ وی يا څناور مړ
کړے وی.“

## د زمکې تقسيمول

۴۵ ۱ ”تاسو چې کله زمکه د ميراث په توګه تقسيموئ،
تاسو به د زمکې يوه حِصه مالِک خُدائ ته د مقدسې علاقې
په توګه وقف کړئ چې د دې اوږدوالے دولس نيم کيلوميټره
او پلنوالے يې لس کيلوميټره وی، دا ټوله علاقه په کار دے
چې مقدسه وی. ۲ په دې کښې به يوه حِصه چې اتهٔ سوه
پينځهٔ اويا مربع فټه ده دا به د مقدس ځائ دپاره وی، چې د
دې ګېرچاپېره اووهٔ اتيا نيم فټه به د کولاو مېدان دپاره وی.
۳ په مقدسه علاقه کښې، د يوې برخې اوږدوالے دولس نيم
کلوميټره او پلنوالے پينځهٔ کلوميټره به وی، په دې کښې به د
ټولو نه زيات مقدس ځائ مقدس کور وی. ۴ دا به د
اِمامانو دپاره د زمکې مقدسه حِصه وی، څوک چې په مقدس
کور کښې او د مالِک خُدائ په حضور کښې خِدمت کوی. دا
به د هغوئ د کورونو دپاره ځائ وی او هم به د خُدائ د کور
دپاره مقدس ځائ وی. ۵ دولس نيم کيلوميټره اوږده او
پينځهٔ کيلوميټره پلنه علاقه به د هغه ليويانو وی، څوک چې د

مالِک خُدائ په کور کښې خِدمت کوی، دا به د هغوئ د
ښارونو دپاره جائيداد وی چې په کښې اوسيږی. ۶ تاسو
به ښار ته د جائيداد په توګه درې کيلوميټره پلنه او دولس نيم
کيلوميټره اوږده علاقه ورکړئ، د مقدسې حصې سره خوا په
خوا، دا به د ټولو بنی اِسرائيلو وی."

## د شهزاده دپاره زمکه

۷ "شهزاده به د مقدسې علاقې او د ښار د جائيداد سره
دواړو خواګانو ته برخه واخلی. دا به مغرب نه مغرب او
مشرق نه مشرق طرف ته غزيدلې وی. په اوږدو به دا د
مغرب نه تر مشرق پورې سرحدی قبائيلی علاقو سره برابره
پرته وی. ۸ په بنی اِسرائيلو کښې به دا زمکه د هغهٔ ملکيت
وی. او زما شهزادګان به نور زما په خلقو ظلم نهٔ کوی، خو
د بنی اِسرائيلو قوم ته به اجازت ورکړی چې د خپلو قبيلو
پاتې شوې زمکه قبضه کړی."

## د شهزاده دپاره احکامات

۹ "مالِک قادر مطلق خُدائ داسې فرمائی، تاسو کافی لرې
لاړئ، اے د بنی اِسرائيلو شهزادګانو. خپل شرارت او ظلم
پريږدئ او هغه څهٔ وکړئ څهٔ چې د اِنصاف او د صداقت
وی. زما د خلقو نه د زمکو قبضه کول بند کړئ، مالِک قادر
مطلق خُدائ فرمائی. ۱۰ تاسو له په کار دی چې صحيح
تله، صحيح پيمانه او صحيح پاويزه استعمال کړئ. ۱۱
حومر دې ستاسو دپاره د ناپ تول معياری پيمانه وی. ايفه
او بَت دواړه د حومر لسمه حِصه ده. ۱۲ د تول دپاره

معیاری پیمانه به د سپینو زرو سیکه وی او یوه سیکه به شل جیرې وی. او شپېتهٔ سیکې به د یوې منا په اندازه وی.“

## نذرانې او مقدسې ورځې

۱۳ ”دا هغه خاص تحفه ده چې تاسو به يې پېش کړئ يعنې، د ايفه شپږمه حِصه د غنمو د هر يو حومر نه او د ايفه شپږمه حِصه د اوربشو د هر يو حومر نه پېش کړئ. ۱۴ د تېلو مقرر شوې حِصه، چې په بَت ناپ شوی وی، دا به د هر کُر نه د يو بَت لسمه حِصه وی، په دې کښې لس بَته يا يو حومر وی او لس بَته د يو حومر برابر وی. ۱۵ هم داسې به د بنی اِسرائيلو د څرن د ځائ نه، د دوو سوو ګډو د رمې نه يو ګډ واخستلے شی. دا به د غلې د نذرانې، سوزېدونکې نذرانې او د سلامتئ د نذرانې دپاره استعمال کړئ او د خلقو دپاره يې کفاره کړئ، مالِک قادر مطلق خُدائ دا فرمائی. ۱۶ د مُلک ټول خلق به په دې خاصو هديو کښې حِصه د اِسرائيل د شهزاده د استعمال دپاره ورکړی. ۱۷ دا به د شهزاده ذمه واری وی چې سوزېدونکې نذرانې، د غلې نذرانې او د څښلو نذرانې په اخترونو، نوې مياشت او په سبت کښې او د بنی اِسرائيل قوم په ټولو مقرر شوو مېلو کښې پوره کړی. هغه به د ګناه نذرانې، د غلې نذرانې، سوزېدونکې نذرانې، او د سلامتئ نذرانې پوره کړی، او د بنی اِسرائيلو قوم دپاره به يې کفاره کړی.“

## اخترونه

۱۸ ”مالِک قادر مطلق خُدائ داسې فرمائی، د وړومبی

میاشتې په اوله ورځ تاسو به يو ځوان غوَيے چې بېعيبه وى
واخلئ او مقدس ځائ به پاک کړئ. ۱۹ اِمام به لږه وينه د
ګناه د نذرانې نه راواخلى او دا به د خُدائ د کور د دروازې
په درشل واچوى، د قربانګاه د برنى حصې په څلور واړو
ګوټونو، او د خُدائ د کور د دننه دربار په چوکاټونو به يې
واچوى. ۲۰ تاسو به هم داسې د مياشتې په اوومه ورځ د
هغه چا دپاره وکړئ د چا نه چې غېر ارادې يا په ناپوهئ
کښې ګناه وشى، نو تاسو به د خُدائ د کور دپاره کفاره پېش
کړئ. ۲۱ تاسو د وړومبئ مياشتې په څوارلسمه ورځ د فسح
اختر شروع کړئ، دا اختر به د اوو ورځو دپاره وى، په دې
دوران کښې به تاسو بغېر د خمبيرې روټئ خورئ. ۲۲ په
هغه ورځ به شهزاده يو غوَيے د خپلې ګناه او د خلقو د ګناه
د کفارې دپاره پېش کړى. ۲۳ مالِک خُدائ ته به هغه هره
ورځ د اختر د دې اوو ورځو په دوران کښې اووۀ غوَيان او
اووۀ ګډان چې ټول بېعيبه دى د سوزېدونکې نذرانې دپاره
پېش کوى او نر چېلے به د ګناه د نذرانې دپاره پېش کوى.
۲۴ هغه به هر غوَيى او ګډ سره يوه ايفه د غلې نذرانه پېش
کوى، هر ايفه سره به څلور ليټره تېل هم پېش کوى. ۲۵ د
اختر د دې اوو ورځو په دوران کښې، کوم چې د اوومې
مياشتې په پينځلسمه ورځ شروع کيږى، هغه به هم داسې
نذرانې د ګناه د نذرانې، د سوزېدونکې نذرانې، د غلې او د تېلو
نذرانې پېش کړى.“

# ۴۶

۱ ”مالِک قادر مطلق خُدائ داسې فرمائى چې، د
دننه دربار دروازه کومه چې د نمرخاتۀ په طرف ده هغه دې د
کار شپږ واړو ورځو دپاره بنده وى، خو د سبت په ورځ او د

نوې میاشتې په ورځ به دا کولاو وی. ۲ شهزاده دې دربار ته د بهر د طرف د برنډې د لار نه ورننوځی او د دروازې چوکاټ سره دې ودرېږی. اِمامان دې خپلې سوزېدونکې قربانئ وکړی او د سلامتیا نذرانې دې پېش کړی. هغه دې د دروازې په درشل کښې عبادت وکړی او بیا دې هغه بهر لاړ شی. خو دروازه به تر ماښام پورې کولاو وی. ۳ د هر سبت په ورځ او د هرې نوې میاشتې په ورځ دې د دې مُلک خلق د دروازې په درشل کښې د مالِک خُدائ په حضور کښې عبادت وکړی. ۴ سوزېدونکې نذرانه چې شهزاده یې مالِک خُدائ ته د سبت په ورځ پېش کوی دا به شپږ نران ګډوری او یو ګډ وی، ټول به بې‌عیبه وی. ۵ د غلې نذرانه چې د ګډ سره ورکوی هغه به یوه ایفه وی او د ګډورو سره به په خپله خوښه د غلې نذرانه ورکړی، هر یو ایفه سره به څلور لیټره تېل پېش کړی. ۶ د نوې میاشتې په ورځ به هغه یو غوَیے، شپږ ګډوری او یو ګډ پېش کړی چې ټول بې‌عیبه وی. ۷ هغه به یوه ایفه د غلې نذرانه د غوَیی سره پېش کړی، او یوه ایفه به ګډ سره، او د ګډورو سره چې څومره غواړی هغه هومره دې ورکړی، او هرې یوې ایفې سره دې څلور لیټره تېل پېش کړی. ۸ کله چې شهزاده ننوځی، هغه به د برنډې د لارې نه دننه لاړ شی، او په هم هغه لار به هغه بهر راشی. ۹ کله چې د مُلک خلق د مالِک خُدائ وړاندې په مقررو اخترونو کښې راشی، هغه څوک چې په شمالی دروازه د عبادت دپاره راشی نو هغه به په جنوبی دروازه بهر لاړ شی، او هغه څوک چې په جنوبی دروازه راننوځی هغه به په شمالی دروازه باندې بهر لاړ شی. یو کس به هم په هغه دروازه واپس نۀ ځی په کومه چې راغلی دی، خو هر یو به په

مخالف دروازه بهر وځی. ۱۰ شهزاده به هم هغوئ سره یو ځائ دننه ځی کله چې هغوئ دننه ځی، او بهر به راوځی کله چې هغوئ بهر راوځی. ۱۱ په اخترونو او مقرر شوو مېلو کښې، د غلې نذرانه به یو غوَیی سره یوه ایفه وی، یوه ایفه به د ګډ سره وی، او د ګډورو سره چې څومره غواړی هغه هومره دې ورکړی، او هرې یوې ایفې سره څلور لیټره تېل ورکړئ. ۱۲ کله چې شهزاده د خپلې خوښې نذرانه مالِک خُدائ ته پېش کوی، کۀ هغه سوزېدونکې نذرانه وی او یا د سلامتیٔ نذرانه وی، هغه دروازه چې مخ یې نمرخاتۀ طرف ته دے هغه به د هغۀ دپاره کولاو کړے شی. هغه به خپله سوزېدونکې نذرانه او یا د سلامتیٔ نذرانه داسې پېش کړی څنګه چې هغه د سبت په ورځ کوی. بیا به هغه بهر لاړ شی، او د هغۀ د بهر تلو نه وروستو، به دروازه بنده کړے شی.“

## د هرې ورځې نذرانه

۱۳ ”تاسو به هره ورځ د یو کال بېعیبه ګډورے مالِک خُدائ ته د سوزېدونکې نذرانې دپاره پېش کوئ، تاسو به ضرور یو سحر بل سحر دا پوره کوئ. ۱۴ تاسو به روزانه یو سحر بل سحر د غلې نذرانه پوره کوئ، چې د یوې ایفې شپږمه به وی او پاو باندې یو لیټر تېلو سره به اوړۀ واغږئ. مالِک خُدائ ته د دې غلې د نذرانې پېش کولو حکم د تل دپاره دے. ۱۵ نو د ګډُوری، د غلې او د تېلو نذرانې به هر سحر په مسلسل توګه د سوزېدونکې نذرانې دپاره پېش کیږی.“

## شهزاده او د هغهٔ زمکه

١٦ ”مالِک قادر مطلق خُدائ داسې فرمائی، کهٔ چرې شهزاده د خپل وراثت نه یوه تحفه خپلو زامنو کښې یو زوئ له ورکړی، دا به د هغهٔ د نسل وی، او دا به په میراث کښې د هغوئ جائیداد وی. ١٧ خو کهٔ چرې هغه د خپل وراثت نه یوه تحفه خپل یو نوکر له ورکړی، نو نوکر سره به دا تر د آزادئ د کال پورې وی، خو بیا به دا واپس د شهزاده شی. د هغهٔ میراث صرف د هغهٔ د زامنو دے. ١٨ شهزاده به د خلقو نه میراث نهٔ اخلی، هغوئ به د خپل جائیداد نه نهٔ شړی. هغه به خپلو زامنو ته د خپل میراث نه جائیداد ورکوی، تر دې چې زما په خلقو کښې یو هم د خپل جائیداد نه محرومه نهٔ شی.“

## د مالِک خُدائ د کور باورچی خانې

١٩ بیا هغه سړی زهٔ د دروازې په خوا کښې مقدسو کوټو ته بوتلم چې مخې یې د شمال ته طرف وې، کومې چې د اِمامانو وې، او ما ته یې د نمر پرېوتو طرف ته ځائ وښودلو. ٢٠ هغهٔ ما ته ووئیل چې، ”دا هغه ځائ دے چرته به چې اِمامان د ګناه د تاوان نذرانې او د ګناه نذرانې او د غلې نذرانې پخوی، ترڅو بهرنی دربار ته د مقدسو څیزونو د راوړلو نه منع شی هسې نه چې خلق مقدسو څیزونو له لاس وروړی او خپل ژوند په خطره کښې واچوی.“ ٢١ بیا هغهٔ زهٔ بهرنی دربار ته راوستلم او په دې کښې یې ګوټ په ګوټ وګرځولم او ما په هر ګوټ کښې بل دربار ولیدو. ٢٢ د بهرنی دربار په څلور واړو ګوټونو کښې یو بل سره انښتی دربارونه وُو، چې

اویا فټه اوږد او دوه پنځوس نیم فټه پلن وُو او په څلور واړو
ګوټونو کښې هر یو دربار یو شان برابر وو. (۲۳) دننه د څلور
واړو دربارونو ګېرچاپېره د کاڼی یوه چجه وه، د چجې لاندې
ګېرچاپېره د اور بلېدلو نغری جوړ وُو. (۲۴) هغۀ ما ته ووئیل
چې، ”دا هغه باورچې خانې دی چرته به چې هغه څوک چې د
خُدائ په کور کښې خِدمت کوی د خلقو قربانۍ پخوی.“

## د مالِک خُدائ د کور نه دریاب بهېدل

۴۷ (۱) هغه سړی زۀ بیا د مالِک خُدائ د کور دروازې ته
راوستلم، او ما ولیدل چې د خُدائ د کور د درشل د لاندې نه
اوبۀ د نمرخاتۀ طرف ته راروانې وې ځکه چې د مالِک خُدائ
د کور مخه نمرخاتۀ طرف ته وه. اوبۀ د مالِک خُدائ د کور
د جنوب خوا نه ښکته د قربان‌ګاه جنوب خوا ته راروانې
وې. (۲) نو بیا هغۀ زۀ په شمالی دروازه باندې بهر
راوویستلم او زۀ یې بهر راتاو کړم بهرنۍ دروازې ته یې بوتلم
چې مخه یې مشرق ته وه، او اوبۀ د جنوب طرف نه
رابهېدلې. (۳) کله چې هغه سړے فیته په لاس نمرخاتۀ طرف
ته لاړو، نو هغۀ نیم کیلومیټر ناپ وکړو او بیا یې زۀ په اوبو
کښې بوتلم چې د ګیټو پورې وې. (۴) هغۀ نور نیم کیلومیټر
ناپ وکړو او زۀ یې په اوبو کښې بوتلم چې تر ګوډو پورې
ډوبې وې. هغۀ بیا نور نیم کیلومیټر ناپ وکړو او زۀ یې په
اوبو کښې بوتلم چې دا تر ملا پورې وې. (۵) هغۀ نور نیم
کیلومیټر ناپ وکړو، خو اوس دا سیند شو چې زۀ په کښې نۀ
شوم اوړېدلے، ځکه چې اوبۀ اوچتې وې او لامبلو ته کافی
ډوبې وې، داسې سیند ترې جوړ شو چې هیڅوک په کښې نۀ

شُو اوړېدلے. ۶ بیا هغهٔ ما نه تپوس وکړو چې، ”اے بنی
آدمه، تهٔ دا وينې؟“ نو بيا هغهٔ زهٔ واپس د درياب غاړې ته
بوتلم. ۷ کله چې زهٔ هلته ورسېدم، نو ما د سيند په دواړو
طرفونو ډېرې ونې وليدلې. ۸ هغهٔ ما ته ووئيل چې، ”دا
اوبهٔ نمرخاتهٔ مُلک طرف ته بهيږی او د اُردن وادۍ ته ځی،
چرته چې دا مړ درياب ته ورپرېوځی. کله چې دا مړ درياب
ته ورښکته شی، نو په هغې کښې مالګينې اوبهٔ تازه شی. ۹
د ژوندو ځناورو سيلونه به هلته اوسی چرته چې سيند بهيږی.
هلته به ډېر زيات کبان وی، ځکه چې دا اوبهٔ هلته بهيږی او
مالګې اوبهٔ تازه کوی، نو چې چرته دا سيند بهيږی هر څهٔ به
هلته ژوندی پاتې شی. ۱۰ ماهيګران به د سيند په غاړه ولاړ
وی، د عين‌جدی نه تر عين‌عجليم پورې به د کبانو د جالونو
خوړولو دپاره ځايونه وی. لکه د غټ سمندر د کبانو په شان
به په کښې ډېر قسمونه کبان وی. ۱۱ خو دلدلې او ډنډونه به
تازه نهٔ شی، دا به د مالګې دپاره پاتې شی. ۱۲ د هر قسم
مېوې ونې به د سيند په دواړو غاړو غټې شی. د دې پاڼې به نهٔ
وچيږی، او نهٔ به د دې مېوې وچيږی. هره مياشت به دا مېوه
نيسی، ځکه چې د مالِک خُدائ د مقدس کور نه دې ته اوبهٔ
بهيږی. د دې مېوه به د خوراک دپاره او پاڼې به يې د شفا
دپاره استعماليږی.“

## د مُلک سرحدونه

۱۳ مالِک قادر مطلق خُدائ داسې فرمائی چې، ”دا هغه
سرحدونه دی په کومو به چې تهٔ زمکه د بنی اِسرائيلو د
دولسو قبيلو په مينځ کښې ميراث دپاره تقسيم کړې. د يوسف
د اولاد دپاره به دوه حصې وی. ۱۴ تهٔ دا د هغوئ په مينځ

کښې برابر تقسیم کړه، ځکه چې ما قسم خوړلے وو چې دا
به ستاسو پلار نیکهٔ له ورکړم، دا زمکه به ستاسو میراث
شی. ۱۵ دا به د دې زمکې سرحد وی، شمال طرف ته به دا
د لوئ سمندر نه د حتلون په لار لیبوحمات نه صداد ته تېر
شی، ۱۶ بیا به دا د بیروته او سبریم کوم چې د دمشق او
حمات د سرحد په مینځ کښې پروت دے، او داسې تر
حزرهاتیکان پورې، کوم چې د حوران سرحد سره دے. ۱۷
دا سرحد به د سمندر نه تر حصر عینان پورې، د دمشق
شمالی سرحد سره، او د حمات سرحد سره شمال طرف ته
تلے وی. دا به شمالی سرحد وی. ۱۸ د نمرخاتهٔ طرف
سرحد به د حوران او دمشق په مینځ کښې، اُردن سره د
جِلعاد او د اِسرائیل د خاورې په مینځ کښې، مشرقی سمندر
او داسې تر تمر پورې تلے وی. دا به مشرقی سرحد وی. ۱۹
په جنوبی طرف کښې دا به د تامار نه د مریبه قادِس د اوبو
پورې وی، بیا به د مِصر د وادۍ نه د لوئ سمندر پورې وی.
دا به جنوبی سرحد وی. ۲۰ د مغرب طرف ته به د لوئ
سمندر سرحد لیبوحمات ته مخامخ وی. دا به مغربی سرحد
وی. ۲۱ تاسو به دا زمکه په خپل مینځ کښې د بنی اِسرائیلو
د قبیلو په مطابق تقسیم کړئ. ۲۲ دا به تاسو د خپل ځان
دپاره او هغه غیر مُلکیانو دپاره چې ستاسو په مینځ کښې
اوسیږی او د چا چې ماشومان دی د میراث په توګه تقسیم
کړئ. تاسو به هغوئ د پیدائشی بنی اِسرائیلو په شان ګڼئ،
تاسو سره به هغوئ ته هم میراث د بنی اِسرائیلو د قبیلو په
شان ورکړے شی. ۲۳ په هر یو قوم کښې چې غیر مُلکی
خلق اوسیږی، هلته به تاسو هغوئ له خپل میراث ورکړئ، دا
مالِک قادر مطلق خُدائ فرمائی.“

## د زمکې تقسيمول

۴۸ ۱ ”دا هغه قبيلې دی چې نومونه يې دلته ليکلے
شوی دی، د شمالی سرحد سره به د دان يوه حِصه وی، دا
به د حتلون په لار ليبوحمات پورې وی، حصر عينان او د
دمشق شمالی سرحد به حمات پسې وی دا به د مشرق طرف
نه د مغرب طرف ته د دې د سرحد حِصه وی. ۲ د آشر به
يوه حِصه وی، د دې سرحد به د دان حدودو سره د مشرق
نه مغرب پورې وی. ۳ يوه حِصه به د نفتالی وی، دا به د
آشر د علاقې د مشرق نه مغرب پورې وی. ۴ يوه حِصه به
د منسی د قبيلې وی، دا به د نفتالی د علاقې د مشرق نه
مغرب پورې وی. ۵ يوه حِصه به د اِفرائيم وی، دا به د
منسی د علاقې د مشرق نه مغرب پورې وی. ۶ يوه حِصه
به د روبين وی، دا به د اِفرائيم د علاقې د مشرق نه مغرب
پورې وی. ۷ يوه حِصه به د يهوداه وی، دا به د روبين د
علاقې د مشرق نه مغرب پورې وی. ۸ د يهوداه د سرحد
سره چې کومه علاقه د مشرق نه تر مغرب پورې ده دا به هغه
حِصه وی چې تهٔ يې د خاص تحفې په طور پېش کړې. دا به
دولس نيم کيلوميټره پلنه وی، او د دې اوږدوالے د مشرق نه
مغرب پورې به د يوې قبائيلی حصې برابر وی، د مالِک
خُدائ کور به د دې په مينځ کښې وی. ۹ هغه خاص
حِصه چې تهٔ يې مالِک خُدائ ته وقف کوې دا به دولس نيم
کيلوميټره اوږده او لس کيلوميټره پلنه وی. ۱۰ دا به د
اِمامانو دپاره مقدسه حِصه وی. دا به په شمالی طرف دولس
نيم کيلوميټره اوږده وی، او په مغربی طرف به پينځهٔ
کيلوميټره پلنه وی، مشرق طرف ته به پينځهٔ کيلوميټره پلنه او

جنوبی طرف ته به دولس نیم کیلومیټره اوږده وی. د دې په
مینځ کښې به د مالِک خُدائ مقدس کور وی. ۱۱ دا به د
مقدسو اِمامانو، د صدوقیانو دپاره وی، څوک چې زما په
خِدمت کولو کښې وفادار وُو او بې لارې نهٔ شول څنګه چې
لیویان شول کله چې بنی اِسرائیل بې لارې شول. ۱۲ دا به
هغوئ ته د زمکې د مقدسې حصې نه خاص تحفه، او د ټولو
نه مقدسه حِصه وی، د لیویانو د علاقې سرحد سره به وی.
۱۳ د اِمامانو علاقې سره نزدې، لیویانو ته به هم دولس نیم
کیلومیټره اوږده او پینځهٔ کیلومیټره پلنه زمکه ورکړے شی.
د دې مکمل اوږدوالے به دولس نیم کیلومیټره او پلنوالے به
یې پینځهٔ کیلومیټره وی. ۱۴ هغوئ به نهٔ دا خرڅوی او نهٔ به
یې بدلوی. دا ښهٔ زمکه ده او نهٔ دی په کار چې نورو لاسونو
ته لاړه شی، ځکه چې دا مالِک خُدائ ته مقدسه ده. ۱۵ پاتې
دولس نیم کیلومیټره پلنه او دوه نیم کیلومیټره اوږده زمکه به
د ښار د عام استعمال دپاره، د کورونو او د څرن ځائ دپاره
وی. ښار به د دې په مینځ کښې وی، ۱۶ او د دې ناپونه به
دا وی، شمال طرف به پاو باندې دوه کیلومیټره وی، جنوب
طرف به پاو باندې دوه کیلومیټره وی، مشرق طرف به پاو
باندې دوه کیلومیټره وی، او د مغرب طرف به هم پاو باندې
دوه کیلومیټره وی. ۱۷ د ښار دپاره د څرن ځائ به شمال
ته یو نیم سل ګزه مربع وی، جنوب ته به یو نیم سل ګزه
مربع وی، مشرق ته به یو نیم سل ګزه مربع وی، او مغرب ته
به هم یو نیم سل ګزه مربع وی. ۱۸ کومه پاتې علاقه چې د
مقدسې حصې سره لګېدلې ده او دې سره په اوږدو تلې ده،
دا به د مشرق طرف ته پینځهٔ کیلومیټره او د مغرب طرف ته
به هم پینځهٔ کیلومیټره وی. د ښار کارکوونکو دپاره به د دې

پېداوار خوراک ورکوی. ۱۹ د ښار کار کوونکی څوک چې
دا کَرى هغوئ به د بنى اِسرائيلو د ټولو قبيلو نه وى. ۲۰ دا
ټوله حِصه به هر طرف ته دولس نيم کيلوميټره مربع وى. د
خاص تحفې په طور به تاسو مقدسه حِصه، سره د ښار د
جائيداد يو طرف ته کړئ. ۲۱ څۀ چې پاتې وُو د هغه علاقې
په دواړو طرفونو کښې د مقدسې برخې سره او د ښار
جائيداد دا به د شهزاده ملکيت وى. دا به د مشرق طرف ته
دولس نيم کيلوميټره د مقدسې حصې نه تر مشرقى سرحد
وى، او د مغرب طرف نه به دولس نيم کيلوميټره تر مغربى
سرحده وى. دا دواړه علاقې چې د قبائيلى حِصو اوږدوالى
پورې غزېدلې دى دا به د شهزاده ملکيت وى، او مقدسه
حِصه به سره د خُدائ د کور د مقدس ځائ د دې په مينځ
کښې وى. ۲۲ نو د ليويانو جائيداد او د ښار جائيداد به د
دې علاقې په مينځ کښې پروت وى چې د شهزاده ملکيت
دے. کومه علاقه چې د شهزاده ملکيت دے هغه به د يهوداه
او د بنيامين د سرحد په مينځ کښې پرته وى.“

## د نورو قبيلو زمکه

۲۳ ”نو دغه شان به د نورو قبيلو وى، د بنيامين به يوه
حِصه وى، دا به د مشرق طرف نه تر مغرب طرف پورې
وى. ۲۴ د شمعون به يوه حِصه وى، دا به د مشرق نه تر
مغرب پورې د بنيامين د علاقې سرحد وى. ۲۵ د يساکار به
يوه حِصه وى، دا به د مشرق نه تر مغرب پورې د شمعون د
علاقې سرحد وى. ۲۶ د زبولون به يوه حِصه وى، دا به د
مشرق نه تر مغرب پورې د يساکار د علاقې سرحد وى. ۲۷
د جاد به يوه حِصه وى، دا به د مشرق نه تر مغرب پورې د

زبولون د علاقې سرحد وی. ۲۸ د جاد د زمکې جنوبی پوله
به د تامار د جنوب نه د مريبه قادِس د اوبو پورې وی، بيا به
د مِصر د وادۍ سره لوئ سمندر پورې تلې وی. ۲۹ دا هغه
زمکه ده چې تاسو به يې د ميراث په طور د بنی اِسرائيلو د
قبيلو په مينځ کښې تقسيم کړئ، او دا به د هغوئ حِصه وی،
مالِک قادر مطلق خُدائ فرمائی.“

## د ښار دروازې

۳۰ ”دا به د ښار نه د وتو دروازې وی. د شمال طرف دېوال
کوم چې پاو باندې دوه کيلوميټر اوږد دے، ۳۱ په دې کښې
به درې دروازې چې د بنی اِسرائيلو د قبيلو په نومونو ياديږی.
د روبين دروازه، د يهوداه د دروازه، او د ليويانو دروازه. ۳۲
مشرق طرف ته چې کوم پاو باندې دوه کيلوميټره اوږد دېوال
دے په هغې کښې به درې دروازې وی، د يوسف دروازه، د
بنيامين دروازه او د دان دروازه. ۳۳ د جنوب طرف ته، چې
کوم پاو باندې دوه کيلوميټره دېوال دے، په کښې به درې
دروازې وی چې به د شمعون دروازه، د يساکار دروازه او د
زبولون دروازه ياديږی. ۳۴ مغرب طرف ته چې کوم پاو
باندې دوه کيلوميټره اوږد دېوال دے په کښې به درې
دروازې وی، د جاد دروازه، د آشر دروازه او د نفتالی
دروازه. ۳۵ ټوله فاصله ګېرچاپېره به نهۀ کيلوميټره وی. او
د هغې ورځې نه وروستو به د دې ښار نوم دا وی، مالِک
خُدائ هلته موجود دے.“

pashtobibles.org © يوسفزی ۲۰۱۹